دَ سنت اهمیت او مقام، دَ بدعت قباحت او معاشره کښې مروج د بعضے بدعاتو په
تردید باندے مشتمل یو مختصر او عام فهم کتاب کوم چې دَ عوامو او خواصو دَ پاره یو شان فائده مند دے.





# سبیل السنة لرد البدعة

## اهمیت د سنت او رد د بدعت

پښتو


مرتب
مولانا مفتی محمد ایاز درّانی صاحب حفظه الله



العلم پبلیکیشنز

﴿ټول حقوق په حق دَ ناشر محفوظ دي﴾

☆☆☆

دَ کتاب نوم: سبیل السنه لرد البدعه

مصنف: مولانا مفتی محمد ایاز

صفحات: ۱۰۲

کمپوزنګ اینډ ډیزائننګ: سمیع الله شبقدر خیرآباد چوکی 0346-9857457

تعداد: ۱۰۰۰

تاریخ اشاعت: ذوالحجه ۱۴۳۰ھ دسمبر ۲۰۰۹ء

☆☆☆

ناشر:

اشاعت اکیډمی اینډ پرنټنګ ایجنسی

عبدالغنی پلازه محلّه جنګی پیشاور

091-5515698, 0300-9391643

# فهرست مضامين


- ☆ مقدمه ---------- 2
- ☆ دَ شرعے دلائل ---------- 4
- ☆ اهل سنت والجماعت څوک دی؟ ---------- 8
- ☆ زمونږ دین کامل او مکمل دے ---------- 9
- ☆ دَ سنت اهمیت او مقام ---------- 14
- ☆ نبی کریم ﷺ دَ محبت معیار ---------- 15
- ☆ صحابه کرامؓ او اتباع سنت ---------- 17
- ☆ دَ نیک عمل صحیح مطلب ---------- 22
- ☆ دَ نبی کریم ﷺ تابعداری پریخودل ده ایمان نه خلاف دی ---------- 25
- ☆ دَ کامل ایمان شرائط ---------- 28
- ☆ دَ یو منافق واقعه ---------- 30
- ☆ دَ نبی کریم ﷺ تابعداری په فعل او ترک دواړو کښی ده ---------- 33
- ☆ دَ صحابوؓ دَ سنت تابعداری ---------- 35
- ☆ دَ بدعت قباحت ---------- 40
- ☆ دَ بدعت معنیٰ او مطلب ---------- 44
- ☆ دَ بدعت او فسق په مینځ کښے فرق ---------- 49
- ☆ یو څو مشهور بدعات او رسومات ---------- 52
  - ☆ ذکر او دعا ---------- 55
  - ☆ ذکر بالجهر ---------- 57
  - ☆ دَ سنتونه پس اجتماعی دعا ---------- 59
  - ☆ حیله اسقاط ---------- 65

☆ په قبرونو باندے گلونه او غلافونه اچول، ډیوے،شمعے، اگربتئی بلول،قبرونه پخول او گنبد پرے جوړول-- 68
☆ عرس او میلاد مناوول------------------------ 70
☆ ایصالِ ثواب دَ پاره ورځ مقررول---------------- 74
☆ دَ جنازے مونځ نه پس اجتماعی دعا کول---------- 78
☆ دَ محرم بدعات او خرافات---------------------- 80
☆ دَ صفر دَ میاشتے آخری چارشنبه کښے چوری کول-- 86
☆ په رجب کښے دَکونډو بدعت------------------- 89
☆ دَ شعبان بدعات------------------------------ 93
☆ زمونږ فرض---------------------------------- 95

☆☆☆

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الۡاَنۡبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصۡحَابِهِ الۡاَتۡقِيَآءِ۔ امابعد!

الله تعالیٰ چه دَ کله نه انسان پیدا کړے دے او دے دنیا ته رالیږلے دے نو هم دَ هغے ورځے نه ئے دَ ژوند تیرولو دَ پاره یو قانون، آئین او دستور حیات هم ورسره ورکړے دے۔ قرآن کښے دی:

﴿وَاِذۡ قَالَ رَبُّكَ لِلۡمَلَآئِكَةِ اِنِّىۡ جَاعِلٌ فِى الۡاَرۡضِ خَلِيۡفَةً﴾[بقره:۳۰]

"کله چه ستا رب فرشتو ته (دَ اعلان په طور) اووے چه زه دَ زمکے په مخ یو خلیفه (حاکم، فیصله کوؤنکے، خپل قانون نافذونکے) پیدا کوم۔"

یعنی الله تعالیٰ په خپل دستِ قدرت سره سیدنا آدم علیه السلام په دنیا کښے خلیفه مقررولو په غرض پیدا کړلو، او څه وخته پورے ئے په جنت کښے سره دَ خپلے بی بی حوا علیها السلام اوساتلو۔ بیا چه کله ئے تر مقرر وخت پورے جنت (باغ) کښے دَ اوسیدلو نه پس خپلے (دَ خلافت) ډیوټی باندے لګولو دَ پاره زمکے ته راولیګلو نو هغه وخت ورله الله تعالیٰ یو دستور حیات هم ورکړو۔"

﴿قُلۡنَا اهۡبِطُوۡا مِنۡهَا جَمِيۡعًا فَاِمَّا يَاۡتِيَنَّكُمۡ مِّنِّىۡ هُدًى فَمَنۡ تَبِعَ هُدَاىَ فَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُوۡنَ۔﴾ [بقره:۳۸]

"مونږه اووے چه تاسو ټول دَ دے ځائے نه لاړ شئی۔ پس که چرے ځما دَ طرفنه تاسو ته څه هدایت (کتاب، دستورِ حیات) راشی نو چا چه ځما دَ هغه هدایت پیروی اوکړه نو په داسے خلقو به نه څه ویره وی او نه به هغوی (په تیر شوی ژوند باندے) غمژن کیږی۔"

بل ځائے کښې دا شان ارشاد دے :

﴿يٰبَنِىٓ اٰدَمَ اِمَّا يَاْتِيَنَّكُمْ رُسُلٌ مِّنْكُمْ يَقُصُّوْنَ عَلَيْكُمْ اٰيٰتِىْ فَمَنِ اتَّقٰى وَاَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ۔﴾ [اعراف:٣٥]

" اے دَ آدم علیم السلام اولاده! کله چه زمونږ رسولان تاسو له درشی او زمونږه آیتونه تاسو ته اوروی ( نو په هغوی باندے ایمان راؤړے ولے چه) څوک چه په هغوی باندے ایمان راؤړلو سره دَ الله نه اویریدلو او خپل حالت یعنی عمل ئے درست اولرلو نو په داسے خلقو به نه څه ویره وی او نه به هغوی غمژن شی۔"

غرض دا چه دا هدایت او آیات خداوندی به وقتا فوقتا دَ مختلفو انبیاؤ په ذریعه کله دَ صحیفو او کله دَ کتابونو په صورت کښے راتلل حتی چه آخری اسمانی کتاب او انسانانو دَ پاره مکمل ضابطه حیات " قرآن " نازلولو سره الله تعالیٰ په بنی نوع انس وجن باندے دَ خپل نعمت اتمام اوکړو: ﴿اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِىْ وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا۔﴾ [مائده:٣]

" نن ما تاسو دَ پاره ستاسو دین کامل کړو او خپل نعمتونه می په تاسو باندے پوره کړل او تاسو دَ پاره می اسلام په طور دَ دین خوښ کړو۔"

او ورسره ئے دَ قرآن معلم او شارح اول جناب نبی کریم ﷺ هم راؤلیګلو ځنګه چه دَ باری تعالیٰ ارشاد دے:

﴿لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ بَعَثَ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِهٖ وَيُزَكِّيْهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَاِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِىْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ﴾ [آل عمران:١٦٤]

" یقینا الله تعالیٰ په مؤمنانو باندے لوئے احسان اوکړو چه دَ هغوی نه ئے یو پیغمبر راولیګلو څوک چه هغوی ته دَ الله آیتونه اوروی او هغوی لره پاکوی او دَ الله کتاب او سنت ورته ښائی ، اګر چه دَ دے نه مخکښے دا خلق په ښکاره ګمراهئی کښے پراته وو۔"

نو نبی کریم ﷺ دَ خپلے اسوه حسنه (عمل او سنت) په ذریعه دَ دے قانونِ خداوندی یعنی قرآن تشریح او وضاحت خلقو ته اوکړو۔"

دَ دے بعثت نبوی ﷺ مقصد طرفته اشارے الله تعالیٰ داسے فرمائی :

﴿وَاَنْزَلْنَا اِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ اِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ﴾[نحل:٤٤]

" او مونږه ستا طرفته ذکر یعنی قرآن دے دَ پاره درلیګلے دے چه ته (ﷺ) خلقو ته دَ دغه نازل شوی کتاب تشریح او وضاحت اوکړے او دَ پاره دَ دے چه دوی ورته سوچ اوکړی۔"

اوس چونکه دَ الله تعالیٰ دَ طرفنه دَ ژوند تیرولو دَ پاره قانون او دستور دَ قرآن او سنت په شکل کښے موجود دے نو مونږ له هم دَ دے مطابق په دنیا کښے ژوند تیرول پکار دی ، نه چه دَ خپلے مرضئی او خپلے جوړے کړے شوے طریقے او قانون مطابق۔ دَ همدے نوم دین اسلام دے۔ او دَ شریعت اسلام بنیاد په څلورو څیزونو باندے ایښے شوے دے:

## ﴿دَ شرعے دلائل﴾

(۱) قرآن (۲) سنت رسول الله ﷺ (احادیث صحیحه) (۳) دَ صحابه کرامو رض عمل (۴) او دَ سلفو صالحینو او مجتهدینو امامانو (دَ قرآن او سنت په رنړا کښے) قیاس او اجتهاد۔

اوس که چرے یو قول او فعل (خبره او کار) دَ دین په دے څلورو

اصـولـو کښـے مـوجـود وی نو هغه دین او ثواب دے په هغے باندے تلل پکار دی ۔ څنګه چه الله تعالیٰ حکم فرمائیلے دے۔

﴿یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡۤا اَطِیۡعُوا اللّٰهَ وَاَطِیۡعُوا الرَّسُوۡلَ وَاُولِی الۡاَمۡرِ مِنۡکُمۡ فَاِنۡ تَنَازَعۡتُمۡ فِیۡ شَیۡءٍ فَرُدُّوۡهُ اِلَی اللّٰهِ وَالرَّسُوۡلِ اِنۡ کُنۡتُمۡ تُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ وَالۡیَوۡمِ الۡاٰخِرِ ذٰلِکَ خَیۡرٌ وَّاَحۡسَنُ تَاۡوِیۡلًا﴾ [نساء:۵۹]

اے ایمان والؤ ! دَ الله تابعداری کوئی او دَ رسول الله ﷺ ، او دَ اولو الامر تابعداری هم کوئ ، پس که چرے ستاسو په څه څیز کښے جګړه راشی نو هغه الله او رسول ﷺ طرفته یوسئی ، که چرے تاسو په الله باندے او په آخرت باندے ایمان لرئ ، دا ستاسو دَ پاره بهتره ده او دَ انجام په اعتبار سره ښه ده۔''

ابو عبد الله میمون بن مهران الحرومیؒ چه په تابعینو فقهاؤ کښے دے، هغوی دَ دے آیت ﴿فَرُدُّوۡهُ اِلَی اللّٰهِ وَالرَّسُوۡلِ﴾ په باره کښ وائی :

﴿اَلرَّدُّ اِلَی اللّٰهِ اِلٰی کِتَابِهٖ وَالرَّدُّ اِلٰی رَسُوۡلِهٖ اِذَا قُبِضَ اِلٰی سُنَّتِهٖ﴾

[کتاب الباعث لرد الحوادث:۷]

الله تعالیٰ طرفته اوړلو نه مراد قرآن طرفته رجوع کول ، او رسول الله ﷺ طرفته اوړلو نه مراد دَ نبی ﷺ دَ وفات نه پس دَ هغوی سنتو طرفته رجوع کول دی۔''

ثابته شوه چه دَ الله تعالیٰ تابعداریٔ نه مراد قرآن دے او دَ رسول الله ﷺ تابعداریٔ نه مراد دَ پیغمبر ﷺ سنت دی او دَ اولو الامر نه مراد دوه موخرالذکر (یعنی صحابه کرام او سلف صالحین او مجتهدین امامانؒ ) دی۔

دَ مفسر قرآن عبد الله بن عباسؓ نه دَ اولی الامر تشریح داسے منقوله ده:

﴿یَعْنِیْ اَھْلُ الْفِقْهِ وَالدِّیْنِ [اِلٰی اَنْ قَالَ] فَاَوْجَبَ اللّٰهُ طَاعَتَھُمْ﴾ [مستدرک:۱۲۳/۱]

چه دوی نه مراد اهل فقه او اهل دین (صحابهؓ او مجتهدین امامان) مراد دی (مخکښے فرمائی چه) الله تعالیٰ دَ دوی اطاعت واجب فرمائیلے دے۔"

عطاء بن ابی رباحؒ فرمائی:

﴿اُولُوالْاَمْرِ اُولُو الْعِلْمِ وَالْفِقْهِ﴾[دارمی:۴۰]

"اولی الامر نه مراد اهل علم او دَ فقهے عالمان مراد دی۔"

نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی:

﴿خَیْرُ النَّاسِ قَرْنِیْ ثُمَّ الَّذِیْنَ یَلُوْنَھُمْ ثُمَّ الَّذِیْنَ یَلُوْنَھُمْ﴾

" بهترین خلق هغه دی کوم چه زما په زمانه کښے دی (یعنی صحابه کرامؓ) بیا دَ هغوی نه پس والا (تابعینؒ) او بیا دَ هغوی نه پس والا (تبع تابعینؒ)

بل روایت کوم چه دَ سیدنا عمر فاروقؓ نه مروی دے په هغے کښے داسے ارشاد دے:

﴿اُوْصِیْکُمْ بِاَصْحَابِیْ ثُمَّ الَّذِیْنَ یَلُوْنَھُمْ ثُمَّ الَّذِیْنَ یَلُوْنَھُمْ ثُمَّ یَفْشُو الْکَذِبَ﴾ [مستدرک:۱۱۴/۱، ابو داؤد طیالسی:۷]

" زه تاسو ته دَ خپلو اصحابوؓ په باره کښے وصیت کوم (چه دَ دوی په نقش قدم باندے ځئی) بیا دَ هغوی په باره کښے وصیت کوم څوک چه هغوی سره یو ځائے دی (تابعینؒ) بیا دَ هغوی په باره کښے څوک چه هغوی سره یو ځائے دی (تبع تابعینؒ) او بیا به دَ دے (درے زمانو) نه پس دروغ عام شی۔"

اوس کـه چرے یو کار او عمل دَ دے څلورو اصولو نه ثابت نه وی بلکه دَ خپل طرف نه جوړ کړے شوے وی نو هغه دین نه دے بلکه بے دینی ، ګمراهئی او بغاوت دے چه دَ هغے نه بچ کیدل مونږ دَ پاره ډیر زیات اهم دی۔

الله تعالیٰ فرمائی:

﴿وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيْلِهِ﴾ [انعام:۱۵۳]

دَ الله دین (قرآن او سنت او اولوالامر) نه بغیر نورو څیزونو او لارو باندے مه ځےء ګنے دَ الله دَ دین نه به ګمراه شئی۔“

همدا اصل خبره ده دَ ګمراهئی نه دَ بچ کیدلو ۔ ولے چه اکثر خلق دَ دین دا څلور اصوله معیار نه ګنړی نو هغوی ګمراه شی۔ نو ځکه وائی چه دَ چا خبره اومنو؟ چا پسے لاړ شو؟ څوک یو خبره کوی او څوک بله ۔ دا ګمراه خلق هر یو دینی کار دَ دے څلورو څیزونو نه معلومولو په ځائے دَ خپل خواهش ،پلرونو ، نیکونو او دَ غیرو خلقو خبرو پسے لګیدلے وی او هغه دَ حق معیار ګنړی ، حالانکه دَ دے خلقو حال قرآن پاک په څه دا شان بیان فرمائی :

﴿وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْااِلٰى مَا اَنْزَلَ اللّٰهُ وَاِلَى الرَّسُوْلِ قَالُوْا حَسْبُنَا مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَ نَا اَوَلَوْ كَانَ اٰبَآؤُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ شَيْئًا وَلَا يَهْتَدُوْنَ﴾ [مائده:۱۰۴]

” او هر کله چه دوی ته اووئیلے شی چه کوم کتاب او شریعت الله تعالیٰ نازل کړے دے ، هغے طرفته او دَ الله رسول ﷺ طرفته رجوع اوکړئی نو دوی وائی چه په کومه طریقه باندے مونږه خپل پلار نیکه موندلی دی هم هغه مونږ دَ پاره کافی ده۔ (لیکن الله تعالیٰ دَ دوی په دے خبره باندے رد کوی او فرمائی ) چه اګر که دَ دوئ پلاران ،

نیکونه نه خو په څه باندے پو هیدل یعنی بے علمه وو او نه په سمه لاره باندے وو۔ نو آیا بیا به هم دا خلق هغوی پسے تلل کوی؟

## ﴿اهل السنت والجماعت څوک دی؟﴾

بهر حال هر یو کار لره قرآن او سنت ، صحابه کرامؓ او سلف صالحینؒ او مجتهدین امامانؒ لره معیار ګنړلو سره کول پکار دی او همدا دَ اهل سنت والجماعت والو طریقه ده۔ افسوس چه نن صبا هر څوک په شرکیاتو او بدعاتو او هندوانه رسوماتو کښے مبتلا خپل ځان ته اهل سنت والجماعت وائی لیکن حقیقتاً دَ اهل سنت نه په میلونو لرے وی ، اهل سنت دَ بدعاتو او رسوماتو کونکی ته نه وئیلے کیږی بلکه صرف متبع سنت سړے حقیقی اهل سنت والجماعت وی۔

شیخ عبد القادر جیلانیؒ دَ اهل سنت تعریف په دا شان کوی:

﴿فَعَلَى الْمُؤْمِنِ اِتِّبَاعُ السُّنَّةِ وَالْجَمَاعَةِ فَالسُّنَّةُ مَا سَنَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ وَالْجَمَاعَةُ مَا اتَّفَقَ عَلَيْهِ الصَّحَابَةُ فِىْ خِلَافَةِ الْاَئِمَّةِ الْاَرْبَعَةِ﴾[غنية الطالبين:۲۹۵]

په مؤمن باندے دَ اهل سنت والجماعت پیروی لازمه ده ۔ سنت هغه څیز دے کوم چه نبی کریم ﷺ (قولا ، فعلا ، تقریرا) مسنون ګرځولے وی او جماعت هغه (احکام دی) کومو باندے چه دَ صحابه کرامؓ دَ خلفائے اربعهؓ په دور کښے اتفاق شوے وی۔"

همدغه شان علامه سید سند علی بن محمد الجرجانی الحنفیؒ لیکی:

﴿اَهْلُ السُّنَّةِ وَالْجَمَاعَةِ مَذْهَبُهُمْ خَالٍ عَنْ بِدَعِ هٰٓؤُلَاءِ۔ [شرح مواقف:۷٦٤]

" صرف دَ اهل سنت والجماعت داسے ډله ده چه دَ دوی مذهب دَ بدعاتو نه خالی دے۔"

دے ته وائی اهل سنت والجماعت ۔ څوک چه دَ نبی کریم ﷺ او دَ صحابهؓ دَ سنت پابند او دَ هر قسمه بدعاتو نه پاک او صاف او بچ کیدونکی وی۔ دا نه چه صرف دَ اهل سنت نوم په ځان کیدی او دَ بدعاتو ټهیکه داران جوړ شوی وی۔

## ﴿زمونږ دین کامل او مکمل دے﴾

دویمه بنیادی خبره دا ده چه زمونږ دین اسلام کامل او مکمل او جامع دے ، نه خو په ده کښے دَ څه قسمه زیاتی ګنجائش شته او نه دَ کمی ۔ الله او رسول الله ﷺ دَ ژوند تیرولو ټولے طریقے مونږ ته خودلے دی ۔ دا خو هغه دین دے چه په دے کښے دَ انسان دَ پیدائش نه واخله دَ هغه لحد ته دَ تللو وخت پورے تمام احکام پکښی موجود دی ، خواه که دَ هغے تعلق عقیدے سره یا عباداتو سره ، معاملاتو سره وی یا عاداتو سره ، معاشرت سره وی یا سیاست او ریاست سره ، که صلحے سره وی یا جنګ سره ، غم سره وی یا خوشخالئی سره ، الله تعالیٰ مونږ له داسے کامل دین راکړے دے چه په ده کښے داسے هیڅ کمے نیشته دَ کوم چه مونږ ته دَ پوره کولو یا خپل طرف نه څه جوړولو اجازت او ګنجائش وی۔

دَ دین اسلام کامل کیدلو اعلان الله تعالیٰ دَ حجه الوداع په موقع باندے دَ عرفات په میدان کښے په خپل محبوب پیغمبر باندے دَ قرآن دا آیت نازل کړو ۔ فرمائی:﴿اَلْیَوْمَ اَکْمَلْتُ لَکُمْ دِیْنَکُمْ﴾ [مائده:۳]
” یعنی نن ورځ ما تاسو دَ پاره ستاسو دین کامل (یعنی پوره) کړو۔“

او دَ جامع کیدلو ثبوت ئے ﴿تِبْیَانًا لِکُلِّ شَیْئٍ﴾ ( ددین دهری مسئلے وضاحت دے) سره ئے پیش فرمائیلے دے ۔ دے دوؤ خداوندی

ارشاداتو سره دَ دین اسلام کامل او جامع کیدل ثابتیږی ۔

همدغه شان دا هم منلے شوے حقیقت دے چه دین دَ دوؤ ثیزونو علم او عمل مجموعه ده۔علم نوم دے دَ قرآن او عمل نوم دے دَ نبی کریم ﷺ دَ سنت ، دَ سیرت او دَ اسوه حسنه ۔ او ظاهره ده چه هر کله دین دَ علم او عمل مجموعه ده او علم او عمل دَ قرآن او سنت نوم دے نو بیا دَ دین کامل او جامع کیدلو معنیٰ دَ دے نه سوا بل څه نشی کیدے چه دَ دے دین علم هم او عمل هم کامل او جامع دی۔

عمل (سنت) دَ دے وجے کامل او جامع دے چه عمل دَ هغه قرآنی علم په رنړا کړے شوے دے کوم چه دَ دے دین اساسی سرچشمه ده دَ کوم کاملیت او جامعیت چه نبی ﷺ بیان کړے دے۔

سیدنا علیؓ نه روایت دے چه :

﴿اَمَا اِنِّیْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ یَقُوْلُ اِنَّهَا سَتَکُوْنُ فِتْنَةٌ قُلْتُ مَاالْخُرُوْجُ مِنْهَا یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ کِتَابُ اللّٰهِ فِیْهِ نَبَأُ مَا قَبْلَکُمْ وَخَبَرُ مَا بَعْدَکُمْ وَحُکْمُ مَابَیْنَکُمْ﴾ [مشکوٰة]

” ما دَ رسول الله ﷺ نه دا فرمان اوریدلے دے چه خلقو! عنقریب عظیمه فتنه برپا کیدونکے ده ۔ ما عرض اوکړو : اے دَ الله رسوله ﷺ ! هغه وخت به دَ دغه فتنے نه دَ نجات څه ذریعه وی ؟ نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه : دَ الله تعالیٰ کتاب۔

ځکه چه په دے کښے دَ مخکنو خلقو احوال او دَ آئنده راتلونکو امورو خبرونه او ستاسو خپلو کښے دَ اختلاف حل او فیصله موجود ده۔“

او بله وجه دَ عمل کامل او جامع کیدلو دا ده چه دَ دے عمل

سرچشمه اسوه حسنه ده چه دَ هغے کونکے هستی ذاتِ نبوی ﷺ دے:

﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ﴾ [احزاب:۲۱]

او علم (قرآن) دَ دے وجے کامل او جامع دے چه هر کله په دے سره کړے شوے عمل دومره کامل وی نو اصل یعنی علم خو به لازما کامل او جامع وی۔

بیا دَ دین دا کمال او جامع والے صرف علم یا صرف عمل سره خاص نه دے چه دَ دین عمل صرف کامل وی او په علم کښے څه کمے کیدے شی۔ یا صرف علم مکمل وی او په عمل کښے څه کمے پاتے شوے وی ۔ ولے دا ممکن کیدے شی چه قانون خو دے کامل وی او دَ هغے نه پیدا شوے عمل دے ناقص او نامکمل وی یا دَ دے برعکس۔ نو دَ یو تکمیل دَ بل دَ تکمیل دَ پاره لازم او ملزوم دی۔

لکه دَ ام المؤمنین حضرت عائشے صدیقے ؓ نه چه کله دَ نبی ﷺ دَ اخلاقو باره کښے تپوس اوکړے شو نو بی بی ؓ اوفرمائیل ﴿كَانَ خُلُقُهُ الْقُرْآن﴾ یعنی دَ نبی ﷺ اخلاق قرآن دے۔ او دا خو ظاهره ده چه دَ اخلاقو تعلق عمل سره دے۔

دَ دے وجے نه حاصل دا شو چه په کتاب او سنت کښے کوم تمام دین په علمی شکل کښے موجود دے هم هغه څیزونه په ذاتِ نبوی ﷺ کښے عملی شکل کښے موجود وو۔ او کومے خبرے چه قرآن دَ اصولو او اقوالو په شکل کښے پیش کوی نو هم هغه خبرے ذاتِ نبوی ﷺ دَ اعمالو او افعالو او احوالو په شکل کښے ښکندوی۔

حاصل دا چه دَ قرآن وینا دَ نبی کریم ﷺ عمل دے او دَ نبی

کریم ﷺ عمل دَ قرآن وینا ده ۔ او دا دواړه حقیقتونه په یو بل باندے داسے فِټ او برابر دی چه نه عمل نبوی ﷺ دَ قرآن نه ادنیٰ درجه منحرف دے او نه علم قرآنی دَ عمل نبوی ﷺ نه یو ذره متجاوز دے۔ ګنے بیا دَ "خُلُقُهُ الْقُرْآن" هیڅ معنیٰ جوړیدے نشی۔

لهذا څرنګ چه دَ قرآن نه پس دَ نوع انسانی دَ هدایت دَ پاره دَ یو جدید نمونه علم ضرورت نیشته چه هغه دَ یو نوی کتاب یا صحیفے په صورت کښے نازل شی ، همدغه شان دَ نبی ﷺ اسوۂ حسنے نه پس دَ یو نوے نمونۂ عمل ضرورت هم نیشته چه هغے سره څوک مبعوث شی یا دَ خپل طرفنه څه جوړ کړی او دَ اختراع او ابتداع په شکل کښے دَ عمل یو نوے طرز او نوے رُوپ دَ خپله ځانه په دین کښے راؤباسی ۔ ولے چه که چرے دَ دے دین په علم یا عمل کښے بفرض محال دَ کمۍ بیشۍ ګنجائش ممکن وی نو بیا دے دین ته دین کامل او جامع نشی وئیلے کیدے ۔ حالانکه قرآن او حدیث دَ دے دَ کامل او جامع کیدلو دعویدار دے۔ په دے صورت کښے دَ دے دین کامل منلو معنیٰ صرف همدا کیدے شی چه دَ دے علم او عقیده هم بغیر دَ څه کمی زیاتی او بغیر دَ یو خوا بل خوا ټیټیدلو نه یک رُخئی سره اومنلے شی، چه دَ همدے نوم اخلاص او توحید دے ، او دَ دے نمونۂ عمل یعنی اسوۂ حسنه نبوی ﷺ هم بغیر دَ بدعاتو او رسم ورواج دَ ګډون او بغیر دَ ایجاد او اختراع نه یکسوئی سره عملاً قبول کړے شی ، چه هم دَ دے نوم اتباع سنت دے۔ دَ دے وجے نه دَ دے دین کامل او جامع کیدلو په وجه دَ دے دوه تقاضے شوے۔ یو اخلاص او بل اتباع ۔ اخلاص لله سره

عقیده او عمل خالص کیږی او بعینه هم هغه اوسی څنګه چه الله تعالیٰ په خپل رسول ﷺ باندے نازل کړی دی او اتباع (دَ سنت تابعدارئی) سره عقیده او عمل باصواب شی او تهیک دَ هغے نمونے مطابق اوسی کومه چه دَ هغے رسول الله ﷺ کړے او ښودلے ده۔

ظاهره ده چه همدا دوه اصله (توحید او سنت) دَ دین بقاء او حفاظت او دَ انسان دَ صلاح او فلاح ضامن کیدے شی ۔ که چرے په دوی کښے کمزوری پاتے شی نو همدغه حده پورے به دَ دوی ضدونه (شرک او بدعت) رااوپره شی او دین به فاسد جوړ کړی۔ که چرے په اخلاص او توحید کښے کمے راغے نو په دین او ایمان کښے به هم هغه حده پورے دَ دے ضد یعنی دَ شرک ګډون راشی څنګه چه دَ باری تعالیٰ ارشاد دے:

﴿وَمَا يُؤْمِنُ اَكْثَرُهُمْ بِاللّٰهِ اِلَّا وَهُمْ مُشْرِكُوْنَ﴾ [یوسف:١٠٦]

" یعنی اکثر خلق ظاهری ایمان راوړلو سره په شرک کښے بیا هم مبتلا وی ۔" څنګه چه نن صبا جاهلان او دَ دین او قرآن نه بے خبره خلق۔ او که چرے په اتباع سنت کښے کمے راشی نو هم هغه حده پوره به دَ بدعت لاره هواره شی څنګه چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی:

﴿مَا اَحْدَثَ قَوْمٌ بِدْعَةً اِلَّا رُفِعَ مِثْلُهَا مِنَ السُّنَّةِ فَالتَّمَسُّكُ بِسُنَّةٍ خَيْرٌ مِنْ اِحْدَاثِ بِدْعَةٍ﴾ [مشکواة :٣١، رواه احمد]

هیڅ یو قوم په دین کښے یو بدعت نه ایجاد کوی مګر دَ هغے هومره سنت دَ دغه قوم نه پورته کولے شی ۔ نو په دے نوؤ نوؤ بدعاتو راویستلو په سنت باندے مضبوط اوسیدلو کښے خیر او عافیت دے۔"

دے نه واضحه کیږی چه څنګه دَ دین دَ صلاح او فلاح دوه

اصله دی اخلاص او اتباع ۔ همدغه شان دَ دین دَ فساد هم دوه اصله دی چه هغے ته دَ دے دوؤ ضدونه وئیلے شی شرک او بدعت ۔ نو څرنګ چه دَ اخلاص او اتباع په موجودوالی کښے دین چرے ضائع کیدے نشی همدغه شان دَ اِشراک (شرک) او ابتداع (بدعت) په موجود والی کښے دین هم چرے باقی پاتے کیدے نشی۔

## ﴿دَ سنت اهمیت او مقام﴾

په دے وجه قرآن او حدیث کښے دَ توحید او سنت په بیانولو او دَ شرک او بدعت په رد باندے زیات زور ورکړے شوے دے ۔ څنګه چه دَ توحید او شرک پیژندلو نه بغیر ایمان ، ایمان نه پاتے کیږی همدغه شان دَ سنت او بدعت دَ امتیاز نه بغیر عمل دَ الله په نزد دَ قبولوالی شرف حاصلولے نشی ۔ دَ باری تعالیٰ ارشاد دے:

﴿اِلَيۡهِ يَصۡعَدُ الۡكَلِمُ الطَّيِّبُ وَالۡعَمَلُ الصَّالِحُ يَرۡفَعُهٗ﴾ [فاطر:۱۰]

الله تعالیٰ طرفته پاکیزه کلمات (دَ توحید خیزی او (دَ سنت مطابق) نیک عمل اوچتیږی او دَ قبولوالی شرف بیا مومی۔''

دَ دے اهمیت په بنا باندے الله تعالیٰ او رسول الله ﷺ دَ توحید بیانولو او دَ شرک رد کولو نه پس چه څومره زور په استمساک بالسنت (سنت مضبوطیا سره نیولو) او رد بدعت باندے ورکړے دے شاید چه په بله مسئله به ئے نه وی ورکړے ۔ حتی چه الله تعالیٰ خپله رضا او محبت دَ نبی کریم ﷺ په تابعداری کښے منحصر کړے دے ۔ ارشاد ربانی دے:

﴿قُلۡ اِنۡ كُنۡتُمۡ تُحِبُّوۡنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوۡنِیۡ يُحۡبِبۡكُمُ اللّٰهُ﴾[آل عمران:۳۱]

'' دوی ته اووایه که چرے تاسو الله تعالیٰ سره محبت کول

غـواړئ نـو څما په لار روان شئ (یعنی څما تابعداری اوکړے) نو الله به تاسو سره محبت اوکړی۔"

کـه چرے څوک الـلـه او رسـول الله ﷺ سره دَ محبت دعویٰ کـوی یـا مـحبت کـول غـواړی نـو هغـه دَ پاره دَ نبی کریم ﷺ دَ سنت تابعداری کول لازمی دی ولے چه دَ نبی ﷺ تابعداری کولو او دَ هغوی پـه نـقش قدم باندے تللو نه بغیر هیڅوک دَ الله او دَ هغه دَ رسول ﷺ محبوب نشی جوړیدے:

## ﴿نبی کریم ﷺ سره دَ محبت معیار﴾

نن صبا اکثر خلق دَ نبی کریم ﷺ سره دَ محبت خو لوئے لوئے دعـوے کـوی ، خپـل ځان تـه محبان رسول ﷺ او عاشقان رسول ﷺ وائـی ، حـال دا چـه دَ دوی شـکـل او صورت ، قول او فعل او هر یو کار دَ نبـی کـریم ﷺ دَ سیرت او سنت نه قطعی خلاف په نظر رائحی ۔ دوی دَ نبـی کـریم ﷺ دَ سنت په مقابله کښے خپلو جوړو کړو طریقو ، بدعاتو او رسوماتو باندے دَ جاهلیت حده پورے کاربند وی ۔ دے وجے نه دَ دوی دَ عشق رسول ﷺ دا دعویٰ سراسر غلطه ، دروغ او دهوکه ده۔

مشهور حنفی مفسر امام نسفیؒ په تفسیر مدارک کښے سورۂ آل عمران :۳۱ :

﴿قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِىْ يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ﴾[آل عمران:۳۱]

لاندے لیکی:

﴿فَمَنِ ادَّعٰى مَحَبَّتَهٗ وَخَالَفَ سُنَّةَ رَسُوْلِهٖ فَهُوَ كَذَّابٌ وَكِتَابُ اللّٰهِ يُكَذِّبُهٗ﴾

کـوم سړے چه دَ نبی کریم ﷺ دَ محبت دعویٰ کوی او په عمل کښے دَ نبـی کـریـم ﷺ دَ سـنتـو مـخالف وی نو دغه سړے په خپلے دے

دعوے کښے دروغژن دے او دَ الله تعالیٰ کتاب هم هغه ته دروغژن وائی۔"

بیا لیکی چه نبی کریم ﷺ سره محبت څه ته وائی:

﴿هِیَ اِتِّبَاعُ النَّبِیِّ عَلَیْهِ السَّلَامُ فِیْ اَقْوَالِهٖ وَاَفْعَالِهٖ وَاَحْوَالِهٖ﴾

"نبی کریم ﷺ سره محبت په اصل کښے دَ هغوی دَ اقوالو، افعالو او احوالو کښے تابعداری کول دی۔"

او دا دے اصل محبت او حقیقت دَ محبت ۔ دا چرته کیدے شی چه دعویٰ خو دَ محبت وی او کار دَ محبوب دَ مرضئی نه خلاف، چه څه ئے په زړه کښے راشی کوی ئے۔

په قول دَ شاعر:

اِنْ كَانَ حُبُّكَ صَادِقًا لَاَطَعْتَهٗ    لِاَنَّ الْمُحِبَّ لِمَنْ يُّحِبُّ مُطِيْعٌ

"که چرے ته په خپل محبت کښے رشتنئے وے نو ته به (دَ خپل محبوب) ضرور تابعدار وے، ولے چه دا قانون دے چه مُحِب (یعنی محبت کونکے) دَ خپل محبوب تابعداری کونکے وی۔"

پخپله دَ صاحب نبوت محمد رسول الله ﷺ ارشاد دے چه:

﴿ مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِیْ فَقَدْ اَحَبَّنِیْ وَمَنْ اَحَبَّنِیْ كَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ﴾

[مشکوٰۃ، باب الاعتصام بالکتاب والسنة]

"چا چه ځما سنت (طریقے) سره محبت اوکړو نو یقینا هغه ما سره محبت اوکړو او چا چه ما سره محبت اوکړو هغه به ما سره جنت کښے وی۔"

☆☆☆

## ﴿صحابه کرامؓ او اتباع سنت﴾

همدا وجه ده چه صحابه کرامؓ سل فیصده دَ سنت تابعدار کیدلو په وجے سره حقیقی محبان رسول ﷺ وو۔ هغوی یو ذره هم سنت خو سنت دی مستحب عمل هم پریښودلو ته تیار نه وو چه دَ دے مثالونو نه دَ صحابه کرامؓ زندګئی ډکے پرتے دی۔

دا قسمه یوه واقعه دَ نبی کریم ﷺ دَ یو جان نثار صحابی سیدنا حذیفه بن یمانؓ ده ۔ څوک چه دَ راز دارِ نبی ﷺ په لقب مشهور دے۔ کله چه مسلمانانو په ایران باندے حمله اوکړه نو دَ ایران بادشاه کسریٰ ورته دَ مذاکراتو پیش کش اوکړو۔ سیدنا حذیفهؓ او دَ هغوی ملګرے سیدنا ربعی بن عامرؓ چه دربار ته ورغلل نو دَ هغوی خاطر مدارات دَ پاره دَ خوراک څکاک څه څیزونه هم راؤړلے شو۔ دَ خوراک دوران کښے دَ حضرت حذیفهؓ دَ لاس نه یوه نوړئ په زمکه باندے پریوته نو هغوی ته فوراً دا حدیث وریاد شو:

﴿اِذَا وَقَعَتْ لُقْمَةُ اَحَدِكُمْ فَلْيَاْخُذْهَا فَلْيُمِطْ مَا كَانَ بِهَا مِنْ اَذًى وَلْيَاْكُلْهَا وَلَا يَدَعُهَا لِلشَّيْطَانَ﴾ [ترمذی]

”که چرے دَ خوراک دوران کښے تاسو کښے دَ چا نه نوړئ پریوځی نو هغه له پکار دی چه دغه نوړئ راپورته کړی او که دَ هغے دَ پاسه څه څیز خاوره وغیره لګیدلے وی نو هغه دے صفا کړی ، او دے خوری او شیطان دَ پاره دے نه پریږدی۔“

نو هغویؓ نوړئ دَ زمکے نه راپورته کولو دَ پاره لاس اوګد کړو ، په دے کښے ورسره ناست سړی په څنګله اووهلو ، ورته ئے اووے چه :

دے وخت کښې دَ مصلحت دَ تقاضې ترمخه داسې مه کوه، هسې نه چه دا خلق په دے حرکت باندے تاته دَ حقارت په نظر سره اوګوری۔''

هغه دا خبره دے دَ پاره اوکړه چه هغه وخت ایرانی تهذیب په خپل نفاست او صفایئی ستهرائی کښې ډیر مشهور وو۔ په جواب کښې ورته سیدنا حذیفهؓ اوفرمائیل:

﴿أَأَتْرُكُ سُنَّةَ رَسُوْلِ اللّٰهِ لِهٰؤُلَآءِ الْحُمَقَآءِ﴾

آیا زه دَ رسول الله ﷺ سنت دَ دے احمقانو دَ خاطره پریګدم؟

دا ده دَ صحابه کرامؓ شدتِ اتباع۔ چه هغوی به دَ یو یو سنت او مستحب په سختئی سره پابندی کوله۔ او په داسې کولو کښې به ئے دَ چا دَ سوچونو او نظرونو هیڅ پرواه نه کوله۔ لیکن افسوس چه دَ نن مسلمان که چرے دِ لږ ساعت دَ پاره هم په خپلو ګیروانونو کښې اوګوری نو هغوی ته به معلومه شی چه دوئ یو خوا ته خو خپل ځان ته دَ محمد رسول الله ﷺ امتیان وائی او بل طرفته ځومره لوئے لوئے سنت په بے پروائی سره نظر انداز کوی۔ داسې په تش نوم ''عاشقان رسول ﷺ'' او محبان رسول خلقو ته په سنجیدګئی سره دا احساس کیدل پکار دی چه هغوی ځومره دَ بے حسئی حده پورے دَ سنت په مخالفت کښې مبتلا دی۔

## ﴿دَ نبی کریم ﷺ تابعداری فرض ده﴾

الله تعالیٰ په مونږ باندے دَ نبی کریم ﷺ دَ اسوۂ حسنه او سیرت او سنت تابعداری داسې ضروری او فرض کړے ده څنګه چه دَ الله تعالیٰ تابعداری په مونږ باندے فرض او ضروری ده۔ دَ باری تعالیٰ ارشاد دے:

﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ﴾[نساء:٥٩]

اے ایمان والؤ! دَ الله تعالیٰ تابعداری کوئ او دَ رسول الله ﷺ تابعداری هم کوئ۔"

﴿قُلْ اَطِیْعُوْا اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّ اللّٰهَ لَا یُحِبُّ الْکَافِرِیْنَ﴾ [آل عمران:۳۲]

دوی ته اوویه چه دَ الله تعالیٰ او دَ رسول ﷺ تابعداریٔ کوئ او که چرے دوی اوګرځیدل نو الله تعالیٰ کافرانو (داطاعت منکرانو) سره محبت نه کوی۔"

تر دے پورے چه الله تعالیٰ دَ خپل محبوب رسول ﷺ اطاعت او تابعداری ته خپل اطاعت او تابعداری وئیلے ده۔

﴿مَنْ یُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ ﴾ [نساء:۸۰]

" چا چه دَ رسول ﷺ تابعداری اوکړه یقینا هغه دَ الله تعالیٰ اطاعت او تابعداری اوکړه۔"

او دا به ولے نه وی ځکه چه نبی کریم ﷺ رسول دَ الله دے ۔"

﴿اِنَّا اَرْسَلْنٰكَ بِالْحَقِّ بَشِیْرًا وَنَذِیْرًا﴾ [بقره:۱۱۹]

بیشکه مونږ ته لیګلے ئے حق بیانولو دَ پاره، منونکو او تابعداری کونکو ته دَ کامیابئی او جنت زیرے ورکونکے او نه منونکو لره دَ جهنم او ناکامئی نه یرونکے۔"

حدیث شریف کښے هم راځی:

﴿مَنْ اَطَاعَ مُحَمَّدًا فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ وَمَنْ عَصٰی مُحَمَّدًا فَقَدْ عَصٰی اللّٰهَ﴾ [مشکوٰة]

چا چه دَ محمد ﷺ تابعداری اوکړه نو هغه په اصل کښے دَ الله تعالیٰ تابعداری اوکړه او چا چه دَ محمد ﷺ نافرمانی اوکړه نو هغه دَ الله تعالیٰ نافرمانی اوکړه۔"

همدا تابعداری او دَ رسول ﷺ اطاعت دَ هر نبی دَ بعثت مقصد دے یعنی پیغمبران دے دَ پاره رالیګلی شوی وی چه خلق دَ هغوی تابعداری اوکړی څنګه چه دَ الله تعالیٰ ارشاد دے:

﴿وَمَا اَرۡسَلۡنَا مِنۡ رَّسُوۡلٍ اِلَّا لِيُطَاعَ بِاِذۡنِ اللّٰهِ﴾ [نساء:٦٥]

'' مونږه هیڅ یو رسول ﷺ نه دے رالیګلے مګر دے دَ پاره چه دَ الله په حکم سره دَ هغه تابعداری اوکړے شی۔''

مطلب دا چه دَ رسول الله ﷺ تابعداری نه بغیر مونږ دَ پاره هیڅ چاره نیشته ولے چه دَ الله تعالیٰ مطلوبه احکام زمونږ په نسبت رسول الله ﷺ بهتر پیژنی او وربانده پوهیږی ۔ دے دَ پاره مونږ امتیان دَ نبی ﷺ دَ سنتو پوره پابند ګرځولے شوی یو :

﴿لَقَدۡ كَانَ لَكُمۡ فِىۡ رَسُوۡلِ اللّٰهِ اُسۡوَةٌ حَسَنَةٌ'' [احزاب:٢١]

''بیشکه تاسو دَ پاره دَ رسول الله ﷺ په ذات کښے بهترینه دَ عمل نمونه ده۔''

الله تعالیٰ په دے آیت کښے دَ نبی کریم ﷺ ذات ګرامی لره بهترینه او اعلیٰ نمونه ګرځولے ده او مونږ نه ئے دا مطالبه کړے ده چه مونږ دے په هره معامله ، ناسته پاسته او هر قسمه دَ غم او ښادئ په معاملاتو کښے دَ نبی ﷺ په نقش قدم باندے لاړ شو ۔ په همدے کښے به امت دَ پاره خیر او برکت وی۔ الله تعالیٰ فرمائی :

''فَاِنۡ تَنَازَعۡتُمۡ فِىۡ شَىۡءٍ فَرُدُّوۡهُ اِلَى اللّٰهِ وَالرَّسُوۡلِ اِنۡ كُنۡتُمۡ تُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ وَالۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ ؕ ذٰلِكَ خَيۡرٌ وَّاَحۡسَنُ تَاۡوِيۡلًا﴾ [نساء:٥٩]

یعنی که چرے ستاسو په څه کار کښے اختلاف پیدا شی چه په دے معامله کښے کومه طریقه درست ده ، کوم یو کار دین دے او کوم

کار بے دینی ده ، کوم طریقه سنت ده او کوم ه دَ سنت نه خلاف ده ، نو که چرے ستاسو په الله تعالیٰ باندے او په آخرت باندے ایمان وی نو دغه جهګړه او اختلاف الله او دَ هغه رسول ﷺ ته یعنی قرآن او سنت طرفته یوسئی او په هغے کښے دَ دے حل تلاش کړئ ، نو دے سره به تاسو په صحیح لاره باندے تللو سره دغه اختلاف ختم کړے شی۔ او داسے کول یعنی په سنت باندے تلل تاسو دَ پاره ښه دی او دَ انجام په اعتبار سره ډیر بهتر دی۔"

غرض دا چه په سنت باندے عمل کولو سره یو خو دنیاوی فائده ده چه انسان دَ اسراف او فضول خرچئی وغیره مالی نقصان نه بچ شی او بل په آخرت کښے ثواب ملاویدلو سره انسان دَ عذاب نه هم بچ شی۔

همدغه شان نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی:

﴿تَرَکۡتُ فِیۡکُمۡ اَمۡرَیۡنِ لَنۡ تَضِلُّوۡا مَا تَمَسَّکۡتُمۡ بِهِمَا کِتَابُ اللّٰهِ وَسُنَّةُ رَسُوۡلِهٖ﴾[مشکوٰة]

زه تاسو کښے دوه څیزونه پریږدم ، که چرے تاسو دا مضبوط اونیول نو چرے به هم ګمراه نه شئی ، یو دَ الله کتاب او بل دَ هغه دَ رسول ﷺ سنت۔"

په بل روایت کښے څه دا شان الفاظ نقل دی:

﴿یٰۤا اَیُّهَا النَّاسُ اِنِّیۡ قَدۡ تَرَکۡتُ فِیۡکُمۡ مَا اِنِ اعۡتَصَمۡتُمۡ بِهٖ لَنۡ تَضِلُّوۡا اَبَدًا کِتَابُ اللّٰهِ وَسُنَّةُ نَبِیِّهٖ﴾ [مستدرک حاکم:۹۳/۱]

"اے خلقو! ما په تاسو کښے دوه څیزونه پریخی دی که چرے تاسو دا مضبوطیا سره نیولی وی نو هرګز به ګمراه نه شئی ۔ په هغے

کښې یو دَ الله کتاب دے او بل دَ هغه دَ نبی ﷺ سنت دے۔"

په یو بل حدیث کښې ارشاد دے چه:

﴿مَنْ اَكَلَ طَيِّبًا وَعَمِلَ فِىْ سُنَّةٍ وَاَمِنَ النَّاسَ بَوَائِقَهٗ دَخَلَ الْجَنَّةَ﴾

" چا چه حلال خوراک اوکړو او په سنت طریقے باندے ئے عمل اوکړو او خلق ئے دَ خپل ضرر نه بچ اولرل نو هغه به جنت ته داخلیږی۔" [ترمذی ، مشکوٰة]

همدے وجے دَ الله تعالیٰ په نزد هغه عمل مقبول دے په کوم باندے چه دَ نبی کریم ﷺ دَ سنت مهر لګیدلے وی ، یعنی چه دَ نبی کریم ﷺ دَ سنت طریقے مطابق وی ۔ دَ قرآن پاک ارشاد په دے خبره باندے ګواه دے:

﴿اِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهٗ﴾ [فاطر:۱۰]

الله طرفته پاکیزه کلمات (دَ توحید) خیژی او (دَ سنت مطابق) نیک عملونه اوچتیږی او دَ قبولوالی شرف حاصلوی۔"

## ﴿دَ نیک عمل صحیح مطلب﴾

عملِ صالح (نیک عمل) هغه نه دے کوم چه زمونږ په خیال کښې نیک وی او مونږ ته په خپل نظر کښے ښه ښکاری بلکه نیک او صالح عمل خو هغه دے کوم ته چه شریعت نیک او صالح وئیلی وی او هغه دَ شریعت نه ثابت وی۔

قاضی بیضاویؒ په خپل تفسیر کښے دَ ﴿اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ﴾ [بقره:۲۷۷] لاندے داسے لیکلی دی:

﴿اَلصَّالِحَةُ مِنَ الْاَعْمَالِ مَا سَوَّغَهَا الشَّرْعُ﴾ یعنی اعمالِ صالحه هغه دی کوم چه شریعت (قرآن او سنت) جائز ګرځولی وی۔

علامہ علی المهایمی ؒ تبصیر الرحمن ۳۷/۱ ، ﴿وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ﴾ [بقره:۲۵] لاندې دَ صالح عمل په باره کښې وئیلی دی چه :

﴿وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ الَّتِيْ اَمَرَ بِهَا هُوَ اَوْ اَحَدُ فُرُوْعِهٖ مِنَ السُّنَّةِ وَالْاِجْمَاعِ وَالْقِيَاسِ﴾

نیک او صالح عمل هغه دې دَ کوم حکم چه په قرآن کښې یا دَ قرآن فروعو یعنی سنت ، اجماع او قیاس کښې یو ورکړې وی۔"

مطلب دا دې چه کوم عمل په قرآن او سنت کښې موجود وی یا صحابیؓ کړې وی یا دَ مجتهدؒ قیاس نه دَ هغې ثبوت ملاویږی نو هغه نیک دې او که چرې په دې کښې دَ یو نه هم دَ دې ثبوت نه وی او نه ئې حکم ورکړې شوې وی نو هغه نیک عمل نشی کیدې ۔

علامه ابن کثیر فرمائی چه " دَ یو عمل قبلیدو دَ پاره دوه شرطونه دی :یو دا چه هغه عمل دې دَ الله رضا او خوشنودئ دَ پاره وی،ریا او ښودنې دَ پاره دې نه وی ۔ او دویم دا چه دَ نبی کریم ﷺ دَ سنت طریقې او شریعت موافق او مطابق وی۔"

که چرې یو عمل دَ الله دَ رضا دَ پاره نه وی نو دَ هغې مثال قرآن پاک داسې بیان کړې دې چه :

﴿كَمَثَلِ صَفْوَانٍ عَلَيْهِ تُرَابٌ فَاَصَابَهٗ وَابِلٌ فَتَرَكَهٗ صَلْدًا﴾ [بقره:۲٦٤]

" دَ دغه (عمل) مثال دَ هغه کانړی پشان دې کوم باندې چه خاوری وی او بیا وراندې تیز باران اووریګی نو هغه کانړې بالکل صفا شی (یعنی هیڅ وراندې هم باقی پاتې نشی) "

او کوم عمل چه دَ نبی کریم ﷺ دَ سنت مطابق نه وی بلکه په

خپلے جوړے کړے شوے طریقے باندے وی نو بیا په هغے کښے قبول والی دَ پاره هیڅ نه پاتے کیږی ـ لهٰذا دَ دغه عمل په باره کښے ارشاد نبوی ﷺ دے:

﴿مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيْهِ اَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ﴾ [بخاری ومسلم]

چا چه یو داسے عمل اوکړو کوم باندے چه زمونږ دَ طرفنه ثبوت نه وی (زما په طریقے باندے نه وی) نو دغه عمل به دَ الله په نزد مردود او نامنظور وی۔"

یو ځل درے صحابه کرامؓ ازواجو مطهراتوؓ له دَ نبی کریم ﷺ په کور کښے دننه دَ هغوی ﷺ دَ عباداتو او معمولاتو په باره کښے تپوس دَ پاره راغلل ـ کله چه امهات المؤمنینوؓ ورته دَ نبی علیه السلام دَ معمولاتو او عباداتو په بارکښے ښودنه اوکړه نو هغوی هغه خپل عبادات کم اوګڼړل اووے وئیل چه دَ نبی ﷺ او زمونږ په مینځ کښے څه نسبت دے ولے چه هغوی ﷺ خو ښښلے شوے دی دَ دے باوجود دومره عبادت کوی: ﴿فَقَالَ اَحَدُهُمْ اَمَّا اَنَا فَاُصَلِّيَ اللَّيْلَ اَبَدًا﴾

یو صحابیؓ اووے چه: زه به آئنده تهوله شپه نه اووده کیږم بلکه تهوله شه په عبادت کښے تیروم ـ بل اووے چه:

﴿اَمَّا اَنَا اَصُوْمُ النَّهَارَ اَبَدًا وَلَا اُفْطِرُ﴾

زه به همیشه روژے نیسم او په مینځ کښے به چرے کوجه کومه نه۔ او دریم اووے چه: ﴿اِنِّیْ اَعْتَزِلُ النِّسَآءَ فَلَا اَتَزَوَّجُ اَبَدًا﴾

زه به تهول عمر واده نه کوم چه دَ بال بچ دَ غمه خلاص یم او په یکسوئی سره به عبادت کوم۔"

پـه دے کښے نبـی کـریـم ﷺ تشـریف راؤړو ـ کـلـه چـه هـغوی ﷺ ته دَ دغه درے واړو صحابه کرامو ؓ د ارادو باره کښے معلومه شـه نـو وے فـرمـائیـل " مـاته معلومه شوے ده ستاسو دَ هغه خبرو باره کښے کومے چه تاسو اوس اوکړے ـ

﴿اَمَّـا وَالـلّٰـهِ اِنِّـیْ لَاَخْشٰـکُـمُ الـلّٰهُ وَاَتْقٰکُمْ لَهٗ لٰکِنِّیْ اَصُوْمُ وَ اُفْطِرُ وَاُصَلِّیْ وَاَرْقُدُ وَاَتَزَوَّجُ النِّسَآءَ فَمَنْ رَّغِبَ عَنْ سُنَّتِیْ فَلَیْسَ مِنِّیْ﴾ [مشکوٰة]

خبـردار قسـم پـه الـلـه! زه تـاسـو نـه زیات الـله نه یریدونکے او پـرهیـزګـاریـم لیـکـن زه کله روژے نیسم او په مینځ کښے کوجه کومه هـم،دَ شپے مونځ هم کوم او اوده کیږم هم ، او ما وادونه هم کړی دی ، نو چا چه څما دَ طریقے نه مخ واړولو هغه څما نه نه دے ـ"

دَ سـوچ مقام دے چه په ظاهره دَ دغه درے واړو صحابه کرامو ؓ اراده نیکه وه، دَ عبادت کولو او دینداریٔ وه لیکن کله چه دغه اراده او فعل دَ نبی کـریـم ﷺ دَ سـنـت طـریـقے نه خلاف وو نو نبی کریم ﷺ په دے باندے دَ نـاراضـګـئـی اظهار کولو سره دَ دے نه منع کړل ـ دے نه معلومه شوه چه دَ نیـکئـی او ثواب هر هغه کار کوم چه انسان په خپل سوچ سره تجویز کړی هغـه تـر هغه وخته پورے نیکی نه جوړیږی کله چه په هغے باندے دَ نبی کریم ﷺ دَ سنت مهر او مهر تصدیق لګیدلے نه وی ـ

## ﴿دَ نبی کریم ﷺ تابعداری پریخودل دَ ایمان نه خلاف دی﴾

دَ هـمـدے اهـمیـت پـه بـنـا بـانـدے الـلـه تعالیٰ مونږ تـه دَ نبی کریم ﷺ دَ تابعداریٔ حکم ورکړے دے او مونږ ئے همداسے بے واړے په خپل مرضئی او خواهش باندے هرګز نه یو پریخی ـ

﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلاَ مُؤْمِنَةٍ اِذَا قَضَى اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ اَمْرًا اَنْ يَّكُوْنَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ اَمْرِهِمْ﴾ [احزاب:۳٦]

یعنی هیڅ یو مؤمن سړی یا ښځې ته دا اختیار نیشته چه دَ الله او رسول ﷺ په مقابله کښې خپله مرضی اوچلوی او څنګه چه ژوند تیراوی تیر دې کړی۔ دَ غم او ښادئ په موقع باندې به خپله من مانی کوی او دَ خپل خواهش مطابق به ئې کوی ۔ داسې هرګز نه ده ۔

حدیث پاک کښې دې: نبی کریم ﷺ فرمائی :

﴿وَلَا يُؤْمِنُ اَحَدُكُمْ حَتّٰى يَكُوْنُ هَوَاهُ تَبَعًا لِمَا جِئْتُ بِهٖ﴾[مشكوٰة]

" په تاسو کښې هیڅ یو کس هغه وخته پورې کامل مؤمن نشی جوړیدې تر څو پورې چه دَ هغه خواهش څما دَ راوړلې شوی دین (قرآن او سنت) مطابق جوړ نه شی۔"

په بل روایت کښې نبی کریم ﷺ دومره پورې فرمائیلی دی چه :

﴿وَلَا يُؤْمِنُ اَحَدُكُمْ حَتّٰى اَكُوْنَ اَحَبَّ اِلَيْهِ مِنْ وَّالِدِهٖ وَوَلَدِهٖ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ﴾ [مشكوٰة]

په تاسو کښې هیڅوک تر هغه وخته پورې مؤمن جوړیدې نشی ۔ تر څو پورې چه زه ورته دَ خپل مور پلار ، اولاد او دَ ټولو خلقو نه زیات محبوب جوړ نه شم۔"

نبی کریم ﷺ سره دَ هر چا نه زیات محبت کولو مطلب دا دې چه کله په ژوند کښې په یو سړی باندې دَ غم ،خوشخالئی ، وادهٔ ، کوئدن وغیره حالات راشی نو هغه وخت یو طرفته مور پلار ، اولاد ، ښځه خاوند ، خپلوان یا دوستان ، قبیله او خاندان او دَ محلې او علاقې

والا په دے موقع باندے په بے دینی ، رسوماتو او بدعاترو او خرافاتو کولو باندے زور ورکوی ، او دَ دے بدعاتو او رسوماتو نه کولو سره دَ دغه ټولو خلقو ناراضه کیدلو ویره وی، دَ ښځے خاوند په خپلو کښے او دَ اولاد ناراضه کیدلو خطره وی او بل طرفته دَ الله او دَ رسول ﷺ تابعداریٔ کښے دا هر څه دَ شریعت او سنت په طریقه باندے ادا کول ضروری وی۔ نو که چرے اوس دا سړے دَ خلقودَ راضی کولو پاره دَ دَ خواهشاتو مطابق دا غم ښادیٔ دَ شریعت نه خلاف اوکړی نو ده ګویا عملاً دا اوښودله چه ځما دغه خلقو سره محبت دے او الله او رسول ﷺ سره نیشته یا ډیر کم دے ۔ او که چرے یو نیک دل مسلمان متبع سنت امتی دَ دغه خلقو خیال کولو نه بغیر دَ دغه خلقو رضا پریدی او هغوی دَ خوشحالیدلو یا نه خوشحالیدولو پرواه اونه کړی او په زړه کښے دا عزم اوکړی چه که خلق خوشحالیږی او که خفه کیږی ، زه به دَ سنت او شریعت مطابق دا واده ښادی کوم یا دا غم او ماتم به دَ شریعت مطابق تیروم ، دا به دَ شریعت او قرآن او سنت نه خلاف ، بدعاتو، رسوماتو او دَ شیعه ګانو ، هندوانو ، یهودیانو او عیسایانو وغیره په طریقو باندے نه کوم، نو دے سړی عملاً دا اوښودله چه دَ دے سړی نبی کریم ﷺ سره زیات محبت دے، نه نورو خلقو سره، او همدغه به کامل مؤمن وی۔ او څوک چه دَ نبی کریم ﷺ دَ سنت طریقے نظر انداز کولو په قیمت باندے خپله مرضی او خواهش مقدم اولری ، خاوند ، ښځه،پلار،نیکه اوخپلوان او دوستان ، یاران خوشحاله ساتی نو سمه خبره دا ده چه دَ ده ایمان کامل نه دے۔

## ﴿دَ کامل ایمان شرائط﴾

ولے چه دَ کامل ایمان دَ پاره الله تعالیٰ دَ نبی ﷺ تابعداری او دَ هغوی ﷺ لره په خپل مینځ کښے واقع کیدونکو معاملاتو کښے حاکم جوړونکے شرط ګرځولے دے ځنګه چه په سورت نساء:٦٥ کښے دی:

﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ حَتّٰى يُحَكِّمُوْكَ فِيْمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوْا فِيْ اَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا﴾

"ستا په رب مے دے قسم وی چه دا خلق تر هغه وخته پورے کامل مؤمنان جوړیدے نشی تر څو پورے چه (اے پیغمبره ﷺ) تا په هغه معامله کښے فیصله کوؤنکے (حَکم) او نهٔ منی کومه چه دَ دوی په مینځ کښے راغلے ده او بیا ستا په فیصلے باندے په خپلو زړونو کښے هیڅ تنګی (خفګان) را نه ولی او دغه فیصله همیشه دَ پاره قبوله کړی۔ یعنی بار بارئے اومنی۔"

﴿ فِيْمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ﴾ نه مراد تمام عقائد ، نظریات ، اعمال ، معاملات او حقوق دی ۔

په دے آیت کښے دَ کامل ایمان درے شرطونه بیان شوی دی:

یو دا چه ﴿حَتّٰى يُحَكِّمُوْكَ فِيْمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ﴾ تر هغه وخته پورے یو مسلمان امتی کامل مؤمن نشی جوړیدے تر څو پورے چه دے دَ نبی کریم ﷺ سنت حاکم اونه منی او دَ نبی ﷺ په سنت باندے عمل اونه کړی۔

دویم شرط دا دے : ﴿لَا يَجِدُوْافِيْ اَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ﴾ یعنی کله چه په سنت باندے عمل اوکړی ۔ غم ، ښادی یا هره یوه

معامله دَ سنت مطابق کولو نه پس په دغه سنت باندے عمل کولو سره هغه ته په زړه کښے څه خفه والے یا دَ تنګ والی بوج محسوس نشی چه دا واده یا دا تکفین وتجهیز او جنازه وغیره مے دَ سنت مطابق ولے اوکړه؟ که داسے مے نه وے کړے بلکه دَ خپل قوم او علاقے دَ رسم ورواج او دَ پلار نیکه په طریقه مے کړے وے نو خلق به رانه نه خفه کیدل ، ما نه به نه ناراضه کیدل وغیره ۔ په حقیقت کښے داسے سوچ کول ایمان نه دے بلکه دَ ایمان تقاضا خو دا ده چه په سنت باندے عمل کولو نه پس دے په هغے باندے خوشحاله شی او په زړه کښے دے مطمئن شی چه ښه کار مے اوکړو ، ولے چه دَ نبی ﷺ سنت ادا کولو سره په زړه کښے تنګی محسوسول هم دَ ایمان دَ کمزورئ علامه ده۔

او دریم شرط دا دے : ﴿وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا﴾ چه بار بار دے په سنت باندے عمل کوی ، داسے دے نه وی چه یو ځل ئے دَ یو ځوی یا لور واده دَ سنت مطابق کړے وی لیکن دَ خلقو خفه کیدلو یا لعن طعن او الزام لګولو سره بیا دَ بل ځوی یا لور په واده کښے دَ نبی ﷺ سنت طرفته هیڅ توجه نه ورکوی ، دغه طرفته سترګے هم نه پورته کوی یا یو ځل دَ غم موقع راتلو سره ئے دَ مړی تکفین او تجهیز او جنازه او خیرات وغیره ټول ئے یو ځل خو دَ سنت او شریعت مطابق کړی وی ، بیا بل ځلے دَ خلقو بدو ردو وئیلو او ملامته کولو سره اوس دوباره دَ سنت طریقے په ځائے دَ علاقے یا معاشرے نه مغلوب پاتے شی او په سنت باندے دَ عمل کولو اراده ترک کړی ۔ نو داسے کونکے کامل مؤمن او دَ فرمان بردار امتی وئیلے کیدلو لائق نه دے ۔ په دے آیت

کښې ” تسلیما“ مفعول مطلق تاکید دَ پاره راغلے دے یعنی بار بار په هره موقعه باندے به دَ نبی کریم ﷺ سنت مخے ته لری هله به کامل ایماندار جوړ شی ۔

دا دَ سړی څنګه مسلمانی ده څوک چه په خپله یو جهګړه ، عمل او مقدمه کښې دَ رسول کریم ﷺ په فیصلے او سنت باندے مطمئن نه دے ۔ دا خو دَ منافقت نخښه ده چه په ژبے سره خو دَ امتی کیدلو دعویٰ وی او عمل دَ خپل نبی ﷺ دَ طریقے او فیصلے نه خلاف وی ۔ دَ داسے خلقو په باره کښې ارشاد ربانی دے:

﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَىٰ مَا أَنزَلَ اللَّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ رَأَيْتَ الْمُنَافِقِينَ يَصُدُّونَ عَنكَ صُدُودًا﴾[نساء:٦١]

او هر کله چه دوی ته اووئیلے شی چه هغه حکم (کتاب الله) طرفته راشئی کوم چه الله تعالیٰ نازل کړے دے او دَ رسول الله ﷺ (سنت طرفته) راشئی (چه دَ هغے مطابق فیصله اوفرمائی) نو اے پیغمبره ﷺ! ته به هغه وخت دَ منافقانو دا حالت اووینے چه ستا (سنت ) طرفته راتلو نه دوی ډډه کوی۔“

## ﴿ دَ یو منافق واقعه﴾

دَ دے آیت په تفسیر کښې مفسرینو یو واقعه لیکلے ده چه دَ یو منافق او یهودی په څه خبره جګړه راغله،معامله نبی کریم ﷺ له راؤړلے شوه ۔ نبی ﷺ دَ معاملے تحقیق اوکړو دَ یهودی حق ثابتیدلو باندے نبی کریم ﷺ فیصله دَ هغه په حق کښې اوکړه۔ په دے باندے منافق ناراضه شو او یهودی ئے په دے خبره باندے مجبور کړو چه راځه

سیدنا عمر فاروقؓ له هم ورځو چه هغه څه فیصله اوروی۔ دَ منافق خیال وو چه سیدنا عمرؓ خو دَ کافرانو په معامله کښې هسې هم سخت دے هغه به یقینا په ځائے دَ یهودی زما په حق کښې فیصله اوکړی۔

بهر حال کله چه دواړه کسان سیدنا عمر فاروقؓ له ورغلل او یهودی ورته ټوله واقعه بیان کړه ورسره ئے دا هم اووئیل چه دَ دے مقدمے فیصله نبی کریم ﷺ زما په حق کښې کړے ده لیکن دا سړے مطمئن نه دے په دے وجه تا سو له راغلے دے۔ په دے اوریدو سره سیدنا فاروق اعظمؓ په ډیر سکون سره اوفرمائیل " بنه ده۔ لږ حصار شی! اوس راځم۔" په دے وینا سره ئے کور ته تشریف یوړو، کله چه واپس راغے نو توره ئے په لاس کښې ده، راتلو سره ئے په ډیر اطمینان سره دَ هغه نافق سر قلم کړو۔ بیا ئے اوفرمائیل چه " څوک دَ رسول الله ﷺ په فیصلے باندے راضی نه وی نو هغه دَ پاره دَ عمرؓ همدا فیصله وی۔"

اګرچه پورتنے آیت عام دے، دَ دے واقعے سره خاص نه دے لیکن مقصد دا دے چه په خپلو کښې دَ خصومت او جهګړے وخت کښې دَ رسول الله ﷺ دَ شرعی فیصلے نه اعراض کول دَ یو مسلمان کار نشی کیدے۔ داسے کونکے صرف منافق کیدے شی۔ الله تعالیٰ دے مونږ دَ داسے منافقت نه بچ کړی۔ آمین۔

په دے بنا باندے یو فرمان بردار امتی دَ پاره دَ نبی کریم ﷺ دَ سنت اطاعت کول ضروری او فرض دی۔ دَ نبی کریم ﷺ اطاعت دومره وسیع معنیٰ لری چه امتی خو څه کړے کهٔ چرے نور پیغمبران علیهم السلام هم نن په دے دنیا کښې ژوندی موجود وے نو په هغوی باندے به هم دَ نبی ﷺ

تابعداری لازمی وه۔ په یو موقع باندے نبی کریم ﷺ اوفرمائیل :

﴿لَقَدْ جِئْتُكُمْ بِهَا بَيْضَآءَ نَقِيَّةً وَلَوْ كَانَ مُوسٰى حَيًّامَا وَسِعَهٗ اِلَّا اتِّبَاعِىْ﴾ [مشکوٰة ، باب الاعتصام]

”یقینا ما تاسو له روښانه او صفا شریعت راؤړے دے که چرے (نن) سیدنا موسیٰ علیه السلام هم ژوندے وے نو هغه له هم څما دَ تابعدارئ نه بغیر چاره نه وه۔“

لیکن افسوس چه کومو خلقو دا ارشادات شاته غوزولی دی ، دَ نبی ﷺ سنت ئے پریخی دی او په خپلو جوړو کړو طریقو باندے ئے تلل شروع کړی دی هغوی په حقیقت کښے دَ غیرو خلقو نقلیان جوړ شوی دی، دَ نورو خلقو تهذیب او کلچرئے په خوشحالئی سره خپل کړے دے او بیا هم دَ نبی ﷺ دَ امتی کیدلو دعویدار دی او وائی چه مونږه خو مسلمانان یو، الله او رسول منو ، په قرآن او سنت باندے عمل کونکی یو۔ حالانکه دَ هغوی دا دعویٰ زعمِ باطل یو غلط خیال او صرف دهوکه ده۔ هرکله چه مونږ سره دَ نبی کریم ﷺ موزون ترین اسلوبِ زندګی(سنت مطهره)موجود دے و مونږ له دَ غیرو طریقو، دَ هغوی رواجونه او دَ هغوی ګنده تهذیب یا نام نهاد کلچر طرفته پسخیدونکی نظر سره دَ کتلو څه ضرورت دے۔ قرآن پاک په داسے خلقو باندے رد کوی:

﴿اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ يَزْعُمُوْنَ اَنَّهُمْ اٰمَنُوْا بِمَا اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمَا اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ وِيُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّتَحَاكَمُوْا اِلَى الطَّاغُوْتِ وَقَدْ اُمِرُوْآ اَنْ يَّكْفُرُوْا بِهٖ ط وَيُرِيْدُ الشَّيْطٰنُ اَنْ يُّضِلَّهُمْ ضَلٰلًا بَعِيْدًا﴾ [نسآء:٦٠]

" آیا تا نه دی کتلی هغه خلقو ته ځوک چه دا دعویٰ کوی چه کوم کتاب په تا باندے نازل شوے دے او کوم کتابونه چه تا نه مخکښے نازل شوی دی په هغه ټولو باندے ایمان لری لیکن هغوی خپلے فیصلے (مقدمے) غیر الله (دَ قرآن او سنت خلاف ،سرکش) له اوړل غواړی حالانکه دوی ته دَ هغه نه دَ انکار کولو حکم ورکړے شوے دے او شیطان خو دا غواړی چه دوی ګمراه کړی په لرے ګمراه کولو سره"

## ﴿دَ نبی ﷺ تابعداری په فعل او ترک دواړو کښې ده﴾

مونږ باندے په حیثیت دَ امتی دَ نبی کریم ﷺ تابعداری په هر صورت کښې لازمه ده خواه کښې یو کار هغوی ﷺ کړے وی نو مونږ به هم هغه کوؤ او که یو کار ئے نه وی کړے نو مونږ به هم دَ هغوی په تابعداری کښې هغه کار هرګز نه کوؤ ، په دے شرط چه دغه فعل یا ترک دَ نبی ﷺ دَ خصوصیاتو نه نۀ وی۔ ولے چه مونږه دَ نبی ﷺ فعلاً او ترکاً امتیان یو۔ دَ باری تعالیٰ ارشاد دے:

﴿وَمَا اٰتَاكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا﴾[حشر:۷]

" او څه چه رسول ﷺ تاسو له درکړی نو هغه واخلئی او چه دَ څه نه مو منع کړی ئ نو هغه پریږدئ"

مطلب دا چه دَ کوم څیز یا کار نه مونږ نبی ﷺ منع کړی یو چه دا کار مه کوئ نو هغه کار نه به مونږ ځان ساتو ۔ چه دَ کومے طریقے او عمل کول ئے راته وئیلے وی نو دَ هغے اتباع او پیروی کول په مونږ باندے لازم دی۔او زمونږه بهتری خو په دے کښې په خپل ځائے هسے هم ده ۔ معلومه شوه چه اتباع عامه ده خواه که په فعل کښې وی یا په ترک

کښې وي، یعنې کـه چرې یو کار نبي ﷺ کړې وي نو دَ هغې کول تابعداري ده او کـه یو کار هغوی ترک کړې وي او دَ هغې دَ کولو هیڅ ثبوت دَ نبي ﷺ نه نۀ وي نو دَ هغې ترک کول هم عین تابعداري ده۔

ملا علي قاريؒ فرمائي:

﴿وَالْمُتَابِعَةُ كَمَا تَكُوْنُ فِى الْفِعْلِ تَكُوْنُ فِى التَّرْكِ اَيْضًا﴾ [مرقات:۱/۴۱]

"تابعداري څرنګ چه په فعل کښې ده همدغه رنګ به په ترک کښې هم وي۔"

همدغه شان شيخ عبد الحق دهلويؒ هم فرمائي:

"واتباع ہم چنانچکہ درفعل واجب است در ترک نیز مے باید کرد۔ [اشعة اللمعات:۱/۲۰۲]

یعنې اتباع څنګه چه په فعل کښې واجب ده همدغه شان په ترک کښې هم (واجب او ضروري) کيدل پکار دي۔

علامه سید جمال الدین المحدث فرمائي:

﴿ تَرْكُهٗ ﷺ سُنَّةٌ كَمَا اَنَّ فِعْلَهٗ سُنَّةٌ ﴾

[اللجنة لاصحاب السنه:۴۳، بحواله منهاج الواضح]

"دَ نبي ﷺ یو څیز یا کار ترک کول هم سنت دي څنګه چه دَ نبي ﷺ فعل سنت دے۔"

مشهور تابعي سعید بن المسیبؒ یو سړي اولیدو چه هغه دَ مازیګر مونځ نه پس دوه رکعته نفل کول۔ هغوی دغه سړي منع کړو چه دَ مازیګر مونځ نه پس نفل جائز نه دي ۔ دغه سړي ورته جواب کښې اووې: ﴿اَيُعَذِّبُنِیَ اللّٰهُ عَلَى الصَّلٰوةِ﴾

" آیا الله تعالیٰ به مونږ له په دے مونځ کولو باندے سزا راکوی؟ ولے چه نفل کول خو دَ نیکئی او ثواب کار دے۔" جناب سعید بن المسیبؓ ورته په جواب کښے اوفرمائیل :

﴿لَا وَلٰكِنْ يُعَذِّبُكَ بِخِلَافِ السُّنَّةِ﴾

په مونځ کولو باندے خو به تا له سزا نه درکوی البته دَ خپل محبوب پیغمبر ﷺ دَ سنت مخالفت په وجے سره به الله تعالیٰ ضرور سزا درکوی۔" [سنن دارمی]

پورته ذکر شوے بحث په اصل کښے دَ هغه خلقو جواب هم دے ځوک چه دَ خپل یو بدعت او رسم ثابتولو دَ پاره وائی چه که چرے دا کار دَ نبی ﷺ نه ثابت نه دے نو هغوی خو ترے منع هم نه ده فرمائیلے۔ په دے وجه دَ دے کار په کولو کښے هیڅ بدوالے نیشته۔

په حقیقت کښے دے خلقو فرمان بردار امتی کیدل او تابعداری کول هډو پیژبدلی نه دی ولے چه د اتباع مطلب خو دَ پیغمبر ﷺ په هرفعل او ترک باندے سرته سر اخستل دی۔

سر م خم دے ستا دَ حکم په تعظیم

ستا هر حکم ته م زړه کړلو تسلیم [عارف]

## ﴿دَ صحابوؓ دَ سنت تابعداری﴾

همدغه شان که چرے یو کار صحابه کرامؓ کړے وی نو هغه هم سنت دے او مونږ دَ پاره دلیل دے ولے چه دَ صحابهؓ دَ سنت او طریقو تابعداری کول هم په مونږ باندے لازم دی ۔ څنګه چه ارشاد نبوی ﷺ دے۔

﴿عَلَيْكُمْ بِسُنَّتِيْ وَسُنَّةِ الْخُلَفَآءِ الرَّاشِدِيْنَ الْمَهْدِيِّيْنَ﴾ [مشکوٰة]

” په تاسو باندے لازم دی چه زما او زما دَ خلفائے راشدینو سنت په مضبوطیا سره اونیسئی“

همدغه شان سیدنا عبد الله بن مسعودؓ فرمائی:

﴿مَنْ كَانَ مِنْكُمْ مُسْتَنًّا فَلْيَسْتَنَّ بِاَصْحَابِ مُحَمَّدٍ ﷺ (وَفِىْ رِوَايَةٍ) فَلْيَسْتَنَّ بِمَنْ قَدْ مَاتَ فَاِنَّ الْحَىَّ لَا تُؤْمَنُ عَلَيْهِ الْفِتْنَةُ اُولٰٓئِكَ اَصْحَابُ مُحَمَّدٍ ﷺ كَانُوْا اَفْضَلَ هٰذِهِ الْاُمَّةِ اَبَرَّهَا قُلُوْبًا وَاَعْمَقَهَا عِلْمًا وَاَقَلَّهَا تَكَلُّفًا وَاَقْوَمَهَا هَدْيًا وَاَحْسَنَهَا حَالًا اَخْتَارَهُمُ اللّٰهُ تَعَالىٰ لِصُحْبَةِ نَبِيِّهٖ وَلِاِقَامَةِ دِيْنِهٖ فَاعْرِفُوْا لَهُمْ فَضْلَهُمْ وَاتَّبِعُوْهُمْ عَلٰى اٰثَارِهِمْ وَتَمَسَّكُوْا بِمَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ اَخْلَاقِهِمْ وَسِيَرِهِمْ فَاِنَّهُمْ كَانُوْا عَلَى الْهُدَى الْمُسْتَقِيْمِ﴾ [مشکوٰۃ، باب الاعتصام]

په تاسو کښې چه څوک اقتداء کوی نو پکار دی چه دَ محمد ﷺ دَ اصحابو پیروی دے اوکړی ـ او په یو روایت کښے دی چه دَ هغه بزرګانو اقتداء دے اوکړی کوم چه وفات شوی وی، ولے چه ژوندی (خلق) دَ فتنو نه محفوظ کیدے نشی ، او دغه خلق دَ محمد ﷺ اصحاب دی کوم چه دَ دے امت بهترین خلق وو او بیحده نیک دل او ژور علم والا او ډیر کم تکلف والا او کم بناوټ والا وو، الله تعالیٰ هغوی لره دَ خپل نبی ﷺ صحبت دَ پاره او دَ دین اقامت دَ پاره منتخب کړی دی، دَ دوی فضیلت او پیژنئی او دَ دوی په نقش قدم باندے ځئی او څومره چه کیدے شی دَ دوی اخلاق او سیرت دَ لارے مشال جوړ کړی ولے چه دغه حضرات رضی الله عنهم یقینا په نیغ هدایت باندے وو ـ“

په بل ځائے کښے هم دَ ابن مسعودؓ ارشاد دے:

﴿ اِتَّبِعُوْا اٰثَارَنَا وَلَا تَبْتَدِعُوْا فَقَدْ كُفِيْتُمْ﴾ [اعتصام:۱/٥٤]

" زمونږ په نقش قدم باندے ځی او دَ خپل طرفنه بدعات مه ایجاد کوئ ولے چه (دین مکمل شوے دے او) همدا تاسو دَ پاره دَ شر نه بچ کیدلو دَ پاره کافی ده۔"

دَ امام احمد فرمان دے چه: دَ سنت بنیاد زمونږ په نزد د صحابه کرامؓ په عمل باندے مضبوطیا سره کلک اوسیدل ، دَ هغوی پیروی کول او بدعت پریښودل دی ولے چه هر بدعت (په دین کښے نوے کار) دَ ګمراهئی ذریعه ده" [بحواله اصول السنة]

او پخپله رسول الله ﷺ هم دَ صحابه کرامؓ تابعداری ضروری ګرځولے ده۔

﴿قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَيَأْتِيَنَّ عَلٰى أُمَّتِىْ كَمَا اَتٰى عَلٰى بَنِىْ اِسْرَائِيْلَ حَذْوَالنَّعْلِ بِالنَّعْلِ حَتّٰى اِنْ كَانَ مِنْهُمْ مَنْ اَتٰى اُمَّهٗ عَلَانِيَةً لَكَانَ فِىْ أُمَّتِىْ مَنْ يَّصْنَعُ ذٰلِكَ وَاِنَّ بَنِىْ اِسْرَائِيْلَ تَفَرَّقَتْ عَلٰى ثِنْتَيْنِ وَسَبْعِيْنَ مِلَّةً وَتَفْتَرِقُ اُمَّتِىْ عَلٰى ثَلٰثٍ وَّسَبْعِيْنَ مِلَّةً كُلُّهُمْ فِى النَّارِ اِلَّا وَاحِدَةً﴾

[مشکوٰة ، باب الاعتصام]

یو ځل نبی ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه " ځما امت کښے به هم هغه تهولے بدیانے راشی کومے چه بنی اسرائیلو کښے راغلے وے بالکل برابر په برابر ، تردے پورے چه که چرے بنی اسرائیلو کښے څوک داسے بدبخته تیر شوے وی چا چه په ډاګه خپل مور سره مخ تور کړے وی نو ځما په امت کښے به هم څوک داسے بدبخت وی چه داسے به اوکړی ۔ او بنی اسرائیل په دوه اویا فرقو کښے تقسیم شوی وو او ځما امت به په درے اویا فرقو کښے تقسیمیږی او دا تهول به دوزخیان وی سوا دَ یوے

فرقے نه چه هغه به جنتی وی ۔ نو صحابه کرامؓ عرض اوکړو :

﴿مَنْ هِیَ یَا رَسُوْلَ اللّٰہِ﴾

هغه نجات موندونکے فرقه به کومه وی؟ نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: ''مَا اَنَا عَلَیْهِ وَاَصْحَابِیْ'' یعنی دَ فساد او گمراهئی او جهنم نه نجات موندونکی هغه خلق دی ثوک چه هغه کارونه کوی کوم چه ما او زما اصحابوؓ کړی دی یعنی ثوک چه زما او زما دَ اصحابوؓ دَ سنت تابعداری کوی۔''

او دَ صحابهؓ سنت ترک کولو او دَ هغے په مقابله کښے دَ خپل طرفنه نوے طریقے (بدعات) راویستلو په باره کښے ابراهیم نخعیؒ فرمائی: ﴿فَکُلُّ مَا لَمْ یَفْعَلُوْهُ اِذَا فُعِلَ بَعْدَهُمْ کَانَ نُقْصَانًا فِی الدِّیْنِ﴾

[مدخل، بحواله اصول السنة]

'' پس هر هغه کار کوم چه صحابه کرامؓ نه وی کړے او دَ هغوی نه پس اوکړے شی نو هغه به په اصل کښے دین کښے (عیب او) نقصان وی۔'' سیدنا حذیفه بن یمانؓ فرمائی چه:

﴿کُلُّ عِبَادَةٍ لَمْ یَتَعَبَّدْهَا اَصْحَابُ رَسُوْلِ اللّٰہِ ﷺ فَلَا تَعْبُدُوْهَا فَاِنَّ الْاَوَّلَ لَمْ یَدَعْ لِلْاٰخَرِ مَقَالًا فَاتَّقُوا اللّٰہَ یَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِیْنَ وَخُذُوْا بِطَرِیْقِ مَنْ کَانَ قَبْلَکُمْ﴾ [اعتصام:۱/۱۱۳]

هر هغه عبادت چه دَ پیغمبر ﷺ اصحابو نه وی کړے هغه مه کوی۔ ولے مخکښنو خلقو (صحابه کرامؓ) روستو تلونکو دَ پاره هیڅ کسر نه دے پریخے ۔ اے مسلمانانو! الله نه اویریږئ او دَ مخکنو خلقو(صحابه کرامؓ) طریقے راوینسئی ( په هغے باندے عمل اوکړے)''

غرض دا چه دَ نبی کریم ﷺ او صحابه کرامؓ دَ سنت دَ تابعدارئ اهمیت تر مخه مونږ باندے دَ هغوی دَ سنت تابعداری کول لازم دی۔

بلکه دَ فساد په دور کښ کله چه خلق دَ سنتو پریخودنکی جوړ شی او دَ سنت په مقابله کښ دَ بدعاتو او رسوماتو پابند شی نو هغه وخت په سنت باندے دَ عمل کونکو په باره کښے نبی کریم ﷺ ارشاد اوفرمائیلو: ﴿مَنْ تَمَسَّكَ بِسُنَّتِیْ عِنْدَ فَسَادِ اُمَّتِیْ فَلَهٗ اَجْرُ مِائَةِ شَهِیْدٍ﴾ [مشکوٰۃ ، باب الاعتصام]

" یعنی چا چه زما دَ امت دَ فساد په دور کښے (کله چه دَ سنت ځائے بدعت اغستے وی) او زما سنت په مضبوطیا سره اونیول (په هغے باندے عمل کونکے شو) نو هغه دَ پاره دَ سلو شهیدانو هومره اجر دے۔"

دَ دے برعکس مونږ له دَ سنت مخالفت نه بچ کیدل دی ۔ ولے چه دَ سنت ترک کونکی او دَ بدعاتو کونکو باندے دَ الله لعنت او غضب دے۔"

﴿قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَبْغَضُ النَّاسِ اِلَی اللّٰهِ ثَلٰثَةٌ مُلْحِدٌ فِی الْحَرَمِ وَمُبْتَغٍ فِی الْاِسْلَامِ سُنَّةَ الْجَاهِلِیَّةِ وَمُطَّلِبُ دَمِ اِمْرِءٍ مُسْلِمٍ بِغَیْرِ حَقٍّ لِیُهْرِیْقَ دَمَهٗ﴾ [مشکوٰۃ]

رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه " په خلقو کښے درے کسان دَ الله په نزد ډیر مبغوض دی په حرم کښے کج روی (گناه او فساد) کوؤنکے، په اسلام کښے دَ جاهلیت دَ رسوماتو پابندی کوؤنکے ، او هغه سړے چه دَ یو مسلمان دَ وینے په ناحقه دَ بهیولو طلب گار وی۔"

اوس چونکه سنت پریخودل او دَ خپل طرفنه دَ ثواب په نوم باندے نوے طریقے یعنی بدعات راویستل یو بد ترین جرم دے ، په دے

وجـه دَ بـدعـت قبـاحـت او معنیٰ او مفهوم پیژندل هم ډیر ضروری دی دَ پاره دَ دے چه دَ بدعت په باره کښے ځان پو هولو نه پس مسلمانان خپل ځانونه دَ دے نه بچ کړی۔

## ﴿دَ بدعت قباحت﴾

دَ ټـولـو ګـنـا هـونـه نه زیاته او دَ شرک نه پس ټولو نه لویه ګناه بـدعـت دے ، کوم چه دَ معافئی قابل هم نه دے او په قیامت کښے دَ نبی کـریم ﷺ دَ شفاعت نه دَ محرومو الی سبب هم دے ۔ او ورسره بیا دَ نبی کـریـم ﷺ سنت پریښودل ، دَ هغے مخالفت کول او بدعت راویستل په دنیا او آخرت کښے هم دَ عذاب سبب دے ۔ الله تعالیٰ فرمائی:

﴿فَلْيَحْذَرِ الَّذِيْنَ يُخَالِفُوْنَ عَنْ اَمْرِهٖ اَنْ تُصِيْبَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ﴾ [نور:٦٣]

”پس یـره دے اوکـړی هـغـه خلق څوک چه دَ رسول الله ﷺ دَ حـکـم نـه مـخـالـفـت کـوی چـه چـرتـه په دوی باندے څه زبردست آفت راپرونه ځی یا ورته دردناک عذاب او نه رسی۔“

په یو بل مقام کښے دَ نبی کریم ﷺ او دَ صحابه کرامو رضی الله عنهم دَ سنت مخالفت کوؤنکو په باره کښے قرآن فرمائی :

﴿وَمَنْ يُشَاقِقِ الرَّسُوْلَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدٰى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيْلِ الْمُؤْمِنِيْنَ نُوَلِّهٖ مَا تَوَلّٰى وَنُصْلِهٖ جَهَنَّمَ وَسَآءَتْ مَصِيْرًا﴾ [نساء:١١٥]

” او څـوک چـه دَ نیغے لارے معلو میدلو نه پس دَ پیغمبر ﷺ مـخـالـفـت کوی او دَ مؤ منانو (صحابهؓ،تابعینو رح او تبع تابعینو رح) دَ لارے نه سوا په بله لاره باندے ځی نو کوم طرفته چه هغه تلل کوی مونږ به ئے هم هـغـه طـرفـتـه تـلـلـو ته پریدو او (دَ قیامت په ورځ) هغه به جهنم ته

داخل کړو۔ او دا جهنم ډیر بد ځائے دے۔"

قرآن پاک کښے یو ځائے کښے الله تعالیٰ دَ بدعتیانو خلقو حال بیانوی چه څوک صحیح دین او دَ نبی ﷺ سنت پریدی او دَ خپل طرفنه په دین کښے نوے طریقے او بدعات ایجاد کوی او په هغے باندے عمل کولو سره خوشحالیږی چه مونږه دَ دین او ثواب ډیر لوئے کار کړے دے ۔ لیکن الله تعالیٰ فرمائی دَ دوی دا کار ضائع او بے اجره او بے ثوابه دے۔ ولے چه دا دَ نبی ﷺ په طریقے باندے نه دے۔

ارشاد ربانی دے:

﴿قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْاَخْسَرِيْنَ اَعْمَالًا ۝ اَلَّذِيْنَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ يُحْسِنُوْنَ صُنْعًا ۝﴾[کهف:۱۰٤]

" دوی ته اووایه چه آیا زۀ تاسو ته هغه خلق او نه ښایم څوک چه د اعمالو په اعتبار سره دَ ټولو نه زیات خسارے والا دی ۔ دا هغه خلق دی چه دَ دوی سعی (کوشش) دَ دنیا په ژوند کښے ضائع لاړو، او دوی گمان کوی چه مونږه ډیر ښۀ کارونه کوؤ۔"

دَ سیدنا علی المرتضیٰ ؓ نه ﴿اَلَّذِيْنَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ﴾ په باره کښے مروی دی چه ﴿بِاَنَّهُمْ اَهْلُ بِدْعَةٍ﴾ دا خلق بدعتیان دی، دَ دے وجے دَ دوی دا کوشش او عمل بے فائدے او ضائع دے۔" [بحواله اصول السنة]

دَ نبی کریم ﷺ هم فرمان دے:

﴿مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيْهِ اَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ﴾ [بخاری]

" چا چه یو داسے عمل اوکړو کوم باندے چه زمونږ دَ طرفنه ثبوت موجود نه وی (یعنی په سنت طریقه باندے نه وی) نو هغه عمل

به مردود او نامنظور وی۔“

دَ کلام پاک دَ دے آیت او حدیث نبوی ﷺ نه ثابته شوه چه دَ بدعتی هیڅ عمل دَ الله په نزد دَ قبلوالی شرف حاصلولے نشی بلکه په یو روایت کښے خو دَ بدعتی دَ اعمالو نه قبلیدو باره کښے صفا طور باندے دا الفاظ راغلی دی:

﴿لَا تُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلَا عَدْلٌ﴾ [مشکوٰۃ:۲۳۸/۱،بخاری:۲۵۱/۱،ابن ماجه:۶]

نه خو به دَ هغه فرضی عبادت قبول کړے شی او نه نفلی۔“

او هر کله چه دَ بدعتی خپل عبادت قبول نه شو نو په دے وجه فقهاؤ او علماء کرامو بدعتی پسے مونځ کول مکروه تحریمی ګرځول دی۔ دَ دے تولو خرابو په وجے سره نبی کریم ﷺ دَبد عت نه بچاؤ باندے ډیر زور ورکړے دے او فرمائیلی دی:

﴿اِيَّاكُمْ وَمُحْدَثَاتِ الْاُمُوْرِ فَاِنَّ كُلَّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ﴾ [مشکوٰۃ]

”تاسو په دین کښے دَ نوؤ نوؤ خبرو نه ځان اوساتئی ولے چه هر نوے څیز بدعت دے او هر بدعت ګمراهی ده۔“

دَ امام نسائیؒ په روایت کښے مزید دا الفاظ هم موجود دی:

﴿وَكُلَّ ضَلَالَةٍ فِی النَّارِ﴾ [نسائی:۱۷۹/۱]

او هره ګمراهی اور ته بوتلونکے ده۔

بدعت دومره لویه ګناه او قبیح فعل دے چه نبی ﷺ دَ بدعت کوؤنکی سړی دَ اکرام او تعظیم نه هم مونږه منع کړی یو۔“

ارشاد نبوی ﷺ دے:

﴿مَنْ وَقَّرَ صَاحِبَ بِدْعَةٍ فَقَدْ اَعَانَ عَلٰی هَدَمِ الْاِسْلَامِ﴾ [مشکوٰۃ:۳۱/۱]

" چا چه دَ بدعتی انسان تعظیم او عزت اوکړو نو هغه گویا دَ اسلام په غورزولو کښې دَ دغه بدعتی مدد او اعانت اوکړو۔ ولے چه بدعتی خو دَ دین عمارت غورزوی)

همدا وجه ده چه صحابه کرامؓ او دَ امت اسلافو (رحمهم الله) به دَ بدعت او اهل بدعت نه انتهائی نفرت کولو۔

یوه ورځ سیدنا عبد الله ابن عمرؓ له یو سړی دَ چا سلام راؤړو، دَ دے نه مخکښې سیدنا ابن عمرؓ ته دَ دغه سړی په باره کښې دا خبر رسیدلے وو چه هغه څه بدعت ایجاد کړے دے ۔ نو سیدنا ابن عمرؓ ورته جواب کښې اوفرمائیل: ﴿فَان كَانَ قَدُ اَحُدَثَ فَلاَ تُقُرِئهُ مِنِّیَ السَّلاَمَ﴾

[ترمذی:۲/۳۸،مشکوٰة:۱/۲۳]

که چرے واقعی دغه سړی بدعت ایجاد کړے وی نو په هغه باندے زما (جوابی) سلام مۀ وایه۔"

سیدنا ابو سعید خدریؓ او سیدنا سهل بن سعدؓ دَ نبی کریمﷺ نه روایت کوی دَ هغے حاصل دا دے چه:

" دَ قیامت په ورځ چه کله رسول اللهﷺ خپل امتیان دَ حوض کوثر نه سیراب کولو دَ پاره ابتدائی انتظاماتو کښې مصروف وی او دَ خپلو امتیانو دَ راتلو په انتظار به وی نو دغه وخت به څه خلق نبیﷺ ته دَ رسیدلو نه مخکښې حصار کړے شی او هغوی به جهنم طرفته اودیکلے شی۔ په دے به نبی کریمﷺ الله ته عرض اوکړی چه یا الله ! دا خلق خو زما امتیان دی او ماسره تعلق لرونکی دی نو دَ الله تعالیٰ دَ طرفنه به ورته جواب ملاؤ شی چه دوی دی خو بیشکه ستا

امتیـان لیـکـن تـا تـه دَ دوی عـمـلـونه معلوم نه دی۔دے خلقوبه په دین کښے قسم قسم بدعتونه راویستل په دین کښے به ئ تبدیلی کولے او دَ نیغے لارے نه همیشه اوړیدلے وو۔ په دے وجه حوض کوثر نه به دوی ته اوبۀ نه ملاویږی۔"[بخاری:۹۷٤/۲،مسلم:۲٤/۲]

ام الـمـؤمـنیـن سیده عایشه صدیقه ؓ فرمائی چه :بدعتی سره مۀ کینئی ولے چه دے سره زړۀ مړ کیږی۔"

ابن امیر الحاج ؒ لیکی :

﴿فَلْيَحْذَرْ اَنْ يَّزُوْرَ اَحَدًا مِنْ اَهْلِ الْبِدَعِ﴾ [مدخل:۲/٤۲۱]

یعنی سړی له بدعتیانو سره دَ میل جول په باره کښے یریدل پکار دی۔"

خواجه نظام الدین اولیاء ؒ دَ بدعت په باره کښے فرمائی چه:

"بـدعـت از مـعـصـیـت بالا تر است و کفر از بدعت بالا تر ، بدعت بکفر نزدیک است۔" [فوائد الفواد:۱۰۹،بحواله منهاج الواضح:۷۳]

" یعنی دَ بدعت قباحت او خرابی دَ عامے گناه نه زیاته ده او کفر دَ بدعت نه زیات دے او بدعت کفر ته نزدے دے۔"

## ﴿دَ بدعت معنیٰ او مطلب﴾

دَ بـدعـت لـفظی معنیٰ ده نوے څیز پیدا کول ۔ او دَ شریعت په اصـطـلاح کښے بدعت وائی هغه نوے څیز ، کار او طریقے ته کومه چه پـه دیـن کښے دَ خپل طرفنه راؤستے شی او دَ ثواب په نیت سره اوکړے شی ، چه دَ هـغـے ثبـوت او وجـود په قرآن او سنت ، دَ صحابه کرامو ؓ او سـلفو صالحینو ، ائمه مجتهدینو یعنی خیر القرون (قرون ثلاثه) کښے نه وی ۔ دَ لغت په کتابونو کښے هم دغه معنیٰ لیکلے شوے ده ۔

البدعه: بغیر نمونے نه جوړ شوے څیز، په دین کښے نوے رسم، هغه عقیده یا عمل چه دَ هغے هیڅ اصل په قرون مشهود لها بالخیر کښے ملاؤ نه شی۔ [مصباح اللغات:۲۷]

حافظ ابن رجبؒ دَ بدعت معنیٰ لیکی:

﴿وَالْمُرَادُ بِالْبِدْعَةِ مَا اَحْدَثَ مِمَّا لَا اَصْلَ لَهٗ فِی الشَّرِیْعَةِ یَدُلُّ عَلَیْهِ﴾

[جامع العلوم والحکم:۱۹۳]

”دَ بدعت نه مراد هغه څیز دے دَ کوم چه په شریعت کښے هیڅ اصل موجود نه وی کوم چه په دے باندے دلالت اوکړی۔“

مولانا شبیر احمد عثمانیؒ فرمائی:

”بدعت وائی داسے کار کول چه دَ هغے اصل په کتاب او سنت او قرون مشهود لها بالخیر کښے نه وی او هغه دَ دین او ثواب کار ګڼړلو سره اوکړے شی۔ [حمائل شریف:۷۰۳]

همدا معنیٰ مفتی اعظم هند مفتی محمد کفایت الله دهلویؒ هم په تعلیم الاسلام کښے کړے ده۔

نو دَ دے نه معلومه شوه چه نبی کریم ﷺ کوم تعلیم دنیا ته راوړے دے، دَ کومو عقائدو تلقین چه هغوی خپل امت ته فرمائیلے دے، دَ احکامو کومه طریقه عمل چه هغوی ﷺ متعینه فرمائیلے ده په هغے کښے دَ بهر نه اضافه بدعت دے۔

دے نه دَ بدعت حقیقت ظاهر شو، کوم چه رسول الله ﷺ راوړلے شوی او ښودلی شوی دین کښے نیشته ۔ نه دَ ده اصل او نه دَ ده نظیر موجود وی او نه قرآن او حدیث نه مستنبط وی۔

چونکه دَ دین په هر کار کښې دَ اجر او ثواب وعده ده ، دَدې هر کله چه یو څیز دین یا په دین کښې داخل اوګڼړلے شی نو په هغې باندې ثواب هم مرتب ګڼړل ضروری وی۔

په دې وجه هرکله چه یو څیز بدعت وی نو یقینا هغه به دَ ثواب نه خالی وی بلکه په وجه دَ هغه دَ مردود کیدلو او ضلالت کیدلو به دَ هغه په کولو کښې دَ ثواب په ځائے ګناه وی۔

اوس غور اوکړئ چه دَ مسلمانانو عقیدې ، اعمال ، عبادات او غم ښادی او په نورو تقریباتو کښې چه کومې نوې طریقې او رسمونه په ثواب ګڼړلو سره ادا کولے شی هغه کومه پورې دَ ثواب ذریعه کیدې شی ۔

دَ دې تشریح نه ظاهره شوه چه دَ یو خبرې بدعت ګرځولو دَ پاره ضروری ده چه دغه اضافه دې دَ دین دَ امورو نه وی ، که چرې هغه دَ دینی امورو نه نۀ وی نو مذهبی حیثیت سره به هغې ته بدعت نه وایو ۔ مثلا څوک دَ نوی طرز یو عمارت جوړ کړی ، څوک یو نوې مشین جوړی کړی ، څوک یو نوې آله ایجاد کړی ، دَ سائنس دَ یو مسئلے نوې تحقیق اوکړی ، دَ علاج یو نوې طریقه ایجاد کړی وغیره نو دې ټولو څیزونو ته به بدعت نه وایو ۔

دې خبرې سره دَ هغه خلقو جواب هم اوشو څوک چه کله دَ یو حق پرست دَ بدعاتو په باره کښې ناشاندهی کولو نه تنګ شی نو دَ طنز په انداز کښې دَ خپل طرفنه دَ الزامی جواب ورکولو ناکام کوشش کوی او وائی چه صاحبه! که چرې هر نوې څیز بدعت وی نو بیا خو دا هوائی جهاز ، دا موټر ، دا ائیر کنډیشن، پکی، دا جدید سهولتونه ، بیا

خو دا هر څه بدعت شو۔

خبره واضحه شوه چه دَ بدعت پېژندل دا دي چه دَ دې کونکې په خپل دغه کار کښې دَ ثواب اعتقاد لري او ظاهره ده چه په یو کار کښې ثواب یا عذاب کېدل په عقل سره معلومېدې نشي ۔ ثواب یو توقیفي څیز دې ، دَ دې دَ معلومېدلو لاره صرف یوه ده او هغه وحي نبوي ﷺ ده۔

بس دَ دې تفصیل تر مخه دَ بدعت مصداق سره هغه تمام نوي څیزونه اووتل کوم چه اګر که په قرون ثلاثه کښې خو نه وو، روستو پیدا شول ، لیکن هغې لره دَ دین او ثواب ګڼړلو نه بغیر وسائل او ذرائع ګڼړلو سره جوړ کړې شوي یا راویستلي شوي وي مثلا ریل ګاډې ، هوائي جهاز، موټرې ، ټیلفون ، لاؤډ سپیکر، پکې وغیره۔ اګرچه دا څیزونه دَ نبي کریم ﷺ او صحابه کرامؓ په دور کښې موجود نه وو لیکن دا بدعت په دې وجه نه وي چه دا ذرائع او اسباب دي او په ذرائعو او اسبابو کښې بدعت نشي کېدې۔

دویمه خبره چه خلق دَ دې استعمال ثواب او دین ګڼړلو سره نه کوي بلکه دا ټول څیزونه صرف دَ اسبابو او وسائلو حده پورې دي او بس ۔ حاصل دا چه یو نوې څیز (اسباب او آلات) پیدا کول کوم چه دَ دین او ثواب په نیت سره نه وي ، البته مباح دې ضرور وي نو هغه بدعت نه دې بلکه جائز دې ۔ ولې چه حدیث پاک کښې هم بدعت هغه څیز ته وئیلې شوې دې کوم چه دَ دیني امورو نه وي ،نه چه په وسائلو او ذرائعو کښې وي ۔

دَ ام المؤمنین سیده عائشه صدیقه طاهرهؓ نه روایت دې چه

نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی:

﴿مَنْ اَحْدَثَ فِیْ اَمْرِنَا هٰذَا مَا لَیْسَ مِنْهُ فَهُوَ رَدٌّ﴾

" چا چه زمونږ په دین کښے یو نوے څیز ، خبره راؤیسته کومه چه په دے دین کښے نه وی نو هغه به مردوده وی۔"

محدثینو لیکلی دی چه دَ ﴿فِیْ اَمْرِنَا هٰذَا﴾ نه مراد دے ﴿ اَیْ فِیْ دِیْنِنَا هٰذَا﴾ یعنی زمونږ په دے دین کښے۔

دغه شان دَبدعاتو بے شماره مثالونه زمونږه خلقو کښے ملاویږی دَ کومو چه نه دَ قرآن او سنت نه څه ثبوت ملاویږی او نه په قرونِ ثلاثه کښے دَ دے وجود یا مثل موجود وو۔ مثلا دَ خپل طرفنه شرکیه وظائف او اوراد او من گهړت درورد او سلام وغیره۔

هاؤ! دَ بعضو وجود اگرچه په قرآن او سنت کښے موجود دے لیکن بدعت والا خلق په دغه عباداتو کښے دَ خپل طرفنه دَ تخصیص او قید اضافه کوی ، لکه په عباداتو او صدقاتو کښے دَ خپل طرفنه دَ ورځو او وختونو تخصیص۔ مثلا رسمِ قل (دَ مړی دریمه) څلویښتی ، کال ، دَ زیارت ورځ خیرات او ایصال ثواب دَ پاره خاص کول ، او دَ امامانو په جوماتونو کښے دَ جُمعے په شپه تبارك الذی (سورت ملک) دَ التزاما لوستلو تخصیص وغیره ۔ یا طریقے او هیئتونه (شکلونه) دَ خپل طرفنه ایجاد کول مثلا دَ جهری ذکر حلقے جوړول ، دَ جنازے او سنتو نه پس په هیئت اجتماعی دَ دعا التزام وغیره ۔ همدغه شان میلاد ، عرس ، حیله اسقاط وغیره ټول بدعتونه دی ، او دا ټول بدعت سیئه دی په دے کښے هیڅ یو حسنه نیشته ۔ او حال دا دے چه الله

تعالیٰ خلق دَ بدعت راویستلو نه منع کړی دی۔ ارشادِ ربانی دے:

﴿ یٓا اَھْلَ الْکِتَابِ لَا تَغْلُوْا فِیْ دِیْنِکُمْ﴾[نساء:۱۷۱]

" اے دَ کتاب والؤ! په خپل دین کښے غلو مه کوئ۔"

علامه سیوطیؒ په درمنثور کښے دَ ﴿لَا تَغْلُوْا﴾ ترجمه ﴿لَا تَبْتَدِعُوْا﴾ سره کړے ده یعنی په دین کښے بدعت مه راؤباسئی ۔ دَ دے آیت لاندے دَ بدعت ټول اقسام خواه که دَ هغے تعلق بدعت اعتقادی سره وی یا بدعتِ قولی او فعلی سره وی ،دَ دے لاندے راځی۔ او دَ بدعت نه علاوه باطل رسم ورواج هم هغه څیز دے کوم نه چه مونږه شریعت منع کړی یو۔ دَ دے نه مراد دَ غیرو (هندوانو ،شیعه ګانو، عیسایانو وغیره ) هغه طور طریقے دی کوم چه دَ مسلمان معاشرے په تدریج سره حصه جوړیدل راروان دی یا دَ خپلو وضع کرده هغه تمام افعال دی کوم چه خلق التزاماً کوی دَ کومو کؤنکے چه قابلِ مدح او ترک کونکے قابل مذمت ګڼړلے کیږی لیکن عموماً دا افعال دَ دین او ثواب په نیت سره نه ادا کیږی بلکه دَ رواج په طور دَ دے پابندی کولے شی ۔ دے ته رسم وائی ۔ دَ مثال په طور زمونږ معاشره کښے موجود دخوشحالئی واده، ښادی ، نکاح، سنت(ختنه) وغیره تقریباتو کښے موجود بے ځایه رواج۔

## ﴿دَ بدعت او فسق په مینځ کښے فرق﴾

بدعت دَ عامے ګناه مثلا دروغو ، قتل ، زنا ، غلا او بیلمازئی وغیره نه دَ دے وجے زیات قباحت لری چه نورو ګناهونو کولو سره بذات خود دین ته څه نقصان نه رسی بغیر دَ دغه ګناه ګار نه ، او د

بدعت کار کولو او راویستلو سره پخپله دین ته نقصان رسیږی او دَ دین اصلی شکل او حُلیه ورانه شی۔

ولے چه گناه کول یعنی دَ مونځ ،روژے وغیره ادا کولو کښے کوتاهی کول په دین کښے کموالے کول دی او بدعت کول په دین کښے زیات والے کول دی ۔ کمی کولو سره ځیز دَ خپل اصل نه نه اوځی او په زیاتی کولو سره ځیز دَ خپل اصل نه اوځی۔ لکه په سالن کښں دَ مالګے یا مرچکی کموالی سره سالن خرابیدے نشی بلکه روستو هم دغه کمے پوره کیدے شی په مالګے یا مرچکی اچولو سره ۔ پس همدا مثال دے په دین کښے دَ کموالی کولو یعنی دَ عامے گناه (مونځ وغیره) نه ادا کولو ۔ لیکن دا کموالے بهر حال پوره کیدے شی ، کله نه کله خو به دے دغه کمے پوره کړی او مونځ وغیره ادا کول به شروع کړی ۔ سره دَ دے چه دغه مونځ نه کونکے گنهګار سړے دغه گناه ، گناه هم ګڼړی او منی ئے ۔ لیکن بل طرفته دَ بدعت مثال په سالن کښے دَ زیاتوالی پشان دے چه که چرے په سالن کښے مالګه یا مرچکے زیات کړے شی نو دَا سالن دَ خپل اصل نه اوځی بیا هغه دَ خوړلو قابل پاتے نشی او دَ دے درست حالت باندے دَ کولو هیڅ لار هم نه وی ولے چه په دے کښے داسے زیاتوالے شوے دے چه دَ هغے اوس هیڅ علاج نیشته۔

همدغه شان بدعت دے چه دا په دین کښے زیاتوالے دے او زیاتوالی سره ځیز دَ خپل اصل نه اوځی ۔ او دویمه غټه خبره دا ده چه بدعت کونکے دا گناه (بدعت) گناه هم نه ګڼړی بلکه دَ ثواب په نیت ئے کوی او دَ دے نه چرے هم دَ منع کیدو اراده نه لری، ولے چه هر بدعتی

بدعت لره دین او ثواب ګڼړلو سره کوی دے دَ پاره خپل بدعت پریخودلو ته تیار نه وی او نه دَ دے نه دَ توبے کولو باره کښے چرے سوچ کوی۔

دَ سفیان ثوریؒ قول دے:

﴿اَلْبِدْعَةُ اَحَبُّ اِلٰی اِبْلِیْسَ مِنْ كُلِّ الْمَعَاصِیْ لِاَنَّ الْمَعَاصِیْ یُتَابُ عَنْهَا وَلَا یُتَابُ عَنِ الْبِدْعَةِ﴾ [مجالس الابرار،بحواله اصول السنة]

یعنی بدعت دَ شیطان په نزد دَ ټولو ګناهونو نه زیات خوښ دے ۔ ولے چه دَ باقی ګناهونو نه خو توبه هم ویستے کیږی او دَ بدعت نه توبه نه ویستے کیږی۔"

ابن سعدؒ دَ ابن غطیفؓ نه نقل کړے دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی:

﴿ مَنْ اَحْدَثَ فِی الْاِسْلَامِ حَدَثًا فَاقْطَعُوْا لِسَانَهٗ﴾ [طبقات الکبریٰ:٤٢/٧]

"کوم سړے چه په اسلام کښے نوے کار راؤباسی نو دَ هغه ژبه پریکړئ۔"

په هر بناء باندے بدعت دَ عامو ګناهونو نه لویه ګناه او قبیح فعل دے او دے وجهے نه شریعت دَ دے نه منع کړے ده ۔ قرآن پاک کښے ارشاد دے:

﴿قُلْ یٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لَا تَغْلُوْا فِیْ دِیْنِكُمْ غَیْرَ الْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعُوْٓا اَهْوَآءَ قَوْمٍ قَدْ ضَلُّوْا مِنْ قَبْلُ وَاَضَلُّوْا كَثِیْرًا وَضَلُّوْا عَنْ سَوَآءِ السَّبِیْلِ﴾ [مائده:٧٧]

"ته اووایه چه اے اهلِ کتابو! په خپل دین کښے ناحقه غلو (زیاتوالے) مه کوئ (یعنی بدعات مه راؤباسئی) او دَ هغه خلقو دَ خواهشاتو پیروی مه کوئ چه مخکښے پخپله هم ګمراه شوی دی او ډیر خلق ئے هم ګمراه کړی دی ، او دَ سمے لارے نه بے لارے شوے دی۔"

## ﴿یو څو مشهور بدعات او رسومات﴾

هغه مشهور بدعات او باطل رسومات کوم چه نه دَ قرآن او سنت نه ثابت دی او نه چرته په قرونِ ثلاثه کښې دَ هغې وجود وو بلکه روستو زمانه کښې دَ خپل طرفنه را ویستلې شوی دی یا دَ خپل طرفنه په عباداتو کښې تعین او تخصیص، هیئت او طریقه اوقات او ځائے مقرر کړې شی دَ کومو ثبوت چه دَ شارع (یعنی نبی ﷺ) نه چرته هم نه ملاویږی، هغه دا دی:

### دَ وادهٔ په موقع باندے:

خصوصا زمونږ برصغیر پاک و هند کښې دَ وادهٔ په موقعه دَ هندوانو دَ مختلفو رسمونو پابندی کولې شی مثلا سرړوته نکریزے لګول، سهره تړل، ځلمے په اس باندے سورول، په جنج باندے تلل، مخ کتونے ورکول، غیره ډکول(ناوے له په غیږ کښې دَ بل چا ماشوم په دے خیال سره ورکول چه دَ وادهٔ نه پس دَ دے ناوے ړومبے اولاد هلک اوشی) او پیزار پټولو غوندے فضول رسمونه۔

دغه شان دَ وادهٔ په موقعه باندے خلقو ته دَ ناوے دَ راوستلو او دَ خلوت نه مخکښې ولیمه ورکول، په پښتنو کښې دَ ګوټ رسم (یعنی دَ کوژدنے په موقع په خلقو باندے دَ پیو ګوټ څکول او پیسے وصولول) ناوے دَ قرآن دَ سوری لاندے رخصتول، پښتنو کښې دَ اوربل رسم (یعنی دَ جنج نه یو شپه مخکښې دَ ځلمی دَ ناوے دَ ویښتو نه دَ ګوتے بند هومره ویښته پریکول) ناوے دَ خاوند کور ته رسیدلو نه پس دَ دروازے په درشل باندے وریژے یا غنم یا غوذان وغیره مخښې روستو غورزول وغیره۔

## دَ غم په موقع باندے:

دَ مړو ایصال ثواب دَ پاره ورځ مقررول لکه ړومبئی شپه، قل، دریمه ، اومه ،لسمه، څلویښتمه ، کال ، جنازے سره جهري ذکر کول۔ حیله اسقاط او دَ قرآن دور کول ، دَ مرګ او غم په موقع باندے وِیر کول ، ماتم کول ، ګیروان شلول، میت له په اجنبی (غیر سړی) باندے غسل ورکول ، په غسل باندے اجرت اخستل ورکول ، دَ غسل ځائے باندے پیسے غورزول ، او دَ شپے هلته رنړا کول ، په کفن کښے فضول خرچی کول ، څه ټکړے ورکولو اخستلو دَ پاره ایخول ، دَ کفن کپړے نه جانماز جوړول ، دَ تختے حلوه پخول ، مړے قبرستان ته بوتللو وخت کښے قرآنی آیتونو سره منقش څادرونو سره مړے پټول ۔

دغه شان مړے قبرستان ته اوړلو وخت کښے اوچت آواز سره کلمهٔ شهادت لوستل، قبرونه پخول، قبرونو باندے ګلونه اچول ، قبرونو باندے قرآنی آیتونو والا څادرونه او غلافونه غوړول ، په قبرونو باندے نقش ونګار کول ، کتبه لګول او په هغے باندے آیتونه او نوم او تاریخ کنده کول ، اوچت اوچت قبرونه جوړول په هغے باندے ګنبتونه جوړول ، په قبر باندے ډیوے ، شمعے ، اګربتئی بلؤل ، قبرستان ته توښه (خوراک وغیره) اوړل ، په قبر باندے اذان کول ، دَ مړی په کور کښے دَ میلمستیا انتظام کول ، دَ ماښام نه مخکښے مخکښے صدقے ورکولو کښے تلوار کول ، اوه زیارته او څلویښتو ورځو پورے روزانه صدقه ورکول، دَ مړی په دریمه ورځ قبر باندے جمع کیدل ، دَ ښځو قبرستان ته تلل ۔

دغه شان دَ هندوانو او عیسایانو وغیره پشان دا عقیده لرل چه

دَمړی روح کور ته راځی او دَ کور په چهت او دیوالونو باندے ناست وی ۔ قرآن خوانی کولو دَ پاره په قبر باندے حافظ کینول او ایصال ثواب دَ پاره مروجه قرآن خوانی کول ، دَ یورپ دَ خلقو پشان دَ مړی په سوګ او یاد کښے "یو منټ خاموشی" اختیارول وغیره ۔

جناب شیخ القرآنؒ په "اصول السنه" کښے دَ غم په موقع باندے دَ پنځو سو نه زیات بدعات او رسومات شمار کړی دی۔

## عام مروج بدعات او رسومات:

ذکر بالجهر اودَ ذکر حلقے ، دَ جنازے مونځ او دَ سنتو نه پس په اجتماعی هیئت سره دعا ، عرس مناوول، دَ عید میلاد النبی ﷺ په نوم باندے خود ساخته طور سره موسوم شوے یو بل اختر مناوول ، دَ ذوالجناح جلوس ویستل ، په محرم کښے تعزیه جوړول ، دَ حسنؓ ، حسینؓ دَ نوم سبیلونه لګول ، په لسم محرم شربت څکل او څکول ، او په همدغه ورځ دَ هغوی ایصال ثواب دَ پاره روټۍ وغیره پخول، ویر کول ، دَ ماتم او واقعه کربلا دروغو داستانونو دَ پاره محفلونه سجاوول، او په دے میاشت کښے نکاح او وادهٔ نه کول ، دَ صفر میاشته سپیره ګنړل او په دے کښے دَ یهودیانو او هندوانو رسومات خپلول ، په آخری چارشنبه کښے چوری کول ، دَ شبقدر شپه مناوول ، په هغے کښے چراغان او آتشبازئ کول ، په رمضان کښے الواداعی خطبه او دَ شپے اجتماعی طور باندے عبادت دَ پاره ویښه کول ، او دَ رمضان په آخری جمعه قضائے عمری کول ، دَ رمضان په دیریشتمه شپه سورت عنکبوت او سورت روم لوستلو دَ پاره خاص کول، په رمضان کښے دَ

شبینے محفل جوړول، همدغه شان دَ ماشوم دَ سنت(ختنے) په ورځ دعوت کول ، په هغے کښے مختلف رسمونه په ځائے راؤړل، په شوال کښے دَ اختر په ورځ التزاماً مینچے پخول او دَ اختر مونځ نه پس په جماتونو کښے غاړے ورکول، ملاویدل یا مصافحه کول ، په دواړو اخترونو کښے سرود او ګډا کول ،دَ ګوډے الوزولو لعنتی هندوانی تهوار بسنت مناوول، دَ اپریل فول په نوم باندے دروغ وئیلو سره دَ بیوقوف جوړولو عالمی ورځ ماوؤل، دَ اهل یورپ پیروی کښے یوم عشق یعنی ویلنټائن ډے مناوؤل ، نیو ایر نائټ (دَ نوی کال شپه) مناوؤل، دَ اختر شپه دَ چاند رات په طور مناوؤل ، جاهلانه قبائلی رواج او رسومات لکه پښتنو کښے دَ سَوَرے(کوم کښے چه دَ دشمنئی ختمولو په غرض جینئی ورکولے اخستلے شی) یا دَ سند ؓ په کلو کښے دَ کاروکاریٔ رواج ، په کلو کښے لونړه خویندے دَ میراث نه محرومولو دَ پاره قرآن پاک سره دَ واده غیر اسلامی او غیر انسانی رواج ، او دَ عامو خلقو خاصو خاصو موقعو مثلا شب برأت ،محرم او اخترونو کښے دَ قبرونو زیارت دَ پاره تلل۔ دَ اسلام نه خلاف داسے بیشماره نور ډیر څیزونه دی چه دلته دَ کوم کوم نوم اوشمیرلے شی او واغستے شی۔

لاندے یو څو عامو بدعاتو باندے دَ علمائے دین خصوصا دَ علمائے دیوبند دَ کتابونو په حوالے سره مختصر بحث کولے شی۔

## ذکر او دعا:

په حقیقت کښے ذکر کول ، الله یادول او دعا کول یو بهترین عبادت دے۔ دَ الله تبارک وتعالیٰ ارشاد دے :

﴿یَا اَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوا اذۡکُرُوا اللّٰهَ ذِکۡرًا کَثِیۡرًا ﴾[احزاب:٤١]

" اے مؤمنانو! دَ الله ذکر ډیر زیات کوئ۔"

﴿وَقَالَ رَبُّکُمُ ادۡعُوۡنِیۡ اَسۡتَجِبۡ لَکُمۡ﴾ [مؤمن:٦٠]

" او ستاسو رب فرمائیلی دی چه هم مانه غواړئ زه به ستاسو دعاګانے قبلوم"

لیکن الله تعالیٰ ته هغه ذکر قابلِ قبول دے کوم چه دَ شریعت او دَ نبی کریم ﷺ دَ طریقے مطابق وی ۔

اوس چه کوم کوم ځائے کښے ذکر او دعا دَ شریعت او دَ قرآن او سنت نه ثابت وی او په کومے طریقے او آدابو او شرائطو سره چه الله تعالیٰ یادؤل او دعا غوښتل وی نو هم دَ هغه طریقو او اداب دَ شرائطو خیال ساتلو سره به دَ الله یاد او دعا غوښتل دَ ثواب کار وی ، نه چه دَ خپل طرفنه نوے نوے طریقے راؤستل ۔

همدے دَ پاره الله تعالیٰ او رسول الله ﷺ دَ ذکر او دعا دَ پاره یو څو شرائط او آداب هم مونږ دَ پاره بیان کړی دی۔ دَ الله تعالیٰ ارشاد دے:

﴿وَاذۡکُرۡ رَبَّکَ فِیۡ نَفۡسِکَ تَضَرُّعًا وَخِیۡفَةً وَدُوۡنَ الۡجَهۡرِ مِنَ الۡقَوۡلِ بِالۡغُدُوِّ وَالۡاٰصَالِ وَلَا تَکُنۡ مِنَ الۡغٰفِلِیۡنَ﴾[اعراف:٢٠٥]

" او خپل رب په خپل زړه کښے عاجزئ او ویرے سره بغیر دَ آواز اوچتولو نه سحر او ماښام یادوه او دَ غافلانو نه مه کیږه۔"

﴿ اُدۡعُوۡا رَبَّکُمۡ تَضَرُّعًا وَّخُفۡیَةً اِنَّهٗ لَا یُحِبُّ الۡمُعۡتَدِیۡنَ﴾ [اعراف:٥٥]

" خپل رب نه عاجزئ سره پټ پټ غواړئ ۔ بیشکه الله تعالیٰ حد نه وتونکی نه خوښوی۔"

په دے آیتونو کښے دَ ذکر او دعا څه شرائط او آداب بیان کړے شوی دی کوم چه دا دی ۔

(۱) په عاجزئ سره دے وی۔ (۲) دَ الله تعالیٰ ویره دے په زړه کښے وی۔ (۳) ذکر او دعا دے خفیه یعنی پټ اوکړے شی۔ (۴) جهرا یعنی په اوچت آواز سره دے نه وی۔

## ذکر بالجهر:

نن صبا عموماً خلق چه کوم جهری یعنی اوچت آواز سره ذکر اذکار کوی ، او دے لـه دَ جذبے او وجد نوم ورکوی ، دا تمام افعال دَ شریعت او قرآن او سنت نه بالکل خلاف دی ۔ نبی کریم ﷺ ، بیا صحابه کرامؓ ، تابعین ، تبع تابعینؒ ټول الله تعالیٰ لره ډیر زیات یادونکی وو لیکن په هغوی کښے دَ چا نه هم دا ثابت نه دی چه هغوی په اوچتو اوازونو سره ذکر کړے وی یا ئے دے دَ پاره حلقے جوړولو سره دَ ذکر اهتمام کړے وی یا دَ ذکر کولو وخت کښے په هغوی باندے ''جذبے'' او وجد راغلے وی۔

که چرے دا طریقه کارِ خیر او ثواب وے نو یقینا دا حضرات کوم چه دَ نیکئی او ښیګړے حرص لرونکی وو دوی به ضرور دا کړے وه۔ حال دا چه دا مروجه طریقه نه خو دَ قرآن نه چرته ثابته ده او نه په صحیح احادیثو مبارکو کښے دَ دے چرته ذکر موجود دے او نه صحابه کرامؓ ، تابعینؒ او تبع تابعینوؒ په خپل ژوند کښے چرته دا افعال کړی دی ۔ بیا نن دا هر څه ثواب او دین ګڼګه جوړ شو۔ نو په دے پو هیدل پکار دی چه دا ټول بدعت او ناجائز دی۔

ابن همام محمد بن عبد الواحد حنفیؒ فرمائی :

﴿اَلْاَصْلُ فِی الْاَذْکَارِ اَلْاِخْفَآءُ وَالْجَهْرُ بِهَا بِدْعَةٌ﴾ [فتح القدیر:۱/۴۳۰]

" په اذکارو کښې اصل اخفاء (یعنی پټ کول) دی او جهر بدعت دے۔"

شاه اسحاق دهلویؒ فرمائی:

"ذکر جهر درمذهب حنفیه بدعت است" [مائة مسائل:۹۴]

یعنی ذکر بالجهر حنفی مذهب کښې بدعت دے او کوم خلق چه دَ ذکر او تلاوت وخت کښې په ځان باندے "جذبے" او "وجد" طاری کوی دَ دوی په باره کښې یو ځل جناب قتادهؓ دَ سورت زمر آیت :

﴿اَللّٰهُ اَنْزَلَ اَحْسَنَ الْحَدِيْثِ كِتٰبًا مُّتَشَابِهًا مَّثَانِيَ تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُوْدُ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ثُمَّ تَلِيْنُ جُلُوْدُهُمْ وَقُلُوْبُهُمْ اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ﴾

ولستلو او وے فرمائیل :

﴿هٰذَا نَعْتُ اَوْلِيَاءِ اللّٰهِ نَعَتَهُمُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ بِاَنْ تَقْشَعِرُّ جُلُوْدُهُمْ وَتَبْكِيْ اَعْيُنُهُمْ وَتَطْمَئِنُّ قُلُوْبُهُمْ اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ وَلَمْ يَنْعَتَهُمْ بِذِهَابِ عُقُوْلِهِمْ وَالْغِشْيَانَ عَلَيْهِمْ اِنَّمَا هٰذَا فِيْ اَهْلِ الْبِدَعِ وَهٰذَا مِنَ الشَّيْطَانَ﴾ [ابن کثیر، روح المعانی]

" دا دَ اولیاء الله صفت دے کوم چه الله تعالیٰ بیان کړے دے چه دَ الله تعالیٰ ذکر سره دَ دوی دَ بدن ویښته اودریږی (دَ الله ویرے نه) ژاړی او دے سره دَ دوی زړونه مطمئن کیږی۔

الله تعالیٰ دَ دوی دا صفت نه دے بیان کړے چه ذکر سره به دَ دوی عقلونه کار کول پریدی او بے هوشه به شی بلکه دا عمل دَ اهلِ بدعت وی او دا هر څه دَ شیطان دَ طرفنه دی۔"

علامه شاطبیؒ په تفصیل سره دَ دے مسئلے بیانولو نه پس لیکی:

﴿هٰذَا كُلُّهٗ مِنَ الشَّيْطَانِ يَلْعَبُ بِهِمْ وَهٰذَا كُلُّهٗ بِدْعَةٌ وَضَلَالَةٌ﴾[اعتصام:۱/۲۷۹]

دا بے هوشئی او وجد وغیره ټول دَ شیطان دَ طرفنه دی ، شیطان دوی سره لوبے کوی ، او دا ټول بدعت او گمراهی ده۔"

دغه شان ذکر دَ پاره دا حلقے جوړول او اجتماعی ذکر کول هم بدعت دے۔ په یو روایت کښے راځی چه سیدنا عبد الله بن مسعودؓ ته چا اطلاع ورکړه چه فلانی جومات کښے خلق اجتماعی طور باندے په اوچت آواز سره تسبیح او تهلیل او تکبیر وائی ۔ کله چه سیدنا ابن مسعودؓ راغے او دا هر څه ئے پخپله اولیدل نو په دے عمل باندے رد اوکړو اوفرمائیل : ﴿لَقَدْ جِئْتُمْ بِبِدْعَةٍ ظَلْمَآءَ﴾

" یقینا تاسو یو تاریک (تور) بدعت ایجاد کړے دے ۔ چه دا کار ما دَ نبی کریم ﷺ په زمانه کښے چرے نه وو لیدلے۔"

## دَ سنتو نه پس اجتماعی دعا:

څنگه چه مونږ مخکښے عرض کړے دے چه دعا عبادت دے ، هر وخت کیدے شی هیڅ وخت کښے هم دعا غوښتل منع نه دی ۔ البته دَ دعا طریقه به هم هغه وی کومه چه به په شریعت کښے نقل وی ، که چرے په شریعت کښے یوه طریقه نقل نه وی او خلق هغه دَ ثواب کار او دین گنړلو سره کوی نو بیا هغه بدعت جوړ شی ۔ څنگه چه زمونږه زمانه کښے اکثر امامان په جوماتونو کښے فرض مونځ کولو نه پس متصلا هم هغه ځائے محراب کښے اودریږی او سنت رکعتونه کول شروع کړی او بیا دَ سنتو نه پس اجتماعی شکل کښے التزام سره دعا کوی ، اوچت آواز سره دَ دعا الفاظ وائی او مقتدیان آمین آمین

کوی۔ څوک درے درے ځلے دعا غواړی نو دَ چا بله څه طریقه وی دا طریقه دَ قرآن او سنت نه خلاف او بدعت ده۔

**اولاً:** دا طریقه په قرآن کښے چرته هم موجوده نه ده۔ نه صحابه کرامو او تابعینو او تبع تابعینو داسے کړے ده او نه چرے دَ مجتهدینو امامانو په دے باندے عمل وو۔

**دویم:** دا چه نبی کریم ﷺ به سنت مونځ په کور کښے کولو او دَ صحابه کرامو او سلفو صالحینو هم دَ نبی ﷺ په اتباع کښے همدا عمل وو، هر کله چه هغوی سنت په جومات کښے کړی نه دی نو د اجتماعی دعا بعد السنن خو هډو سوال نه پیدا کیږی۔

﴿وَفِی الصَّحِیْحَیْنِ صَلُّوْا اَیُّهَا النَّاسُ فِیْ بِیُوْتِکُمْ فَاِنَّ اَفْضَلَ صَلٰوةَ الْمَرْءِ فِیْ بَیْتِهٖ اِلَّا الْمَکْتُوْبَةِ﴾ [ارشاد الساری شرح بخاری:۲/۳۴۳]

"صحیح بخاری او مسلم کښے دی چه نبی ﷺ فرمائی: اے خلقو! په کورونو کښے مونځ کوئ ولے چه دَ فرض مونځ نه سوا دَ سړی بهترین مونځ هغه دے کوم چه هغه په کور کښے کوی۔"

**دریم:** نبی ﷺ او فقهاء کرامو هم امام دَ پاره په هغه ځائے باندے چرته چه هغه فرض کوی هلته سنت کول منع کړی دی او دے ته ئے مکروه وئیلے دی: ﴿قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا یُصَلِّیَ الْاِمَامُ فِیْ مُوْضَعِ الَّذِیْ صَلّٰی فِیْهِ حَتّٰی یَتَحَوَّلَ﴾ [مشکوٰة:۱/۸۸]

"رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه امام دے په هغه ځائے کښے مونځ (سنت او نفل) نه کوی کوم ځائے کښے چه ئے فرض کړی وی مګر هغه ځائے نه دے بل طرفته لاړ شی۔"

امام علاء الدین کاسانیؒ فرمائی:

﴿فَيُكْرَهُ لِلْإِمَامِ اَنْ يُصَلِّي شَيْئًا مِنَ السُّنَنِ فِيْ مَكَانِ الَّذِيْ صَلّٰى فِيْهِ الْمَكْتُوْبَةَ وَقَدْ رَوَيْنَا عَنِ النَّبِيِّ ﷺ اَيَعْجِزُ اَحَدُكُمْ اِذَا صَلّٰى اَنْ يَّتَقَدَّمَ اَوْ يَتَأَخَّرَ﴾ [بدائع الصائع فی ترتیب الشرائع:۱/۲۸۵]

" دَ امام دَ پاره هغه ځائے کښے سنت کول مکروهه دی کوم ځائے چه هغه فرض کړی دی ۔ ځکه چه مونږه دَ نبی ﷺ نه روایت نقل کړے دے هغوی فرمائی چه : آیا تاسو عاجزئ چه دَ(فرض) مونځ کولو نه پس (سنت مونځ دَ پاره هغه ځائے نه ) وړاندے یا روستو شئی۔"

فتاویٰ عالمگیری کښے دی چه:

﴿وَلَا يَتَطَوَّعُ فِيْ مَكَانِ الْفَرِيْضَةِ لٰكِنَّهٗ يَنْحَرِفُ يُمْنَةً اَوْ يُسْرَةً اَوْ يَتَاَخَّرُ وَ اِنْ شَآءَ رَجَعَ اِلَى الْبَيْتِ يَتَطَوَّعُ فِيْهِ﴾ [عالمگیری:۱/۸۸]

" امام دے په هغه ځائے باندے نفل او سنت نه کوی کوم ځائے چه ئے فرض کړی وی بلکه ښی طرفته یا ګس طرفته یا روستو دے شی او که اوغواړی نو کور ته دے لاړ شی سنت دے اوکړی ۔"

امام سرخسیؒ لیکی :

﴿وَلَا يَشْغَلُ بِالتَّطَوُّعِ فِيْ مَكَانِ الْفَرِيْضَةِ لِلْحَدِيْثِ الْمَرْوِيِّ اَيَعْجِزُ اَحَدُكُمْ اِذَا صَلّٰى اَنْ يَّتَقَدَّمَ اَوْ يَتَاَخَّرَ بِسُبْحَةٍ اَىْ بِنَافِلَةٍ لٰكِنَّهٗ يَتَحَوَّلُ اِلٰى مَكَانٍ اٰخَرَ وَالْاَوْلٰى اَنْ يَتَقَدَّمَ الْمُقْتَدِيْ وَيَتَاَخَّرَ الْاِمَامُ﴾ [المبسوط:۱/۳۸]

" دَ فرض مونځ په ځائے دے سنت نه کوی ۔ ولے چه په حدیث کښے راغلی دی چه آیا عاجز کوی تاسو دَ دے خبرے نه چه (فرض) مونځ کولو نه پس سنت مخکښے کیدلو یا روستو کیدلو سره اوکړی ،

بلکه امام دے بل ځائے ته لاړ شی او بهتره خو دا ده چه مقتدی دے وړاندے ( په خپله مصلی) اودروی او امام دے (پخپله) روستو شی۔"

**ځلورم:** نبی کریم ﷺ فرض مونځ نه پس دَ دعا او اذکارو ترغیب ورکړے دے او پخپله هم دَ نبی ﷺ همدا معمول وو۔

﴿عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ اِذَا صَلّٰى صَلٰوةً اَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهٖ﴾ [بخاری ۱/۱۱۷]

"کله چه به نبی ﷺ (فرض) مونځ اوکړو نو خپل مخ مبارک به ئے زمونږ طرفته راواړولو ۔

﴿وَعَنْ اَبِیْ اُمَامَةَ قَالَ قِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَیُّ الدُّعَاءِ اَسْمَعُ قَالَ جَوْفُ اللَّيْلِ الْاٰخِيْرِ وَدُبُرُ الصَّلٰوةِ الْمَكْتُوْبَاتِ﴾ [مشکوٰة:۱/۸۹]

سیدنا ابو امامهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړے شو چه : کومه دعا زیاته قبلیږی ؟ نو هغوی ﷺ اوفرمائیل : په نیمه شپه کښے او دَ فرض مونځونو نه پس دعا۔"

﴿عَنِ الْمُغِيْرَةَ بْنِ شُعْبَةَ اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ كَانَ يَقُوْلُ فِیْ دُبُرِ كُلِّ صَلٰوةٍ مَكْتُوْبَةٍ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِيْرٌ۔ اَللّٰهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا اَعْطَيْتَ وَلَا مُعْطِیَ لِمَا مَنَعْتَ وَلَا يَنْفَعُ ذَالْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ﴾ [مشکوٰة:۱/۸۸]

"سیدنا مغیره بن شعبهؓ نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ به همیشه دَ فرض مونځ نه پس پورته ذکر شوے ذکر او دعا لوستله۔"

مفتی کفایت الله دهلویؒ په "نفائس مرغوبه" کښے دَ منهج العمال او العقائد السنیه نه نقل کړی دی چه :

﴿اِنَّ الدُّعَآءَ بَعْدَ الصَّلٰوةِ الْمَكْتُوْبَةِ مَسْنُوْنٌ وَكَذَا رَفْعُ الْيَدَيْنِ وَمَسْحُ الْوَجْهِ بَعْدَ الْفَرَاغِ﴾ [نفائس:۱۲]

" فرض مونځ نه پس دعا مسنون ده او همدغه شان لاسونه پورته کول او دعا نه پس په مخ راخکل هم مسنون دی۔"

**پنځم:** حق پرستو عالمانو خصوصا علمائے دیوبنددَسنتو نه پس اجتماعی دعا ته بدعت وئیلی دی۔

مولانا مفتی عزیز الرحمن دیوبندیؒ فرمائی :

دَ سنتو او نوافلو نه پس مقتدیانو لره دَ اجتماعی دعا پابند کول نه دی پکار ۔ دَ فرضو نه پس که یو سړے مثلا کور کښے سنت کول غواړی نو هغه دے ولے (دَ جمعے دعا دَ پاره) پابند کړے شی۔"

[فتاویٰ دارالعلوم دیوبند:۲۱۲/٤]

مفتی محمود حسن گنگوهیؒ لیکی:

" همدغه شان دَ سنتو نه پس دَ اجتماعی دعا اهتمام دَ نبی کریم ﷺ او صحابه کرامو ؓ نه ثابت نه دے بلکه عام سنت به ئے خپلو خپلو کورونو کښے ادا کول، په جومات کښے به دَ دے نوبت کم راتلو ۔ فقهاؤ هم دغه لیکلی دی چه سنت مونځ په کور کښے کول افضل دی۔"

**[فتاویٰ محمودیه:۵۱/۱۳]**

مفتی کفایت الله دهلویؒ فرمائی :

" پیژندل پکار دی چه دَ حدیث او فقهے نه چرته دا خبره نه ثابیږی چه په قرون اولیٰ کښے دَ دعا دا طریقه وه چه دَ سنتو او نفلو کولو نه پس تهول جماعت دے دعا غواړی ۔ (مخکښے لیکی) بیا که

چرے په دے باندے دَ هغه التزام لحاظ هم اوکړے شی کوم چه بعضو اطرافو کښے لیدے شی چه دا طریقه دَ دعا ضروری ګڼړی او چه څوک ئے نه کوی هغوی ملامته کوی نو بیا دَ دے په بدعت والی کښے هیڅ شک او شبه باقی نه پاتے کیږی۔" [کفایت المفتی:۲۸۸/۳]

مولانا خیر محمد جالندھریؒ فرمائی:

"دَ سنتو او نوافلو نه پس چه مروجه طور باندے کومه اجتماعی دعا غوښتے کیږی دا بدعت ده او دَ سنت نه خلاف ده نبی کریم ﷺ او صحابه کرامؓ نه داسے کول ثابت نه دی ، بلکه دَ دے برخلاف صحابه کرامؓ نه دَ اجتماعی دعا هډو سوال نه پیدا کیږی۔"

[خیر الفتاویٰ:۵۷۱/۱]

مولانا محمد یوسف لدھیانویؒ لیکی:

"دَ سنتو نه پس اجتماعی دعا دَ پاره دَ امام او مقتدیانو ناست اوسیدل او بیا په شریکه دعا کول صحیح نه دی دَ دے اهتمام او التزام بدعت دے ۔ دَ بدعت لفظ چه مطلق اوئیلے شی نو مراد دَ هغے نه بدعتِ سیئه وی۔ " [آپ کے مسائل او انکا حل:۲۷۴/۲]

علامه ظفراحمد عثمانیؒ او حکیم الامت مولانا اشرف علی تهانویؒ لیکی:

"(دَ سنتو نه پس اجتماع دعا) دا بدعت دے ، دَ دے هیڅ اصل نیشته ، بالخصوص دَ التزام او اصرار په وجے سره دا په بدعت سیئه کښے داخله ده۔"

بیا وړاندے لیکی " پس دَ جومات متولیانو له په دے طریقه دَ بدعت باندے هرګز مجبورؤل جائز نه دی او دا څیز بالکل خلافِ

شریعت او اشاعت دَ بدعت دے۔ چه دَ دے کونکے شرعا په وجه دَ ابتداع دَ عظیمے گناه مستحق دے۔" [امداد الاحکام:۱/۱۷۹]

غرض دا چه دعا خواه دَ فرضو نه پس وی یا دَ سنتو او نفلو نه پس وی ، هر وخت کیدلے شی لیکن انفرادی طور باندے ، چه هر یو خپل خپل حاجات وی او څوک اوګده دعا کوی او څوک مختصر ۔ البته اجتماعی دعا کول او په دے مروجه اهتمام او التزام سره کول او دے ته سنت یا مستحب وئیل جائز نه دی بلکه بدعت دے۔

## حیله اسقاط:

دَ اسقاط شرعی او اصلی طریقه دا ده چه څوک سړے کس دَ سفر یا بیماریٔ په وجے سره مونځونه یا روژے قضا کړی او دَ هغے بیا قضا راؤړولو وخت ملاؤ نشی ، په سفر یا بیماریٔ کښے هغه وفات شی نو په ده باندے هیڅ قضا او کفاره واجبه نه ده ۔ البته که چرے دَ بیماریٔ نه ورته شفا ملاؤ شوه یا دَ سفر نه واپسی اوشوه او قضا راګرځولو دَ پاره وخت ملاؤ شو او وفات شو نو بیا چه دَ دے سړی نه کوم مونځونه یا روژے قضا شوے دے دَ هغے کفاره به ورکول وی په دے شرط چه هغه دَ کفارے ورکولو وصیت کړی وی دَ هغه دَ ترکے (مالِ میراث) دریمے حصے نه به دغه کفاره ادا کولے شی کومه چه به دَ هر مونځ یا روژے په بدله کښے دَ پاؤکم دوه سیره غنمو په حساب سره وی ۔ که چرے وصیت ئے نه وو کړے نو بیا په وارثانو باندے کفاره ورکول لازم نه دی او نه دَ دغه ترکے نه دَ وارثانو دَ اجازت نه بغیر ورکولے شی ۔ او نه دَ هغے ترکے نه ورکولے شی کومه کښے چه یتیمان ماشومان شریک وی ۔

ولے چه دَ هغوی اجازت معتبر نه دے ۔ البته که څوک رشته دار دَ خپل مال نه کفاره ورکړی نو دا به دغه مړی سره احسان وی۔

اوس دا حیلـه اسقاط کومه چه بعضو علاقو کښے مروجه ده کـومـه کښے چـه دَ پـوره فـدیـے په ځائے لږے شان روپو یا غنمو دَ قرآن مـجیـد دَ پاسه کیدی او امامان صاحبان په دائره کښے کینی او یو بل ته ئے هبـه کـوی او وربـخښی، او وائی چه په دے طریقے سره مونږ دے لږو روپو نه ډیرے جوړوؤ، کومے چه دَ ټولو کفاروبدله جوړه شی وغیره نو دَ دے متعلق مختصراً وضاحت دا دے چه :

یو خو دا طریقه دَ قرآن او سنت ، دَ صحابه کرامؓ او مجتهدینو امـامـانوؒ نـه ثـابـت نـه ده ۔ دویـمـه دا چـه پـه دے کښے دَ یتمانانو او غیر حـاضرو وارثانو حق وی ۔ دریم دا چه په دے کښے دَ هرے قضا پوره فدیه نه وی ۔ څلورم دا چه دا فقر او غنی ټولو له ورکولے شی حال دا چه فدیه فقیر ته ورکؤل شرط دی ۔ پنځم یوه پوره فدیه یو فقیر له ورکول لازمی دی لیـکـن پـه دے مـروجه طریقه کښے دَ پوره فدیے په ځائے کم رقم لس شـل روپـئـی ورکړے کیږی کومے چه دَ نن صبا حساب سره دَ پوره یوے فـدیـے نه هم کمے دی ۔ دغه شان که ورته اوکتے شی نو په دے کښے نور هم ډیر نقصانات دی۔

☆ جناب مفتی کفایت الله دهلویؒ لیکی :

" مـروج اسـقـاط پـه ډیـرو وجـو هـو سره ناجائز او ګنړو مفاسدو بـانـدے مشـتـمـل دے پـه دے وجـه دَ دے مـروجـے طریقے پریخودل واجب دی۔ [کفایت المفتی:۱۷/۴] او وړانـدے لیـکـی چــه " مـروجـه

اسقاط یقینا ناجائز او بدعت دے۔“ [کفایت المفتی:۱۷۴/۴]

☆ مولانا مفتی عزیز الرحمن صاحبؒ لیکی: ”دَ عوامِ زمانه مروجه حیله اسقاط هم بلا شبهے بدعت دے ، اولاً دا چه که چرے دا یو کار خیر وے نو نبی کریم ﷺ او صحابه کرامؓ دَ دے زیات حقدار وو (چه هغوی کړے وے) دَ هغوی شفقت دَ عامو مؤمنانو نه زیات وو ، لیکن هغوی چرے دا حیله نه ده کړے ، فلهذا دَ عدم تملیک حقیقی او نورو مفاسدو په وجه دَ دے پریخودل لازم دی۔“

[فتاویٰ دارالعلوم دیوبند:۱۷۰/۲]

☆ مولانا خیر محمد جالندهریؒ فرمائی:

” مروجه حیله اسقاط ناجائز او بدعت ده په څو وجوهو سره۔“

[ خیر الفتاویٰ:۳۱۲/۳]

☆ مولانا مفتی عزیز الرحمن صاحبؒ لیکی:

”قرآن شریف جنازے سره اوړل خلافِ شرع دی او ناجائز دی۔“

[فتاویٰ دارالعلوم:۲۸۳/۵]

☆ مفتی رشید احمد لدهیانوی صاحبؒ لیکی:

” مروجه طریقه ناجائز او بدعت ده ۔قرآن او حدیث او فقه کتبے دَ دے هیڅ ثبوت نیشته ، او نه په قرون مشهود لها بالخیر کتبے دَ دے څه وجود شته۔“ [احسن الفتاویٰ:۳۴۸/۱]

☆☆☆

## ﴿په قبرونو باندے غلافونه، ګلونه اچول، ډیوے اګربتئی بلول او پاخه جوړول او ګنبتونه پرے جوړول﴾

دَ قرآن او سنت او صحابه کرامؓ او سلفو او مجتهدینو امامانو دَ عمل نه دا ذکر شوی څیزونه هم ثابت نه دی ـ نه نبی ﷺ کوم قبر سره دا معامله کړے ده او نهٔ صحابه کرامؓ او سلفو صالحینوؒ او مجتهدینو امامانوؒ نه داسے کارونه کول چرته ثابته دی ـ لهٰذا دا ټول کارونه ناجائز او بدعت دی:

په حدیث کښے راځی چه :

﴿عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ ابْنِ عَبَّاسٍ لَعَنَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ زَائِرَاتِ الْقُبُوْرِ وَالْمُتَّخِذِيْنَ عَلَيْهَا الْمَسَاجِدَ وَالسُّرَجَ﴾ [ترمذی:۷۳/۱، ابوداؤد:۱۰۵/۲]

نبی کریم ﷺ دَ قبرونو زیارت کونکو ښځو باندے او قبرونه سجده ګاه جوړونکو باندے او په قبرونو ډیوے بلونکو باندے لعنت فرمائیلے دے۔"

﴿عَنْ جَابِرٍؓ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَنْ يُّجَصِّصَ الْقُبُوْرَ وَاَنْ يُّبْنٰى عَلَيْهِ وَاَنْ يُّقْعَدَ عَلَيْهِ﴾ [ترمذی:۲۰۳/۱، مشکوٰة:۱۴۸/۱]

سیدنا جابرؓ نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ دَ قبرونو پخولو نه او په هغے باندے عمارت (ګنبت) جوړولو نه او په هغے باندے کیناستلو نه منع فرمائیلے ده۔"

☆ مولانا مفتی محمد شفیع صاحبؒ لیکی:

" څادر په قبر باندے غوړول پخپله هم ناجائز دی"

[امداد المفتیین:۱۹۷]

☆ مولانا ظفر احمد عثمانیؒ فرمائی: ”پہ جنازہ باندے دَ گلونو څادر اچول، پہ قرونِ ثلاثہ کښې ثابت نہ دی دا صریح بدعت دے او هنداونو سرہ دَ مشابهت دَ وجې نہ هم حرام دی ۔ او پہ قبر باندے گلونہ اچول هم دَ صحابہ کرامؓ او تابعینوؒ پہ زمانہ کښې ثابت نہ دی۔“

[امداد الاحکام:۱/۱۸۴]

☆ مولانا خیر محمد جالندهری صاحبؒ لیکی:

”پہ قبر باندے غلاف اچول شرعا درست نہ دی“ [خیر الفتاویٰ:۳/۱٦۹]

☆ مولانا مفتی محمد شفیع صاحبؒ لیکی:

”پہ قبرونو باندے ډیوے بلول پخپلہ ناجائز دی۔“ پہ حدیث کښې هغہ کس باندے لعنت وئیلے شوے دے څوک چہ پہ قبرونو باندے ډیوے بلوی۔“ [امداد المفتیین:۱۹۳]

☆ حکیم الامت مولانا اشرف علی تهانویؒ فرمائی:

”قبر دَ یوے لیشت نہ ډیر زیات اوچتول مکروہ تحریمی دی پہ قبر باندے گچ کول (پخول) یا (زیاتی) خاورہ اچول مکروهہ دی

[بهشتی زیور: ۷۳۰ حصہ یازدهم]

☆ مولانا خیر محمد جالندهریؒ فرمائی:

پہ احادیثو کښې او دَ فقهے کتابونو کښې پہ قبرونو باندے مکان ، قبہ ، او روضہ جوړولو نہ منع والے وارد شوے دے ۔ دَ دیوبند دَ اکابرو عالمانو قبرونہ هم سادہ طریقے سرہ دَ بناء نہ بغیر دی۔ دَ صحابہ کرامؓ او سید الشهداء حمزہؓ قبرونہ ټول دَ بناء نہ بغیر دی۔ [خیر الفتاویٰ:۳/۱۸۵]

☆ مفتی کفایت اللہ دهلوی صاحبؒ لیکی:

" او چت قبرونه جوړول، قبرونه پاخهٔ جوړول، په قبرونو باندے گنبتونه،قبے او عمارتونه جوړول ، غلافونه اچول، څادرونه غوړول،نذرونه منل، طواف کول، سجده کول ، دا ټول کارونه په منکرات شرعیهٔ کښے داخل دی۔ شریعت مقدسه اسلامیه دَ دے امورو نه صراحةً منع فرمائیلے ده۔ په صحیح احادیثو کښے دَ دے قسمه امورو منع والے وارد دے کوم چه شرک یا مفضی الی الشرک دی۔

[کفایت المفتی:۶۹/۴]

## عرس او میلاد مناوۀل:

په قرآن او سنت کښے چرته هم دا خبره نه ملاویږی چه دَ یو نبی یا ولی دَ پیدائش یا دَ وفات دَ ورځ مناوولو ثبوت وی ۔ څوک ترقیامته پورے دا ثابتولے نشی چه نبی کریم ﷺ چرته یو ځل هم خپل یوم پیدائش (عید میلاد النبی ﷺ) مناؤ کړے وی یا خپل نه سهی دَ خپل کوم اولاد یا دَ صحابی یومِ پیدائش ئے مناؤ کړی وی ۔ بیا دَ نبی کریم ﷺ نه پس صحابه کرامؓ او تابعینؒ او تبع تابعینؒ هم دَ نبی ﷺ یومِ پیدائش باندے چرے هم میلاد نه دے مناؤ کړے او نه ئے دَ حضور ﷺ یومِ وفات باندے چرته هر کال یومِ وفات او عرس منعقد کړے دے۔

دَ دے خبرو نه دَ ټولو صحابه کرامؓ او تابعینؒ او تبع تابعینؒ په شمول دَ امامانو مجتهدینو ژوند خالی په نظر راځی بلکه دا میلاد مناوول او عرس کول دَ روستو زمانے پیدا کرده بدعات دی۔

☆ مفتی اعظم مولانا رشید احمد گنگوهیؒ فرمائی:

دا محفل چونکه په زمانه دَ فخر عالم علیه السلام کښے او په

زمانه دَ صحابه کرامؓ او په زمانه دَ تابعینوؒ کښې او تبع تابعینوؒ کښې او په زمانه دَ مجتهدینو علیهم الرحمه کښې نه دے شوے ۔ دَ دے ایجاد شپږ سوه کاله پس یو بادشاه کړے دے۔ هغه لره اکثر اهل تاریخ فاسق لیکی لهذا دا مجلس بدعت او ضلالت دے ۔ دَ دے په عدم جواز کښې صاحب دَ مَدُ خل وغیره علماء مخکښې لیکل کړی دی او اوس هم ډیر رسائل او فتاویٰ چاپ شوے دی ، دَ زیات دلیل حاجت نیشته ، عدم جواز دَ پاره دا دلیل بس دے چه په خیر القرون کښې هیچا دا نه دے کړے۔ که دَ دے زیات مفاسد کتل غواړی نو مطولات فتاویٰ اوګورئ ۔[فتاویٰ رشیدیه:۲۵۵]

او اوړاندے لیکی: ”دَ مروجه مولود مجلس بدعت دے او په سبب دَ امورو مکروهاؤ مکروه تحریمی دے او قیام هم په وجه دَ خصوصیت بدعت دے او دَ پے ګیرو هلکانو خوش آوازئ سره شعرونه وئیل په سبب دَ اندیښنیے دَ هیجان فتنه مکروه دی ۔ او مروجه فاتحه هم بدعت ده ، سره دَ دے دَ هندوانو فعل سره مشابه ده او غیر قوم سره مشابهت کول منع دی۔“ [فتاویٰ رشیدیه:۲۵٦]

☆ مولانامفتی کفایت الله دهلویؒ لیکی: دَ مروجه مجالس میلاد منعقد کول بے اصل دی۔“ [کفایت المفتی:۱۴۱/۱]

میلاد شریف دَ نبی کریم ﷺ دَ مبارکے زمانے نه په سوؤنو کالو پس ایجاد شوے دے دَ نبی ﷺ عهدِ سعود او دَ صحابه کرامؓ او تابعینوؒ او مجتهدینو امامانوؒ په زمانه مبارکه کښې دَ دے وجود نه وو۔“

[کفایت المفتی:۱۴۴/۱]

یو بل ځائے کښے لیکی:

"دَ عید میلاد النبی په نوم سره هیڅ یو جلسه کول صحیح نه دی ۔ هاؤ دَ سیرت مقدسه تبلیغ او بیان دَ پاره جلسه کښے بدیت نیشته ، او دے دَ پاره دَ څه خاص تاریخ تخصیص نیشته او دَ فضولیاتو او بدعاتو ځان ساتل لازم دی۔" [کفایت المفتی:۱/۱۴۴]

☆ مولانا مفتی محمد شفیع صاحبؒ لیکی: دَ رسول کریم ﷺ ذکر مبارک او دَ هغوی ﷺ حالات طیبات لوستل او اوریدل خو مسلمان دَ پاره په ټولو امورو کښے دَ خیرات او برکاتو مدار دے ، بلکه واجب او ضروری دی ۔ لیکن په موجوده زمانه کښے چه دَ محفل میلاد کوم رسم جوړ شوے دے په هغے کښے قسم قسم بدعات او ناجائز کارونه شامل شوی دی۔ په دے وجه جمهور علمائے امت دے ته ناجائز وئیلی دی۔ [امداد المفتین:۱۷۲]

☆ مفتی اعظم مفتی رشید احمد لدهیانویؒ لیکی: " محفل میلاد کښے قیام بدعت دے ۔ په حدیث کښے دَ دے صفا ممانعت دے ۔ حضور ﷺ عین په ژوند کښے صحابه کراموؓ ته اوفرمائیل ه تاسو په اوریدو سره ځما تعظیم مه کوئ څنګه چه دَ عجمو دستور دے چه هغوی په خپلو کښے دَ یو بل په اوریدو سره تعظیم کوی ۔ محفل میلاد په یو خاص ورځ کښے کول او دا ضروری ګنړل ، دَ شیرینی وغیره تقسیمولو اهتمام کول دا ټول امور شرعا ناجائز دی ۔ بل دا چه په مجلس کښے دَ حضور ﷺ دَ حاضریدو اعتقاد لرل شرک دے ۔ که چرے دَ دے امورو نه مجلس منزه (پاک) وی نو دَ برکت او هدایت باعث دے

ګنے دَ ضلالت او ګمراهئی(سبب به جوړ شی) [احسن الفتاویٰ:۱/۳۸۳]

☆ مولانا رشید احمد ګنګوهیؒ فرمائی :" په هیڅ عرس او مولود کښے شریکیدل درست نه دی او هیڅ یو عرس او مولود درست نه دے۔ [رشیدیه:۲۷۵]

☆ که دَ عرس التزام کوی او که نه کوی بدعت او نادرست دے دَ تاریخ تعین سره په قبرونو باندے اجتماع کول ګناه ده خواه که نور لغویات وی او که نه وی ۔ [فتاویٰ رشیدیه:۲۷۶]

☆ مولانا شاه محمد اسحاق دهلویؒ فرمائی:

﴿مقرر ساختن روز عرس جائز نیست ودر تفسیر مظهری مینویسدلَا یَجُوْزُ مَا یَفْعَلَهُ الْجُهَّالُ بِقُبُوْرِ الْاَوْلِیَاءِ وَالشُّهَدَاءِ مِنَ السُّجُوْدِ وَالطَّوَافِ حَوْلَهَا وَاِتِّخَاذُ السُّرَجِ وَالْمَسَاجِدَ اِلَیْهَا وَمِنَ الْاِجْتِمَاعِ بَعْدَ الْحَوْلِ کَالْاَعْیَادِ وَیُسَمُّوْنَهٗ عُرُسًا﴾ [مسائل اربعین:۳۸]

"یعنی په ورځ مقررولو سره هیڅ قسمه عرس کول جائز نه دی۔ څنګه چه په تفسیر مظهری کښے لیکلی دی چه : "کوم جاهلان خلق دَ اولیاؤ او شهیدانو په قبرونو باندے سجدے او طوافونه کوی په هغے باندے ډیوے بلوی ، هلته جوماتونه جوړوی او کال پس هلته دَ اختر غوندے اجتماع کوی کومے ته چه عرس وائی ۔ دا ټول ناجائز دی۔"

علامه قاضی ثناء الله پانی پتیؒ لیکی:

"قبور اولیاء بلند کردن و گنبد برآن ساختن وعرس وامثال ان وچراغان کردن ہمه بدعت است بعض ازاں حرام است وبعض مکروه پیغمبر خدا بر مشمع افروزان نزد قبر وسجده کنند گان را لعنت گفته"

”یعنی دَ اولیاؤ قبرونه او چتول ، په هغے باندے گنبت جوړول ، عـرس کول ، ډیوے بلول دا ټول بدعت دی بعضے حرام او بعضے مکروه ۔ پیغمبر خدا ﷺ په قبر باندے شمعے بلونکو او سجدے کونکو باندے لعنت کړے دے۔“ [ارشاد الطالبین:۲۵]

## ایصال ثواب دَ پاره ورځ مقررول:

مړی ته ثواب رسؤل، صدقه او خیرات ورکول ، همدغه شان نفلی عبادتونو سره مړی ته ثواب رسول په دے طریقے سره جائز او صحیح دے چه دغه کار دَ الله په نوم اوکړی او ثواب هغه ته اوبخلے شی۔ لیکن دَ ایصالِ ثواب دَ پاره ورځ مقررول او دَ تاریکونو تعین او تخصیص کول او دَ مړی کور کښے دَ روټئی وغیره دَ پاره جمع کیدل دَ شریعت نه ثابت نه دی۔

څنگه چه بعضے خلق دَ نبی کریم ﷺ ایصال ثواب دَ پاره په دولسم ربیع الاول ، او دَ حسنینو(رضی الله عنهم) ایصال ثواب دَ پاره په لسم محرم ، دَ عامو مړو دَ پاره په ړومبئی شپه، دَ جمعے شپه ، قل ، دریمه، څلویښتی، او دَ کال وغیره اهتمام (او پابندی) کوی او داسے کول ضروری گنړی ۔ دَ دے برعکس دَ دے ټول امورو حقیقت دا دے چه دا ټول بدعت دی، او دَ شریعت محمدی ﷺ په نظر کښے ناجائز او دَ هندوانو طریقه ده ، چه دَ دے تصدیق یو نوم مسلم عالم (کوم چه مخکښے پنډت وو) مولانا عبید الله صاحبؒ په خپل کتاب (تحفة الهند: ۹۱) کښے او مشهور مؤرخ البیرونی په کتاب الهند :۲۷ کښے کړے دے۔

☆ مولانا خلیل احمد سهارنپوریؒ لیکی:

’’ پـه هـنـدوستان کښې خاص دا رسم (دَ مړی) دَ دریمې دې۔ بل
په هیڅ ملک کښې دا څوک پیژنی هم نه ، نودا دَ هندوانو تیجه (رسم)
ته کتلو سره جوړ کړې شوې دې۔ [البراهین القاطعه:۱۱۱]

غرض دا چه ایصالِ ثواب هر وخت کیدې شی ۔ چه کله ئې هم
وس اوشی مړی تـه ثـواب دَ خپـل طـرفـنه بخښلې اورسولې شی او دې
مـقـصـد دَ پاره (دَ الله په نوم باندې) خیرات ، صدقه کیدې شی ۔ لیکن
دې دَ پاره یو خاص ورځ دَ خپل طرفنه مقررؤل او هغې دَ پاره نوم ایخودل
دَ شریعت نه قطعا ثابت نه دی ، نه نبی کریم ﷺ او صحابه کرامؓ چرې
داسې کړی دی او نه سلفو صالحینوؒ او مجتهدینو امامانوؒ نه داسې کول
نقل دی ۔ بلکه هغوی خو دا بد ګنړلی دی۔

☆ سیدنا جریر بن عبد اللهؓ فرمائی:

﴿كُنَّا نَرٰى الْاِجْتِمَاعَ اِلٰى اَهْلِ الْبَيْتِ وَصَنْعَةَ الطَّعَامِ مِنَ النِّيَاحَةِ‘‘

[ابن ماجه:۱۱۷]

’’ مـونږ (صحابه کرامؓ) به دَ مړی کور کښې راجمع کیدل او دَ مړی کور
کښې روټئی تیارؤل دَ نوحه [یعنی په مړی باندې ویر کول] نه ګنړله ۔

☆ علامه ابن امیر الحاجؒ فرمائی:

﴿اَمَّـا اِصْلَاحُ اَهْلِ الْمَيِّتِ طَعَامًا وَجَمْعُ النَّاسِ فَلَمْ يُنْقَلْ فِيْهِ شَيْئٌ
وَهُوَ بِدْعَةٌ غَيْرُ مُسْتَحَبٍّ﴾

’’ یـعـنـی دَ مړی دَ کور والؤ روټئی تیارول او دَ خلقو جمع کیدل
پـه دې کښې یـو څیـز هـم منقول نه دې بلکه دا بدعت او غیر مستحب
کار دې ۔‘‘ [مدخل:۲۷۵/۴]

خلاصة الفتاویٰ کښې دي:

﴿وَلَا يُبَاحُ اِتِّخَاذُ الضِّيَافَةِ عِنْدَ ثَلَاثَةِ اَيَّامٍ لِاَنَّ الضِّيَافَةَ يُتَّخَذُ عِنْدَ السُّرُوْرُ﴾[٤٢/٢]

" دَ مړی دَ کور والو دَ طرفنه درې ورځو پورې میلمستیا جائزنه ده ولې چه میلمستیا دَ خوشالئی موقعه باندې وی ۔(په غم کښې نه وی)"

☆ علامه شیخ عبد الحق محدث دهلویؒ لیکی:

"این اجتماع مخصوص روز سوم وارتکاب تکلفات دیگر وصرف اموال بے وصیت از حق یتمی بدعت است وحرام."

[شرح سفر السعادت: ۲۷۳]

دَ دریمې ورځې دا خاص اجتماع (رسم قل) او نور تکلفات او دَ مړی مال کوم چه دَ تیمانانو حق جوړ شوې دې بغیر دَ وصیت نه خرچ کول بدعت او حرام دی۔"

☆ مولانا مفتی محمد شفیع دیوبندیؒ دَ یو تپوس په جواب کښې لیکی: " غرض دا چه دَ زید قول په دې باره کښې صحیح دې چه دریمه او لسمه او څلویښتی دا ټول ممنوع بدعت دی او دَ مړی روټئی دَ فقهاؤ دَ تفصیل موافق مکروهه ده، دَ بکر قول بې دلیله دې۔"

[فتاویٰ دارالعلوم:۳۲۴/۱]

یو بل ځائے کښې فرمائی: " په برادرئ (خاندان) باندې روټئ تقسیمول محض ریا او حرام دی۔" [۳۲۴/۱]

مفتی صاحب دَ یو بل سوال په جواب کښې فرمائی چه: "دَ ذکر شوی عبارت نه معلومه شوه چه دا رسم بدعت دې، دَ دې کونکی او دَ دې خوړونکی ګناه ګار دې او هر کله چه دوئ ته ثواب نه ملاویږی

بلکه التہ گناه اوشوه نو مړی ته چرته ثواب اوریسدو۔''

[امداد المفتین:۱٦۹]

☆ مولانا مفتی کفایت الله دهلویؒ فرمائی:

''دَ مړی دَ کور خلقو نه تر درے ورځو پورے څه خوړل نه دی پکار۔'' [کفایت المفتی:۱۰۸/۴]

مولانا رشید احمد گنگوهیؒ لیکی:

''راجمع کیدل دَعزیزانو اقرباؤ وغیره ؤ دَ پاره دَ لوستلو دَ قرآن مجید یا دَ کلمے طیبے ، دَ مړی دَ وفات په ورځ راجمع کیدلو سره یا په دویمه یا دریمه ورځ بدعت او مکروهه دی په شرعه شریفه کښے دَ دے څه اصل نیشته۔'' [فتاویٰ رشیدیه:۱۵۴]

''کوم بدعات چه لکه دَ مړی دریمه وغیره دی دَ دے کؤل په هیڅ وجے سره درست نه دی ۔ دَ شریعت قاعده دا ده چه کوم څیز کښے نیکی او بدی دواړه گډوی نو هغے له شریعت دَ بدئ حکم ورکوی دَ هغے په نیکوالی باندے نظر نه وی۔'' [رشیدیه:۱۵٦]

''مړی دَ پاره کلمه طیبه وغیره لوستل ډیر بهتر او ثواب دے لیکن تخصیص دَ دریمے ورځے او دَ چنړو ، دا بدعت دے ، هلته شریکدل نه دی پکار۔'' [رشیدیه:۱۵۹]

''تر څلویښتو ورځو پورے دَ روټئی رسم کول بدعت دی همدغه شان یؤلسمه هم بدعت ده ۔ بغیر دَ پابندئ او قیودو ایصال ثواب مستحسن دے۔'' [رشیدیه:۱٦۱]

☆ مولانا عبد الحئی لکهنویؒ :

”مقرر کردن روز سوم وغیره بالتخصیص واوراضروری انگشتن در شریعت محمدیه ثابت نیست.“ [مجموعة الفتاویٰ:۷۷/۳]

”تخصیص سره دَ دریمے ورځے وغیره (ایصال ثواب اوخیرات دَ پاره) مقررول او دا ضروری ګنړل په شریعت محمدی ﷺ کښے ثابت نه دی۔“

## دَ جنازے نه پس اجتماعی دعا:

دَ نبی کریم ﷺ په زمانه کښے جنازے شوے دی ، هغوی ﷺ پخپله پړهاؤ کړے دی ، بیا دَ نبی ﷺ نه پس صحابه کرامؓ ، تابعینوؒ او تبع تابعینوؒ هم په مړو باندے جنازے کړے دی لیکن دَ هیچا نه دعا بعد الجنازه ثابته نه ده ، که چرے دا دَ ثواب کار وے نو دے حضراتو به ضرور کړے وے او مونږ ته به ضرور نقل وے ۔ همدا وجه ده چه فقهاؤ او دَ حق عالمانو دے ته بدعت او مکروهه وئیلی دی ۔

☆ علامه سراج الدین حنفیؒ فرمائی:

﴿اِذَا فَرَغَ مِنَ الصَّلٰوةِ لَا يُقُوْمُ بِالدُّعَآءِ﴾ [فتاویٰ سراجیه:۲۳]

”کله چه دَ جنازے مونځ نه فارغ شی نو دعا دَ پاره دے نه حصاریږی۔“

☆ علام ابن جنیم حنفیؒ المعروف به ابو حنیفهؒ ثانی فرمائی:

﴿وَلَا يَدْعُوْا بَعْدَ التَّسْلِيْمِ﴾ [بحرالرائق:۱۸۳/۲]

”او دَ سلام نه پس دے دَ دعا نه غواړی ۔“

☆ امام ابوبکر بن حامد حنفیؒ لیکی:

﴿اِنَّ الدُّعَاءَ بَعْدَ صَلٰوةِ الْجَنَائِزِ مَكْرُوْهٌ﴾

”دَ جنازے مونځ نه پس دعا غوښتل مکروهه دی۔“

[محیط باب الجنائز بحواله دلیل الخیرات:۴۸]

☆ مولانا مفتی کفایت الله دهلویؒ فرمائی: ”دَ جنازے مونځ نه متصل پس لاسونه پورته کولو سره دَ دعا غوښتلو په شریعت کښے هیڅ ثبوت نیشته، او دَ جنازے مونځ پخپله دعا ده ، هاؤ که خلق په خپل خپل زړه کښے دَ لاس اوچتولو نه بغیر دَ مغفرت دعا کوی نو دا جائز دی ۔ اجتماعی دعا لاسونه پورته کولو سره کول بدعت دے۔“

[کفایت المفتی:۴/۸۵،۹۶]

☆ مولانا خیر محمد جالندهریؒ فرمائی:

”دَ جنازے مونځ نه پس راجمع کیدلو سره دعا غوښتل بدعت دے۔ دَ حنفیه په کتابونو کښے هم دَ دے مخالفت کړے شوے دے۔“

[خیر الفتاویٰ :۱/۵۸۸]

☆ مولانا مفتی عزیز الرحمن دیوبندیؒ دَ یو سوال په جواب کښے فرمائی:

”دغه عالم صاحب ته دَ جنازے مونځ نه پس دَ دے فرمان (چه دریے ځلے الحمد او سوره اخلاص اوائی او مړی دَ پاره دعا اوکړی) ضرورت نیشته ، دا دَ صحابه کرامؓ او تابعینوؒ او دَ آئمه دین دَ تعامل نه ثابت نه دی۔ دَ جنازے مونځ کافی دے۔“

﴿وَلَكُمْ فِىْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ﴾ [عزیز الفتاویٰ:۱/۱۰۰]

☆ فتاویٰ دارالعلوم دیوبند کښے لیکلی دی چه:” دَ جنازے مونځ نه پس قرآن پاک لوستل یا دعا کول دَ دے ثواب مړی ته نه رسی ، ولے چه دعا بعد الجنازه دَ امت مشفق پیغمبر ﷺ او خلفائے راشدینو نه او دَ هغوی نه پس هیڅ یو صحابیؓ نه او په تابعینو کښے دَ هیچا نه ثابته نه ده ۔ که چرے جنازے نه پس دعا کول بهتر وے نو ضرور به دغه

حـضـراتـو کـړے وه ۔ نـو دَ دے نـه مونږ دا خبره معلومه کړه چه دعا بعد الجنازه جائز نه ده بلکه: ﴿اِنَّهَا بِدْعَةٌ ضَلَالَةٌ وَلَيْسَ بِعَمَلٍ صَالِحٍ﴾

[دارالعلوم دیوبند:۲/۱۱۲]

هـمـدغه شان بعضے خلق دَ جنازے اوړلو وخت کښے په اوچت آواز سره ذکر کوی کوم چه دَ شریعت نه خلاف طریقه ده۔

☆ حکیم الامت مولانا اشرف علی تهانویؒ فرمائی:

کـوم خـلـق چـه جنازے سره روان وی هغوی له څه دعا ، ذکر په اوچت آواز سره کول مکروه دی ۔ [بهشتی زیور:۹۵]

☆ مولانا مفتی رشید احمد لدهیانویؒ فرمائی:

”جنازے سره جهرا کلمه لوستل بدعت دے۔“

[احسن الفتاویٰ:۱/۳۳۸]

جنازے سره اشعار او نعت لوستل غیر مشروع او بدعت دی۔ دَ دے پریښودل لازم دی۔ [فتاویٰ دارالعلوم دیوبند:۵/۲۰۳]

## دَ محرم بدعات او خرافات:

دَ مـحـرم میاشـت کښے اکثر خلق دَ شیعه ګانو تقلید کولو سره داسے کارونه کوی چه دَ هغے په شریعت کښے هیڅ ثبوت نیشته ، بلکه دا ټـول بـدعات او خرافات دی ۔ مثلا بعضے خلق دا میاشت سپیره ګنړی په دے وجه دے کښے نکاح ، واده یعنی دَ خوشالئی کارونه نه کوی۔

☆ مفتی رشید احمد لدهیانویؒ لیکی :

” شیـعـه ګـان دا (مـحـرم) سپیـره ګنړی او وجه دَ دے دا ده چه دَ دوی پـه نـزد شهـادت ډیـر بـد او مـنـحوس څیز دے او چونکه دَ حضرت

حسینؓ شهادت په همدے (میاشت) کښے شوے دے په دے وجه دوی هیڅ تقریب او دَ خوشالئی کار وادهٔ نکاح وغیره نه کوی ـ"

مخکښے په دے باره کښے مزید داسے لیکی:

" هر کله چه دا ثابته شوه چه دا میاشت او ورځ افضله ده نو په دے کښے نیک کارونه ډیر کول پکار دی ـ نکاح وغیره دَ خوشحالئی تقریبات هم په دے کښے زیات کول پکار دی ، په دے کښے واده کولو کښے به برکت وی۔" [احسن الفتاویٰ:۳۸۹/۱]

همدغه شان په دے میاشت کښے خصوصاً په لسم محرم کښے روټئی پخولے او تقسیمولے شی، دَ اوبو او دَ شربت سبیلونه لګولے شی۔ دا هم دَ شیعه ګانو طریقه ده او ناجائز دی ، ولے چه دا خلق دا کارونه دَ سیدنا حسینؓ دَ نوم نذر ګڼړلو سره کوی ـ څنګه چه په عوامو کښے په دے نوم سره مشهوره ده چه " نذر خدا، نیاز حسینؓ" حالانکه دَ الله نه سوا دَ هیڅ مخلوق په نوم نذر کول صریحاً حرام دی او شرک دے۔

که چرے څوک اووائی چه مونږ خو دَ حسینؓ په نوم نذر نه کوؤ بلکه دَ الله په نوم کوؤ او حسینؓ او اهل بیتو ته ایصال ثواب کوؤ، نو هم دا صحیح نه ده ـ

اولاً دا چه داسے کول یو خو دَ غیر قوم یعنی شیعه ګانو سره مشابهت دے کوم چه حرام دے ـ

ثانیا داسے ویونکو ته تول کال حسینؓ او اهل بیت یاد نه وی صرف محرم کښے ورته رایاد شی ـ حالانکه ایصالِ ثواب خو هر وخت کیدے شی او دے ایصال ثواب دَ پاره هیڅ خاص وخت مقرر نه دے ، او

خپـل طـرفـنـه ایـصـال ثواب دَ پاره میاشت یا کوم تاریخ مقرر او متعین کول په شریعت کښے جائز نه دی۔

ثـالثـا دا اوبـه یـا شـربت په محرم کښے ورکول په دے خیال سره چـه حـضـرت حسینؓ او اهل بیت دَ تندے په حالت کښے شهیدان شوی وو دَ دے خبـرے هـم قـوی ثبـوت نیشتـه ، او که چرے بالفرض دَ تندے په حالـت کښے شهیدان شوی وی نو اوس خو به جنت (برزخ) ته تللو سره دَ هـغـوی تـنده سړه شوے وی اوس خو به هغوی ته دَ اوبو ضرورت پاتے نـه وی او نـه دا اوبه هغوی ته رسیدے شی ۔ دغه شان په دغه ورځ سړی او ښـځـے قبرستان ته ځی ۔ په قبرونو باندے اوبه اچوی ، دَ قبرونو لِپُو او مرمت کوی کوم چه خلافِ شرع کارونه دی۔

دے نـه عـلاوه پـه همدے ورځو کښے دَ تعزیے جلوس ویستـل ، مـاتم کول او دَ ابو مخنف لوط بن یحییٰ نومے شیعه جوړه کړے دَ کربلا واقعه دروغ داستانونه بیانول اوریدل وغیره ، دا ټول دَ شیعه ګانو کارونه دی ۔ دے ټولو بدعاتو او خرافاتو باندے عالمانو سخت رد کړے دے ۔

☆ مولانا مفتی رشید احمد ګنګوهیؒ فرمائی:

" سړی تـه ثـواب رسـول دَ تـاریخ دَ قید نه بغیر (وخت مقروولو نه بـغیـر) کـه چـرے وی نـو عیـنِ ثـواب دے او کـله چه تخصیصات او مروجه التزامات وی نو نا درست او باعث دَ مواخذے شی۔ [فتاویٰ رشیدیه:۱٦۰]

" صـدقـے تـقسـمیـول په تخصیص دَ دے ورځو سره (په محرم کښے) کـول کـه چـرے دا ګـنـړی چـه هم نن پکښے زیات ثواب دے نو بـدعـت ضـلالـه (ګـمـراه کـونکے بدعت) دے۔ علی هذا تخصیص دَ یو

طعام په یوه ورځ پورے لغوه دی۔ “ [فتاویٰ رشیدیه:۱۳۸]

☆ مفتی رشید احمد لدهیانویؒ لیکی :

دَ محرم میاشت کښے خاص کر په نهم ، لسم او یولسم تاریخ کښے روټۍ پخولو سره دَ حضرت حسینؓ روح ته ایصال ثواب کوی دا طریقه غلطه ده۔“

مخکښے لیکی: ” په ایصال ثواب کښے دَ خپل طرفنه دا قیود لګول شوی دی ، دَ صدقے متعین صورت یعنی دَ طعام ،دَ میاشت تعین،دَ ورځ تعین حالانکه شریعت دَ دے څیزونو تعین نه دے کړے۔ تاسو چه کله غواړئ چه څه غواړئ صدقے کولے شی۔ دَ شریعت ورکړے شوے آزادی باندے دَ خپل طرفنه پابندیانے لګول سخته ګناه او بدعت دے بلکه دَ شریعت مقابله ده۔“ [احسن الفتاویٰ:۳۹۲،۳۹۱/۱]

☆ مفتی محمود حسن ګنګوهیؒ لیکی:

” دا پابندی هم غلطه او غیر ثابته ده چه که چرے دَ یخنۍ موسم وی بیا دے هم شربت اوڅکولے شی۔ دَ یوے غلطے عقیدے هم په دے کښے دخل دے هغه دا چه دَ حضرت امام حسینؓ متعلق مشهوره ده چه تږے شهید کړے شوے دے او دا شربت چه هغوی ته اورسی نو دَ هغوی تنده به سړه کړی ۔ دَ دے عقیدے اصلاح ضروری ده ۔ دا شربت هلته نه رسی ، نه هغوی ته دَ شربت ضرورت شته دے ۔ الله پاک هغوی ته په جنت کښے دَ اعلیٰ نه اعلیٰ نعمتونه ورنصیب کړی دی ۔ دَ کومو په مقابله کښے چه دَ دے ځائے شربت هیڅ حیثیت نه لری۔“

[فتاویٰ محمودیه:۵۶٦/۵]

☆ مولانا خیر محمد جالندهریؒ په دے الفاظو سره لیکی :

اوبه څکول دَ ثواب او دَ نیکئی کار دے لیکن صرف دَ محرم دَ لسو ورځو تخصیص او په باقی ورځو کښے دا عمل ترک کول ترجیح بلا مرجح او دَ روافضو (شیعه ګانو) سره مشابهت دے ۔ دے دَ پاره داعمل بدعت اوقابلِ رد دے ۔ " [خیر الفتاویٰ:۵۶۹/۱]

☆ مولانا مفتی عزیز الرحمنؒ فرمائی :

" شربت او شیرنی دَ رسومِ مروجه په وجه ټول ناجائز دی۔ "

[عزیز الفتاویٰ :۱۲۷]

" دَ شیعه ګانو په مجلس کښے شرکت درست نه دے او شیرنی خوړل هم درست نه دی کوم مسلمان چه دَ داسے کار مرتکب شو نو هغه به ګناه ګار وی او دوی سره دوستی کول حرام دی خواه که تبرائی وی او که غیر تبرائی۔ " [عزیز الفتاویٰ:۱۲۶]

☆ حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهیؒ لیکی:

" په محرم کښے دَ حسینؓ دَ شهادت ذکر کول اګرچه په صحیح روایاتو سره وی یا سبیل لګول، شربت څکول یا په سبیل او شربت کښے چنده ورکول یا پئی څکول ټول نادرست او دَ روافضو سره دَتشبیه په وجه حرام دی۔ " [ فتاویٰ رشیدیه:۱۲۹]

☆ مفتی اعظم هند مولانا کفایت الله صاحب دهلویؒ لیکی:

" دَ شهادت بیان دَ پاره دَ مجلس انعقاد بدعت دے ۔ هاؤ وعظ او تذکیر دَ پاره جائز دے۔ " [کفایت المفتی:۱۹۶/۱]

☆ مفتی رشید احمد لدهیانویؒ لیکی:

" په دې میاشت کښې دَ نورو خرافاتو سره یو دا هم ده چه په دې میاشت کښې مجلسونه او جلسې کیږی کومو کښې چه دَ شهادت قصې اوروليې کیږی ـــ بل دا چه دا ژړؤونکی واقعات کوم چه په دې میاشتو کښې اوروليې کیږی اکثر غلط دی ـ نو دَ دې اوریدل خو هسې هم ناجائز دی ، په تاریخ باندې دَ شیعه گانو تسلط ، دَ دغه تقیه باز منافقانو په مسلمانانو کښې ننوتل او دَ من گهړت روایاتو اشاعت کول او دَ مسلمانانو آل رسولؓ سره غیر معمولی محبت او عقیدت په وجه دَ مظلومیت هر داستان صحیح گڼړل دا داسې امور دی چه دَ دې په وجه دا واقعه شهادت دَ صحیح حقیقت انکشاف ناممکن دې حتی چه په ظاهره معتبر او مستند کتابونو کښې مندرجه تفاصیل هم قابل اعتماد نه دی ، اکثر روایات په خپلو کښې دَ تضاد او دَ عقل او اصول شرع خلاف کیدلو په وجه یقینا غلط دی بلکه دَ نفس شهادت نه سوا دَ دې دَ تفصیل شاید چه کومه جزئیه داسې وی چه دَ هغې په صحت باندې پوره اعتماد اوکړې شی ـ جگر گوشه رسول ﷺ (سیدنا حسینؓ) لره شهید کونکو په خپل دې شقاوت باندې پرده اچولو او دَ حقیقت مسخ کولو په غرض سره دروغ روایات وضع کول کښې دَ خپل خصوصی مهارت نه پوره کار اخستې دې۔ [احسن الفتاویٰ:۱/۳۹۱،۳۹۲]

☆ مولانا رشید احمد گنگوهیؒ فرمائی:

" ذکر دَ شهادت دَ محرم په لسو ورځو کښې کول دَ روافضو سره دَ مشابهت په وجه منع دی او ماتم او نوحه کول حرام دی ـ " فی الحدیث نهی عن المراثی .[الحدیث]" او خلاف روایات بیانول په تهولو

ابو ابو کښے حرام دی۔" [فتاویٰ رشیدیه:۱۳۸]

☆ مولانا اشرف علی تهانویؒ لیکی:

" قبرونو له لیۀ ورکول ، اوبه پرے اچول په خیر القرون کښے دَ داسے کارونو هیڅ ثبوت نیشته ۔ اصحابِ رسول ﷺ څوک چه په دین بهتر پو هیدونکی وو ، دَ دے کارونو کونکی نه وو، اوبه اچول یو بے هوده او ناجائز کار دے۔" [امداد الفتاویٰ:۲۸۹/۵]

## دَ صفردَ میاشتے آخری چارشنبه کښے چوری کول:

په بعضو علاقو کښے دَ صفر میاشت کښے په آخری چارشنبه خلق ، خاص طور باندے ښځے په کورونو کښے ډیر اهتمام سره چُوری تیاروی ۔ او بعضے خلق په دغه ورځ متهائی ،حلوه وغیره پخوی او دا کار خیر ګڼړی او دَ ثواب په نیت ئے تقسیموی۔ ورسره ئے دا خیال او عقیده وی چه په دے ورځ نبی کریم ﷺ دَ بیماریٔ نه صحت یاب شوے وو او امهات المؤمنین (دَ مؤمنانو میندو) دَ شکرے په طور او په خوشحالئی کښے دَ صدقے په نیت چُوری کړے وه۔

حالانکه شریعتِ اسلام یعنی قرآن او سنت کښے او دَ صحابه کرامو ، تابعینو او تبع تابعینو او مجتهدینو امامانو نه دَ دے هیڅ ثبوت نیشته بلکه دا یو بے اصل او ګمراه کن بدعت دے۔

حقیقت خو دا دے چه نبی کریم ﷺ کله بیمار شو نو هغوی ته دَ دغه بیماریٔ نه بیا صحت نه وو ملاؤ شوے بلکه په هغے کښے وفات شوے وو ۔ دَ صفر په آخری چارشنبه خو دَ بیماریٔ شروع شوے وه څنګه چه دَ سیرت کتابونو لیکلی دی او په دے باندے یهودیانو

خوشالئی کړے وه ۔

☆ مولانا رشید احمد گنگوهیؒ لیکی :

" دَ آخری چارشنبے هیڅ اصل نیشته بلکه په دے ورځ دَ جناب رسول الله ﷺ مرض زیات شوے وو نو یهودو خوشحالی کړے وه دا طریقه اوس په جاهلانو هندوانو کښے رائجه شوه ۔"

[فتاویٰ رشیدیه:۱٦۹]

**سوال:** دَ صفر په آخری چارشنبه اکثر عوام خوشالی او سرور کوی اطعام الطعام کوی ۔ شرعا په دے باب کښے څه ثابت دی؟

**جواب:** شرعا په دے باب کښے هیڅ ثبوت نیشته ، دَ جاهلانو خبرے دی۔

[فتاویٰ رشیدیه:۱٦۳]

☆ ابو حنیفه ثانی مفتی اعظم هند مفتی کفایت الله دهلویؒ نه پوښتنی شوی سوال په جواب کښے دَ چُوریٔ باره کښے داسے لیکی:

**سوال:** آخری چارشنبه کومه چه دَ صفر میاشت کښے وی دَ دے کؤل په شریعت کښے جائز دی که نه؟ او په روټئی باندے فاتحه کول څنگه دی؟

**جواب:** دَ آخری چارشنبے متعلق چه کومے خبرے مشهورے دی او کوم رسمونه چه ادا کیږی دا ټول بے اصل دی ۔ روټئی مخے ته ایښول او فاتحه ورباندے وئیل بے اصل دی۔[کفایت المفتی:۲۲۷/۱]

☆ مفتی محمود حسن گنگوهیؒ لیکی:

" دَ صفر دَ میاشتے په آخری چارشنبه دَ خوشحالئی تقریب مناوول متهائی وغیره تقسیمؤل شرعا بے دلیله دی په دے تاریخ کښے دَ صحت غسل ثابت نه دے ، البته دَ مرض زیاتیدلو روایت په مدارج

الـنبـوت کښـې دې (وړاندې لیکی) دا غلطه طریقه ده دَ دې نه بچ کیدل لازم دی ۔ دَ حـضـور ﷺ پـه دغـه ورځ صـحـت موندل ثابت نـه دی ۔ غلطه خبره منسوب کول سخت معصیت دې ۔دَ موافقت نیت نه بغیر هم دَ یهودو طریقه اختیار نه دی پکار۔ [فتاویٰ محمودیه:۲۱۱/۱۵]

☆ مـفـتـی اعـظـم پـاکـسـتـان مـولانـا مفتی محمد شفیعؒ په خپله فتاویٰ کښې لیکی:

**سوال۱:** مـونـږ اوریـدلـی ده چـه دَ حـضـرت نوح علیه السلام کشـتـئـی پـه جـودی غـر بـانـدې اودریـده نـو ټـوله غله ئې راجمع کړه او کچرې ئې پوخ کړو ، دا خبره صحیح ده که نه؟

**سوال۲:** دَ صـفـر مـیـاشـت کښـې چه کومه آخری چارشنبه وی دَ دې څه اصـل دې مـونـږ اوریـدلـی دی چه په دغه ورځ دَ نبی کریم ﷺ طبعیت زیات خراب وو ۔ ما له په دې ورځ څه کول پکار دی؟

**جواب:** دواړه خبرې بالکل بې اصله او غلطې دی بلکه په حدیث کښې دَ صفر دَ میاشتې دَ څه خاص اهتمام کولو مخالفت وارد دې:

﴿قَالَ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ لَا هَامَّةَ وَلَا صَفَرَ﴾

دَ مسـلـمان لوئې کار او دَ ټولو نه لوئې عبادت دا دې چه دَ سرور کـائـنـات ﷺ اتبـاع اوکـړی او پـه اتبـاع کـولو کښې چه دا خبره په پوره توګه دَ عالمانو نه تحقیق کړی چه دا فعل دَ حضور ﷺ نه ثابت دې که نه ۔ دَ یو بل نه دَ اوریدلو خبرو اتباع کول هم ګناه ده۔

[امداد المفتیین:۱۰۲۶]

☆ فقیه العصر مفتی رشید احمد لدهیانویؒ فرمائی:

**سوال:** دَ صفر دَ میاشتے آخری چارشنبه کښے بهترینه خوراکه پخول درست دی که نه؟ بعضے خلق وائی چه دَ صفر میاشتے په آخری چارشنبه کښے دَ نبی کریم ﷺ ته دَ مرض نه شفا شوے وه په دے خوشحالے کښے روټئی پخول پکار دی ۔ دا درست دی که نه؟

**الجواب:** دا غلطه او من گهړته عقیده ده ، دے وجے نه ناجائزه او گناه ده۔ [احسن الفتاویٰ:۳٦۰/۱]

## په رجب کښے دَ کونډو بدعت:

په بعضو علاقو کښے خلق دَ رجب میاشتے په دوه ویشتمه ورځ دَ کونډو (خانکونو) دَ بدعت اهتمام کوی او دا خبره امام جعفر صادقؒ طرفته منسوب کوی او وائی چه ۲۲ رجب دَ امام جعفر صافقؒ دَ پیدائش ورځ ده په دے وجه مونږ دا کونډے ورکوؤ ۔ حالانکه ۲۲ رجب نه دَ امام صاحب دَ پیدائش ورځ ده او نه ئے دَ وفات ورځ ده ۔ ولے چه دَ صحیح روایاتو مطابق دَ جعفر صادقؒ ولادت په اتم رمضان ۸۰ یا ۸۲ هجری کښے شوے دے او وفات ئے ۱۵ شوال ۱۴۸ هجری کښے شوے دے۔

## حقیقتِ حال:

اصل خبره دا ده چه دَ ۲۲ رجب دَ کونډو رسم او دا بدعت مخالفینو او دَ صحابه کرامؓ دشمنانو(شیعه گانو، رافضیانو) دَ کاتب وحی امیر المؤمنین،او خال المسلمین سیدنا امیر معاویهؓ دَ وفات په خوشالئی کښے شروع کړے وو ۔ ولے چه ۲۲ رجب دَ امیر معاویهؓ دَ وفات تاریخ دے ځنګه چه البدایه والنهایه ۱۴۳/۸ کښے دی۔

لیکن شیعه گانو اصل حقیقت پټولو دَ پاره او دَ دے رسم پرده

پوشئی دَ پاره دا رسم جعفر صادقؒ طرفته منسوب کړے دے ۔ برصغیر کښے دَ دے ابتداء داسے اوشوه چه په ۱۹۰٦ء کښے رام پور ریاست دَ امیر مینائی لکهنوی شیعه ځوئی خورشید احمد مینائی دَ رام پور نه "داستان عجیب" دَ امام جعفر صادق په نوم باندے دَ ځانه جوړ کړو او په خلقو کښے ئے تقسیم کړو ۔ دَ رام پور نواب دَ دے افسانے اشاعت او دَ کونډو په ترویج کښے ډیره دلچسپی ښکاره کړه ۔ دَ هغه ځائے سُنی مسلمانانو هم دَ نواب خوشالولو دَ پاره دا رسم خپلول شروع کړل۔ او رو رو دا بد رسم په نورو علاقو کښے هم خوریدل شروع شو ۔ غرض دا چه شیعه ګانو دَ جناب جعفر صادقؒ دَ کونډو په نوم باندے دَ سیدنا امیر معاویهؓ یوم وفات باندے سُنی مسلمانانو له دهوکه ورکړه او په غیر شعوری طور باندے ئے مسلمانان په خپله دے خوشحالئی کښے شریک کړل دَ حق عالمانو په دے رسم او بدعت باندے رد کړے دے:

☆ حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهیؒ دَ کونډو او رجبی بارے کښے دَ پوښتنو شوؤ سوالونو په جواب کښے فرمائیلی دی:

" دا تعینات بدعتِ ضلالت دی او په طعام کښے که چرے نیت دَ ایصال ثواب وی نو طعام مباح او صدقے ده ۔ او که چرے دَ دغه اکابرو په نوم وی نو په " مَا اُهِلَّ بِهٖ لِغَيْرِ اللّٰهِ" کښے داخله ده او حرامه ده۔"

[رشیدیه:۱۳۷]

" ایصال ثواب بلا قید طعام وایام مندوب دے او قید او تخصیص دَ ورځے اوتخصیص دَ طعام بدعت دے ۔ که چرے تخصیص سره ایصال ثواب وی نو طعام نه خرابیږی اګر چه دَ دے تخصیص په

وجے سره معصیت کیږی۔" [فتاویٰ رشیدیه:۱۳۸]

" دَ دے دواړو امورو التزام نادرست او بدعت دے او دَ دے دَ ناجائز والی وجوه اصلاح الرسوم ، براهین قاطعه ، او اریچه کښے درج دی ۔ فقط [فتاویٰ رشیدیه:۱٦۱]

☆ مولانا مفتی عزیز الرحمن صاحبؒ دَ کونډو او محرم کچړی وغیره باره کښے دَ یو سوال په جواب کښے فرمائی چه " دا ټول رسوم بدعت او ضلالت دی ۔ دَ دے رسمونو مرتکب بدعتی دے ، هغه پسے مونځ کول مکروهه دی او که چرے دے دا رسمونه نه پریږدی نو هغه سره متارکت لازم دے ۔ او که چرے عقائدو کښے کفر ته رسیدلی نه وی نو نکاح ئے منعقد کیږی لیکن ښه نه ده۔" [عزیز الفتاویٰ:۱۰۷]

☆ مولانا رشید احمد لدهیانویؒ لیکی :

" دَ کونډو مروج رسم دَ صحابه کرامؓ دَ دشمنانو دَ حضرت معاویهؓ په وفات باندے دَ خوشحالئی اظهار دَ پاره ایجاد کړے دے ۔ ۲۲ رجب دَ حضرت معاویهؓ دَ وفات تاریخ دے [طبری ، استیعاب] دَ ۲۲ رجب حضرت جعفر صادقؒ ولادت ۸ رمضان ۸۰ هجری یا ۸۳ هجری دے او وفات ئے شوال ۱۴۸ هجری کښے شوے دے۔

دَ دے نه ثابتیږی چه دا رسم محض پردے پو شئی دَ پاره حضرت جعفر صادقؒ طرفته منسوب کولے شے ګنے په حقیقت کښے دا تقریب دَ حضرت معاویهؓ دَ وفات په خوشالئی کښے مناویږی۔ کوم وخت چه دا رسم ایجاد شو نو شیعه ګانو ثوک چه دَ مسلمانانو نه مغلوب او خائف وو ، هغوی دا اهتمام اوکړو چه شیرینی دے په ښکاره

تقسیم نه کړے شی دَ پاره دَ دے چه راز فاش نشی بلکه دَ حضرت معاویهؓ دشمنان دے خاموشئی سره یو بل کره لاړ شی او هلته دے دا شیرینی اوخوری چرته چه دا یخوے شوے ده او په دے طریقه خپله خوشحالئی او مسرت یو بل باندے ظاهر کړی۔ کله چه چرچه اوشوه نو دا ئے حضرت جعفر صادقؒ ته منسوب کړه او په هغوی باندے ئے دا تهمت اولګولو چه هغوی پخپله په تاریخ باندے دَ خپلے فاتحے حکم ورکړے دے۔ حالانکه دا توله من ګهړته خبره ده ۔ په مسلمانانو باندے لازم دی چه هر ګز دے داسے رسمونه نه کوی ، بلکه نور خلق دے هم دَ دے حقیقت نه خبردار کړی او دَ دے نه دَ بچ کولو کوشش دے اوکړی۔''

[احسن الفتاویٰ:۳٦۷/۱، فتاویٰ محمودیه:۲۲۱/۱]

☆ حکیم الامت مولانا اشرف علی تهانویؒ لیکی:

''دَ رجب میاشت ته عام خلق ''دَ مریم دَ روژے میاشت'' هم وائی او دَ دے په اوویشتم تاریخ روژه نیول ښه ګنړی چه دَ زرو روژو ثواب ورسره ملاویږی ۔ په شرع کښے دَ دے هیڅ اصل نیشته ، که چرے نفلی روژه څوک نیول غواړی نو اختیار دے ، چه څومره الله تعالیٰ اوغواړی ثواب به ورکړی، دَ خپل طرفنه دے هزار یا لاکه مقرر نه ګنړی۔ بعضے علاقو کښے په دے میاشت کښے دَ تبرک روټئی هم پخیږی دا هم دَ ځانه جوړه شوے خبره ده ، په شرع کښے دَ دے هیڅ حکم نیشته او نه په دے باندے دَ ثواب څه وعده شته ، دے دَ پاره داسے کارونه دَ دین خبره ګنړل ګناه ده۔'' [بهشتی زیور:۳۴۸، حصه ششم]

''دَ بعضو ښځو عادت وی چه هغوی دَ بی بی فاطمےؓ دَ وفات

پـه تاریخ کښې کهیر پخوی او خانکونه (کونډے) ډکوی او په ماشومانو ئے خـوری ۔ ایصال ثواب دَ پاره تاریخ متعین کول او په هغې کښې غیر ضروری څیـزونـه ضروری ګـڼـړل دَ شرعـے نـه خلاف دی ، دَ خانکونو ډکولو ثبوت په شریعت کښې چرته هم نیشته ۔“

[نظام الفتاویٰ:۱۴۷، اغلاط العوام:۲۱۸]

مفتی کفایت اللـه دهلویؒ دَ کونډو (خانکونو) باره کښې دَیو سوال په جواب کښې فرمائی چه: ”دا دَ کـونـډو رسم یو داسے ایجاد دے کـوم دَ پاره چه پـه شـریعت مقدسه کښې هیڅ دلیل نیشتـه ۔ لهٰذا دَ دے پریښـودل ضروری دی ۔ لیـکـن دَ دے حقیقت دا نۀ دے چه دغه خوراکه حرامه شی ، خوراکه خو فی ذاته مباح ده ، هاؤ منع کونکو خلقو له هلته تـلـل او دغـه خـوراک خوړل مناسب نه دی ځکه چه په دے اقدام سره هم فـی الـجـمـلـه دَ رسم تـائید کیږی ، دَ خپلوئ او دوستانے په وجے سره هم هـلـتـه تـلـل او خـوړل مناسب نه دی ولے چه دا هم یو قسمه مداهنت دے (یعنی دینی معامله کښې سستی کول دی۔ مترجم)

[کفایت المفتی:۷۹/۹]

## دَ شعبان بدعات:

دَ نـورو میاشتـو پـه شان په دے میاشت کښې هم دَ بدعاتو زور وی۔ دلته مونږ دَ یو څو مخصوصو بدعاتو او رسوماتو ذکر کوؤ۔

دَ شعبـان میاشت کښې دَ پنځلسم شعبان شپه ”دَ شب برأت“ پـه طـور مـنـاوؤل چـه دَ تـحـقـیـق تـر مـخـه پنځلسم شعبـان دَ ثواب او خوشحالئی شپه ګڼړل بے اصل دی ۔ په دے شپه کښې جوماتونو کښې

اجتماع او شپه رونړه کولو دَ پاره دَ فرائضو نه زیات اهتمام کولے شی۔ دغه شان دَ مړی روح کور ته دَ راتلو عقیده لرلے کیږی ، په دے عقیدے سره حلوه پخولے شی چه دَ نبی کریم ﷺ غاښ مبارک کله شهید شو نو حضور ﷺ حلوه خوړلے وه ، دا من گهړت (دَ ځانه جوړه شوے) او غلطه قصه ده ۔ دغه شان آتش بازی او چراغان کولے چی کوم چه خلافِ شریعت کیدلو او نورو قبائحو سره سره دَ هندوانو دیوالی تهوار سره مشابهت لری ۔ دا میاشت ایصال ثواب دَ پاره مخصوص کول بدعت دی ځکه چه دَ شریعت تر مخه ایصال ثواب هر وخت هره میاشت کیدے شی ۔ بعضے خلق دا گنړی چه کله دَ پنځلسم شعبان نه مخکښے څوک مړ شی نو تر څو پورے چه په پنځلسم شعبان هغه دَ پاره فاتحه اونه کړے شی هغه په مړو کښے نه شاملیږی دا بالکل لغوه خبره ده۔

بعضے خلق دَ شعبان په پنځلسم تاریخ لوښی بدلوی، همدغه شان کور لیؤ کول (رنګ روغن) هم کولے شی کوم چه بے اصل ، کفارو سره مشابه او حرام دی ۔ [ماخوذ از اصلاح الرسوم،احسن الفتاویٰ وغیرہ]

بهر حال دا ټول هغه بدعات او رسومات دی کوم چه زمونږ په دین کښے چرته هم نیشته ، پخپله دَ نبی کریم ﷺ په ژوند کښے او دَ صحابه کرامو ؓ او سلفو صالحینو ؒ په ژوند کښے دا ټول حالات ، غم او ښادی ، اولاد پیدا کیدل ، وفات کیدل وغیره راغلی دی لیکن هغوی نه دَ دے خبرو هیڅ ثبوت چرته هم نه ملاویږی ۔

په قرآن کښے ، دَ حدیثو کتابونو کښے او په صحیح تاریخ او سیر کښے دَ دے دَ کؤلو وجود نیشته ۔ نو دا دَ دے خبرے واضحه ثبوت

دے چه هغوی چرے دا کارونه نه دی کړی۔

## عدمِ نقل دَ نه کولو دلیل دے:

دَ نبی کریم ﷺ او صحابه کرامو ؓ نه دَ یو عمل عدمِ نقل دَ دے خبرے پوخ دلیل دے چه هغوی دا کار نه دے کړے او که چرے هغوی کړے وے نو مونږ ته به ضرور په نقل سره رارسیدلے وو۔

په عنایه کښے دی چه:

﴿وَعَدَمُ النَّقْلِ مِنَ النَّبِيِّ ﷺ يَدُلُّ عَلٰى عَدَمِ فِعْلِهٖ﴾

[مجموعه رسائل ومائة مسائل]

یعنی دَ یو عمل او یو څیز دَ نبی ﷺ نه نۀ نقل کیدل دَ دے دلیل دے چه دا کار نبی ﷺ نه دے کړے۔"

ابن کثیرؒ دَ سورت احقاف ایت :۱۱ په تفسیر کښے لیکلی دی چه :

﴿كُلُّ قَوْلٍ وَفِعْلٍ لَمْ يُثْبَتْ عَنِ الصَّحَابَةِ فَهُوَ بِدْعَةٌ﴾ [ابن کثير:٤/١٥٦]

" یعنی هر هغه قول او فعل چه دَ صحابه کرامو ؓ نه ثابت نه وی هغه بدعت دے۔"

## ﴿زمونږه فرض﴾

دے دَ پاره مونږ له په حیثیت دَ مسلمان او دَ نبی کریم ﷺ دَ امتی کیدلو ، دا قسمه بدعاتو او رسوماتو نه بچ کیدل او په سنتِ رسول ﷺ او سنت صحابهؓ باندے دَ تلو پابندی کول دی۔ دَ پاره دَ دے چه مونږ دَ رسول الله ﷺ دَ دے ارشاد مصداق جوړ شو چه :

زما په خلفاؤ دے دَ الله رحمت وی ۔صحابه کرامو ؓ تپوس اوکړو چه ستاسو خلیفه ګان څوک دی ؟ نو حضور ﷺ اوفرمائیل :

﴿اَلَّذِیۡنَ یُحِبُّوۡنَ سُنَّتِیۡ وَیُعَلِّمُوۡنَهَا عِبَادَ اللّٰهِ﴾ [جامع بیان العلم وفضله]

یعنی هغه خلق چه زما سنت به ژوندی لری او هغه به دَالله بندګانو ته هم ښائی۔"

او ورسره دَ حضور ﷺ دے بد دعا نه هم محفوظ شو چه هغوی ﷺ فرمائیلی دی:

﴿اِذَا اُحۡدِثَ فِیۡ اُمَّتِیۡ الۡبِدَعُ وَشُتِمَ اَصۡحَابِیۡ فَلۡیُظۡهِرُ الۡعَالِمُ عِلۡمَهٗ فَمَنۡ لَمۡ یَفۡعَلۡهُ فَعَلَیۡهِ لَعۡنَةُ اللّٰهِ وَالۡمَلَائِکَةِ وَالنَّاسِ اَجۡمَعِیۡنَ﴾ [اعتصام]

"کله چه زما امت کښے بدعات پیدا شی او زما اصحابؓ ته بد رد وئیل شروع شی نو عالم له دَ خپل علم اظهار (بیان دَ سنت او رد دَ بدعت او دفاع دَ صحابه کرامؓ) کول پکار دی (دا په ده باندے واجب دی) نو چه څوک داسے اونه کړی نو په ده دے دَ الله تعالیٰ او دَ هغه دَ فرشتو او دَ ټولو خلقو لعنت وی۔"

یقیناً نن هم هغه دور دے چه یو طرفته خو شیعه ګان او روافض او دَ هغوی همنوا خلق په اصحابِ رسولؓ باندے (څوک چه بیشکه بے شبهے مونږ مسلمانانو دَ پاره دَ ایمان او دین معیار دے) په هغوی باندے تبرا کوی او بد رد ورته وائی او بل طرفته بغیر دَ تحقیق نه قسم قسم بدعاتو او رسوماتو له دَ سنت ځائے ورکوی ۔ نن زمونږ په معاشره کښے دا خبرے دومره عامے شوے دی چه یو عام انسان دَ پاره دَ سنت او بدعت امتیاز کول انتهائی مشکل شوی دی او بدعت پریخودل او سنت خپلول دَ خلقو په خیال کښے دَ دین پریښودلو مترادف جوړ شوی دے ۔

قارئینو کرامو! تاسو دَ بدعاتو په موضوع باندے دا مختصره

رساله اوکتله ۔ خپل خواؤ شا نظر واچوئ تاسو ته به ډیر داسے عبادتونه او عقائد په نظر راشی دَ کومو چه اسلامی شریعت سره یا دَ ثواب نومے څه څیز سره دَ لرے واسطه هم نیشته۔ چرته چه ګورئ تاسو ته به ډیرے داسے تماشے کتلو دَ پاره ملاویږی دَ کومو کتلو سره چه په حقیقی معنو کښے اسلام سره دَ محبت کوؤنکی انسان زړۂ دَ وینو په اوښکو ژاړی۔ یو هغه وخت وو چه یو مسلمان چه دَ چا لباس به خواه که دَ غریبئی په وجه زوړ شلیدلے وو لیکن دَ خبرو اترو انداز کښے او په عقائدو، عباداتو او معاملاتو ټولو څیزونو کښے به ئے دَ خپل نبی ﷺ رنګ ډنګ صفا په نظر راتلو ۔ دَ خپل کمزوری حالت باوجود به په چال ډهال، وضع قطع او قول او فعل کښے به هغه دَ وقار مجسمه ښکاریده ۔ دَ دۀ دے ساده لیکن پر کشش انداز ته فقط کتلو سره به دَ کتونکی زړۀ بے اختیاره اسلام طرفته راښکلے کیدو ۔

لیکن نن خو دَ مسلمانئی نوم کنځل جوړ شوی دی ۔ نن که چرے اوکتے شی نو ځان ته مسلمان وئیلو والا په ډیر فخریه انداز کښے شکل او صورت دَ یهودیانو او عیسایانو غوندے جوړ کړی وی او دَ هندوانو ستائل ئے اختیار کړی وی دَ بزرګانو قبرونو په وړاندے سر ټیټ کړے ناست وی ۔ دَ هغوی قبرونو سره دَ بدعاتو یو مکروهه سلسله ساتونکی دے کلمه ګو انسان دَ خپل ځان او دَ هندوانو په مینځ کښے هیڅ ظاهری فرق واضح نه کړے شو ۔ کوم کارونه، کومے طریقے، کومے نذرانے چه هندوان دَ خپلو دیویانو دیوتا ګانو په وړاندے کوی په هغے کښے مسلمانان هم مبتلا دی، چه دَ کومو وهمونو ښکار هندوان

وو مسلمانان هم په هغې کښې گرفتار دی ، سکهان چه کومې چړاهاوې (او منختې) په خپلو گردوارو باندې اچوی مسلمانان هم هغه ټول کارونه دَ اولیاؤ قبرونو سره کولو کښې مصروف دی ۔ دا بدعت کول څه معمولی خبره نه ده ځنگه چه زمونږ دَ بعضو " مهربانو" (ملګرو) خیال دې۔

دَ بزرگانو قبرونه ته دَ غسل ورکولو وجود چرته زمونږ په دین کښې وو ؟ چه کوم خوا گورې دا دَ بدتمیزې یو عجیبه طوفان برپا دې ، معلومه نه ده چه دا شرکیه عقائد او دَ ځان نه جوړ کړی رسومات کله او دَ کومه ځایه راغلل او کله دَ مسلمانانو په ذهنونو او عقیدو کښې پیوست شو۔

په تاسو کښې به ډیر کسان یقینا داسې هم وی په چا باندې به دا خبرې ډیرې عجیبه او نوې لگی چه " دا هم بدعت دې هغه هم بدعت دې ۔ دې نه مخکښې خو چرې مونږ داسې لوستلی او وئیلی نه وو ۔ کوم ملیان صاحبان چا نه چه مونږ یو مودې راسې اوریدل کړی دی هغوی خو چرې هم داسې نه دی وئیلی وغیره" دغه شان دَ راقم الحروف داسې افرادو سره هم واسطه پروځی چه په مسخرې کولو سره دې پورې اووائی چه صاحبه! دنیا کوم ځائے ته اورسیده او تاسو خلق لگا ئیی بدعت بدعت کوئ وغیره ۔

په دې سلسله کښې مختصرا دا عرض دې چه کاش مسلمان امت خپل دین هم دغسې پارټ ټائم کار او دَ وخت ضائع کول نه گڼړلے او دنیا کومه چه محض ضرورت وو دا ئے هر څه نه گڼړلے او په دې کښې نه وانختیدلے نو دَ اسلام دشمنانو ته به دغه شان دَ شب خون وهلو اوامتِ مسلمه کښې دَ ورننوتلو جرأت نه کیدې۔

دَ دغـه اسـلام دشـمـنـو خـلـقـو نـه زمونږ مراد یهود او نصاریٰ او هـنـدوانـو سره سره پخپله په مسلمان امت کښې دَ لستونړی مارانو پشان پالـلے شوو اهل روافض او نورے باطلے فرقے هم دی چا چه دَ نبی کریم ﷺ په تعلیماتو کښے دَ تحریف په ذریعه دَ اسلام اصل شکل په ډیرے بے دردئ سره وران کړے دے ۔ دَ پاسه نه پاتے کسر مونږ پخپله دَ مفاد پرستو او دَ دین سوداګرو تش په نـوم مـلیـانـو او دَ زهـریـله عقائدو حامل شیطان صفتو مشرکو پیرانو په رحم وکرم باندے پریخودلو سره پوره کړو۔

دَ شریعت بهترین نظام زندګی مونږ هغوی ته حواله کړے دے، چا چه دَ نبی کریم ﷺ اصل طور طریقے زمونږ دَ سترګو نه پناه کړے او داسے عـقـائد او عبادات ئے دَ مسلمانانو معاشره کښے مروج کړل چه پـه ظاهره دَ غیرو او مسلمانانو په مینځ کښے شرکیه عقائدو ، عباداتو ، شـکـل او صـورت ، عـاداتـو ، رسم ورواج او دَ کـلـچر څـه خاص فرق نـه مـحسـوسیږی۔ مسلمان له خو خپل پهچان او شناخت دَ عالمِ اسلام یو نمائنده په طور برقرار ساتل وو لیکن دوی څه بل طرفته روان شو۔

پـه دے پـو هه شئی چه په اسلامی شریعت کښے دَ عباداتو ډیر اهـم مـقـام دے ۔ دَ نن مسلمان دَ دے وجے هم مړوا‌ے حاله او ښکته والی کښے پـروت دے چـه ده دَ خپـل الله ورکړے شوے ساده غـونـدے دین او دَ مـحـمـد ﷺ اصـل سـنـت طـریـقـه پـریخوده او پخپله ئے پیچیده والے اختیـار کـړے دے ۔ دَ خپـل نبی ﷺ طـرز او طـریـقـو بـاندے عقـائدو ، عباداتـو بـلـکه دَ هغوی غـوندے پوره زندګی خپلولو نه پس مسلمان دَ کـافـرانو په سترګو کښے سترګے اچولے شی او خپل حق وربانـدے منلے

شی ۔ عصری علوم ، جدید ټیکنالوجی دَ نوے دنیا نورو ترقو کښے په نورو خپل طاقت منل او دَ خپل کردار تعین کول بیا هر څه دَ همدے په ذیل کښے راځی ۔ مسلمانان نن ځکه پسمانده دی چه هغوی دَ قرآن احکامات او دَ خپل نبی ﷺ اصل سنت باندے عمل پریخے دے ، حال دا چه دَ یورپ کافرانو او دَ هندوانو تهذیب خپلولو کښے یو منټ هم نه لګوی۔ که چرے داسے وی او یقینا داسے ده چه دَ بدعاتو او رسوماتو تورو وریځو سنت او صحیح دین پټ کړے دے۔ ورسره څه مدا هن قسم خلق خپل ځان عالم ، مصلح او مبلغ ګنړونکی دَ مصلحتونو په نوم باندے چپ ناست دی ۔ نو بل طرفته یو داسے جماعت هم بحمده تعالیٰ موجود دے چه بغیر دَ اشارو کنایو نه په صفا الفاظو کښے دَ حق بیانولو فریضه محض دَ الله دَ رضا دَ پاره په خلقو کښی سر تر سره کوی۔

دَ قرآن پاک دَ رسونو په ذریعه دَ شرکیه عقائدو رد او په محققانه مګر آسان انداز کښے دَ احادیثو مبارکو تعلیم په ذریعه دَ رسول الله ﷺ دَ سنتو او احکامو نه اګاه کونکی دِے جماعت نوم **"اشاعت التوحید والسنت"** دے چا چه څه خوف او خطر په خاطر کښے راوستلو نه بغیر دَ هر منبر او محراب نه دَ الله مطلوب توحید او دَ سنت رسول الله ﷺ بے باکه بیان کړے او دَ دے په تقابل کښی دَ شرک او بدعت تردید ئے په ډیر جرأت او زړهٔ ورتیا سره کړے دے۔

دَ دے ټولو حالاتو تر مخه دین اسلام او سنت رسول الله ﷺ او صحابه کرامو رضی الله عنهم دَ پاره درد لرونکو او خپل ځان دَ نبی کریم ﷺ په خلفاؤ او فرمان بردارو امتیانو کښے دَ شاملیدو خواهش لرونکو دَ پاره ضروری

دی چه میدان ته اوځی دَ سنت نبوی ﷺ جهنډا په لاس کښې اخستلو سره دَ بدعاتو او رسوماتو خلاف جهاد اوکړی او دَ دے عظیم کار دَ پاره دَ حق پرستو ملګرتیا اوکړی۔

الله تعالیٰ دے مونږ ته دَ نبی کریم ﷺ او صحابه کرامو او سلفو صالحینو په سنت طریقے باندے دَ عمل کولو توفیق رانصیب کړی او مونږه دے دَ خپل الهامی کتاب مطلوب صحیح مؤحد ، دَ محمد ﷺ متبع سنت مسلمانان او حقیقی امتیان جوړ کړی ۔

آمین ثم آمین

وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العلمين ۔ اللهم تقبل منا هذا بقول حسن ۔ آمين

ابو معاویه مفتی محمد ایاز درانی پشاوری

٤ صفر ١٤١٩ھ، جون ١٩٩٨ء

ترمیم و اضافه: جون ٢٠٠٧ء ، ربیع الاول ١٤٢٨ھ

پشتو ترجمه بدست قاری فضل کریم عارفؔ

بتاریخ ١٦ جمادی الاول ١٤٣٠ھ ، ١٢ مئی ٢٠٠٩ء

☆☆☆